


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

پیل کؤم په نامه د الله چي رحمان اؤ رحیم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



HPC2012/315
NÈNZÁK
(Ardhanarishwara)
Hayat Roghaani
Wardaga, Charsadda
Pakhtoonkhwa, Pakistan
http://www.facebook.com/roghanivision

# نېنځک ناول

**ARDHANARISHWARA**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ کتاب ټول واکونه لیکوال سره خوندي دي


| | |
|---|---|
| کتاب | ښنځک (اردهنار ښوارا) |
| لیکوال | حیات روغانے |
| تدوین | علي بابا/ فضل حکیم عندلیب |
| کمپوزنګ | داؤد ساګر |
| مخپاڼه | داؤد ساګر |
| وړومبے چاپ | اګست 2012 |
| خپرووںکے | عربستان پښتو ادبي ټرون الریاض سعودي عرب |
| | حمنیٰ پبلیکیشنز چارسده 0092 300 933 9128 |
| شمېر | 1000 |
| بیعه | 100 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښتځک اؤ د هغۀ ژوند سره تړلي تول

**سپيناوے** کردارونه اؤ ليکلي شوې پېښې د يؤ خيال زېږون دے. دَ دغه کردارونو د څۀ ژوندي يا مړ کردار د نوم، استوګنځاے، ځاندرې، خبرو يا کړو وړو سره سمون به هېڅ ډول کُرکژن هوډ باندې اډانه نۀ وي.

دې قېصه کښې څۀ خبرې اؤ پېښې په


**يادګيرنه** ابغه نښغه اؤ تر څۀ حده لُوڅه ژبه کښې اؤرولې شوې دي. بايد چې ځلموټي اؤ پېغلوټې ئې لوستلو نه ښنډه ؤکړي.


# تړون


د هغه وړومبي ښځونک په نوم، چې د هغۀ د پېدايښت په تُرخ کښې د هغۀ خداے له پېغور ورکړے شو اؤ هغۀ دغه پېغور په خپل ځان بې د څۀ زُباد اؤ ګيلې واخستو.


(c) ketabton.com: The Digital Library







## دَ لیکوال اثار

| | | |
|---|---|---|
| شاعري | دَ لېونتوب سندره ........................ | خپور شوے |
| شاعري | باور ........................................... | خپور شوے |
| نثري لیکنې | حیاتونه .................................... | خپور شوے |
| ژباړه | پښتون (دَ غني خان د کتاب) ..................... | خپور شوے |
| ناول | نښځک .......................................... | دا کتاب |
| ژباړه | البشتون (عربۍ ژبه کښې د غني خان د کتاب).. ......... | خپرېدونکے |
| نثري لیکنې | حیاتونه ۲ ...................................... | په لاره |
| نثري لیکنې | اسلام اؤ قام پرستي .......................... | په لاره |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| الف | در معرفت "نېنځک"..... | حيات روغانے |
| ج | ښځه، سړے، جينۍ اؤ هلک | فضل عندليب |
| ز | وَخَلَقْنَاکُمْ اَزْوَاجاً | شېربهادرافتاب |
| 1 | شپېه وړومبې | |
| 12 | شپېه دوېمه | |
| 37 | شپېه درېمه | |
| 48 | شپېه څلورمه | |
| 67 | شپېه پنځمه | |
| 81 | شپېه شپږمه | |
| 94 | شپېه اوومه | |
| 106 | شپېه اتمه | |
| 129 | شپېه نهمه | |
| 154 | شپېه پائيزه | |
| أ | ..... توضيحات اؤ رڼاوي | |
| ك | ..... د کردارونو نومونه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# در معرفت "نښنځک"......

نښنځک يؤ خيال نۀ، بلکې زمونږ دَ ژوند يؤ ډېر ستغ اؤ تريخ ريښتيا ؤ. هغه به څو ځله راغلو اؤ ما ته به مخامخ کښېناستلو. خپلې ګيلې به ئې ؤکړې اؤ څۀ پېغورونه به ئې هم راکړل. ما لکه دَ اولس چرې هم هغۀ پسې ملنډې اؤ پچموزې نۀ وې کړې، ځکه ئې ترمې بوغمې زړۀ په ما اوبۀ څښکلې.

هغه ډېره وېنا نۀ کوي، بيا هم څۀ مُوده اګاهو دَ هغۀ خبرو زۀ ؤبورېنولم. هر څو کۀ زما اوښکې دَ هغۀ اوښکو سره بدرګه نۀ شوې ..... ځکه چې زۀ اوښکې ښې نۀ ګڼم (هغه دَ بې وسۍ وي، کۀ دَ زړۀ سواندی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هغهٔ ځان کښې هغه وخت هم څهٔ کار نهٔ ؤ، کله چې هغه زېږېدلو اؤ هغه وخت هم دَ هغهٔ هېڅ لاس بر نهٔ ؤ، کله چې هغه دَ نیمګړي شتُون پوهې په وړومبي ځل ؤلړزولو. نړۍ په هر ګام دَ هغهٔ ځاندرې، دننه ښکلا اؤ درناوي ته په ښیرنو سترګو کتلي وو، هغهٔ په هر ګام ځان دَ مرۍ نه نیولے ؤ اؤ هره ساه ئې دَ اولس له خوا دَ دهٔ په پېدایښت دَ دهٔ خدا ے له ورکړے پېغور پخپل سر اخستے ؤ. دَ هغهٔ په سترګو کښې بې وسه اوښکې چپه وهلې وه اؤ دَ هغهٔ په شونډو دَ بې وزلۍ نړۍ موسکا یؤ داسې خیال زېږولے ؤ، چې دَ نړۍ دَ هر انځورګر فن دَ دغه انځور روغولو ته پړ اؤ ملامته ولاړ ؤ. انسانیت به تل دهٔ څخه دَ دهٔ دَ برخې، پېژندګلو اؤ لوړتیا تروړلو تور پخپله لمن لري. مونږ دلته دَ کفارې یوه هڅه په دې نیت کوو، چې کهٔ راتلونکي کښې دغه تور له خپلې لمن ؤوینځلے شو، کوم وینځل چې دَ ټولنې رویه کښې بدلون غواړي. کهٔ هغه ژوندے وي (کهٔ ژوندے نهٔ وي، نو دَ مابتۍ په دعا تاسو هم امین وایئ) اؤ ستاسو مخې له درشي، نو دَ هغه نازولي سپکاوے مهٔ کوئ، ځکه چې هغه په یوه ډېره نیازبینه ځاندره کښې یؤ ډېر سپېځلے روح (سا) دے اؤ خدا ے ته ډېر ګران دے. هغه په ما څو ځله حضور شوے دے، دَ خپل ژوند قیصه ئې را ته تېره کړې ده اؤ دَ خپلو سترګو په رڼا ئې ما ته دَ ژوند زېري راکړي دي. زهٔ دَ ټولې نړۍ نه غوښتنه کؤم، چې دَ ځیرک خېل ته دې دَ هغوي پېژندګلو، ځا ے اؤ برخه ورکړے شي.

حیات روغانے

وردګه، اشنغر (پښتونخوا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه، سړے، جینۍ اؤ هلک.....

ټول مذهبونه اؤ نړیوالې ټولنې ښځې له د مور، مېرمن، خور، لور، نیا، ترور، ورندار اؤ تندار په شکل کښې اؤ سړي (نر) له د پلار، مېړۀ، ورور، ځوي، نیکۀ په شکل کښې حقونه ورکوي اؤ د حقونو نۀ ورکولو سزاګانې هم ښائي. عدالتونه اؤ شرعي قاضیان د مودو نه د قوانینو تشریح کوي اؤ پرېکړې کوي. خو تاسو چرته فکر کړے دے، چې د نړۍ په مخ یؤ بل مخلوق هم شته، چې وجود، خوي اؤ خواهشونه لري..... انسانان دي اؤ دا خبره د روغاني صېب په "نېنځک" اؤ هم په نورو لیکنو کښې ښکاره ده، چې د درېم جنس پېدا ښېنت فطري هم دغسې وي اؤ دا چې دې لسیزې نه علاوه، چې دوي پکښې د نړۍ ښځو اؤ سړو نه څۀ حقونه ؤګټل، نوره بېخي د دې مخلوق د حقونو په حقله خاموشي خوره ده، کۀ دوي په نړۍ کښې د ژوند کولو حق نۀ لري، نو بیا خداے پاک زېږول د څۀ د پاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګران ورور حیات روغاني "نېنځک" مې ؤلوستلو. سترګې مې رڼا شوې. د "ځیرک خان" نه "زرکه" ځنګه جوړه شوه. د لوستلو سره لوستونکي ته دا حقیقت په ډاګه کیږي، چې "ځیرک خان" پېدائشي د درېم جنس ؤ اؤ ظالمې انساني ټولنې د هغهٔ نه زرکه جوړه کړه. دې ظالم انساني چاپېرچل د خپلو جنسي خواهشونو پوره کولو اؤ ځانونه د پېغور نه ژغورلو د پاره د "ځیرک خان" سره څهٔ ؤ نهٔ کړل؟

د روغاني صېب "نېنځک" چې لولم، نو بیخي را ته محسوسیږي، چې روغاني صېب لکه د "ځیرک خان" په زړهٔ کښې ناست وي. "ځیرک خان" څهٔ غوښتل اؤ څهٔ ورسره کېدل، روغاني ورور بیخي په داسې بڼه لیکلي دي، چې روغاني صېب دې خفه کیږي نهٔ، خو ما ته داسې محسوس شوه، لکه دا کتاب چې "ځیرک خان" یا "زرکې" پخپله لیکلے وي. د وړومبي سر نه تر اخیري سره د "ځیرک خان" قېصه په داسې زړهٔ راښکونکي کلیوال انداز کښې لیکلې شوې، چې حېران شوم ورته. زهٔ چې کله ښېرې اؤرم، نو خلق وائي، "غرق شې!"، "رب دې برباد کړه!"، خو دلته روغاني ورور یوه ښېره لیکلې، کهٔ رواج شوه، نو له دعا کمه نهٔ ده، یعنې "په دوزخ پسې ړنده شې!". بیا په یؤ بل ځائے کښې یوه متل نما خبره ده، چې داسې کار ؤ نهٔ کړې، نو "میرې دربانديې اړمیږي". پښتنائهٔ کلتوري رنګونه د دې کتاب له ټکي ټکي ځاځي. لکه د "ځیرک" یا "زرکې" د زېږېدلو د پاره هغه کلیوالې کورنۍ خبرې ټولې لیکلې شوې دي، چې په پښتنه ټولنه کښې چې د چا اولادونه نهٔ وي اؤ دیسي علاج کوي..... د مُلا ځاښتونه، د باباګانو په قبرونو پورې چیرړۍ تړل، تعویزونه تړل، ځانګو بابا ته تګ، د لوي ځوان په نوم منښتې، د کلي ډانکټرګۍ اؤ بیا د حکیم صېب پوښۍ اؤ بیا د "ځیرک" د زېږېدو په وخت د کلي د نایښې "مشکۍ" رول اؤ بیا د هغه کوټې بیخي داسې منظرکشي چې لوستونکي ته محسوسیږي، چې لکه دغه کوټه کښې موجود وي. لکه ورندار ماشوم تې ته اچولے دے، په مخامخ نغرو غبرګې پتیلې پرې دي، مشکۍ موجوده ده اؤ ټول ډاډه دي، ځکه چې د دې کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر خلق د دې په لاسونو کښې زېږېدلي دي او بيا د ژړا غږ او دغه غږ سره د بانګ غږ د "ځيرک خان" زېږون له يو سپېځلې ترون ورکوي. بيا لکه څنګه چې پښتانۀ د خپل ماشوم د زېږېدلو نه وروستو کور ته په ورتګ شرمېږي، د "ځيرک خان" د پلار ناموس خان دغه ادا ئې هم نۀ ده پرېښې. د کليوال ژوند نور عکسونه لکه "د نمر سترګه داغل"، په اخترونو کښې قبرونه لېو کول، سپيلني لوګے کول، په تاخونو کښې په پرتو قرانونو دوړې، جومات ته د وريژو غورې لېږل او بيا د "ځيرک خان" ښځونک عادتونه لکه چيندرو (ګواټا)، ميرګاټې، کوډکۍ، د ګوډيانو وادۀ، پټپټونې، شلغاتې، ناوې ناوک او بل يو ښکلے نوم چې ما په خپله په ورومبي ځل واورېدو "کارړه". روغانے ورور را ته بيخي سوچه کليوال سړے ؤبرېښېدلو.

د "ځيرک خان" د ژوند بدې ورځې ئې داسې په فني جادوګرۍ څېړلې دي، چې د پښتون ځلمي د ژوند محروميانې ترې په ډاګه کېږي او د سياسي خطا ځېلې ورته د پيرنګي د وړې ؤچې ته راتګ او بيا د خپل واک د پاره د هند اولس په مذهبي جنون اړول او ټولټاکنې کښې داسې کول، چې هندو به هندو له ووټ (رائې) ورکوي او مسلمان مسلمان له او بيا له يو بله کرکه تر دې برېده رسېدل، چې د هند وېش او کړې ئې دغه ځاے ته رسول، چې د سرمائې د نظام په کليوال ژوند داسې اغيزې چې خپل پتي پکښې لوږې ټوکوي او د ناموس خان رينښتيا چې کالوسر ګوډ او اوبۀ خورې کول خو بيا ګوره منډۍ ته وړل او د سرمايه دارو د اړتيانو ښکار کېدل او بيا هغه فني ربط او ټچ چې قدوس خان خپلې مور ته وائي، چې کۀ دا ځل فصل ښۀ ؤشو، نو د کور د ډنډې اړخ ته دېوال به د خښتو جوړوو. دېوال خو جوړ نۀ شو، خو هم دغه د کوټې دېوال په اوږده ژړۍ کښې په دوي راپرېوځي او "ځيرک خان" په معجزانه توګه ژوندے پاتې شي او پلار او مور ئې مړۀ شي او د "ځيرک خان" د فطري ښځک ثابتولو د پاره د هغۀ د پلار ناموس خان ښځونک خويونه، لکه د شپې به ئې د ښځې (قمرو) کميس اغوستو، ټولې هغه خبرې دي، چې د دريم جنس د خدائي زېږېدلو انسانانو هغه پټ اړخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، چې پښتنو ته په پښتو ژبه کښې په ورومبي ځل د "نښځک" په شکل کښې ښاغلي حیات روغاني وړاندې کړل. زۀ په داسې موضوع اؤ د انسانانو په داسې ډله چې خپلوانو ته ئې په خپلوۍ ځانونه بد ښکاري، داسې کتاب لیکل اؤ تحقیق کول د یؤ انسان په توګه ستر خدمت ګڼم اؤ د انسانیت په دړدونو دړدېدونکي انسانانو ته ئې ستره اؤ ارزښتناکه ډالۍ ګڼم.

په درناوي
فضل حکیم عندلیب
تالاش (دیر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجاً

د انساني تخليق په لړ کښې يؤ سوال زۀ همېشه ډېرې بې ترسې سره سکونډلے يم اؤ هغه د "دريم جنس" په تخليق کښې د الله پاک قصد دے. دغه جنس زما په خيال کښې د دنيا په مخ ټولو نه بې ازاره صنف دے اؤ چې څومره بې ازاره دے، هم دومره ئې استحصال کېږي. ما چې دا موضوع ؤلوستله، نو حيات ته مې ؤوې، چې ستا په دې "نېنځکانو" کښې زما په خيال دا يوه خبره هم (کۀ الله ؤغواړي) د دوي د بخښنې لاره کېدې شي، چې دوي سحر سترګې غړوي، نو دعا کوي، "خدايه! هر چا کره ښادي غواړو" اؤ څوک چې د هر چا کره ښادي غواړي، هغۀ نه بې ازاره کۀ څوک مني اؤ کۀ نۀ مني، خو زۀ ئې نۀ منم. مونږ دغه صنف له د هغوي د دومره مينې اؤ بې ازارۍ په عوض کښې بغېر د نفرت نه څۀ ورکړل؟ معاشره چې دغه خلقو ته په کوم نظر ګوري، ايا کۀ مونږ ته څوک داسې نظر ؤکړي، نو په مونږ به څۀ تېرېږي؟ بيا هم د مينې دغه خلق نفرت نۀ کوي. هغوي زمونږ په سترګو کښې ملنډه اؤ سپک نظر پېژني، بيا هم نفرت نۀ کوي.

زما اؤ حيات منځ کښې د ورورولۍ رشته ده اؤ مونږ د دې رشتې بنياد په مينه اؤ لېونتوب ايښے دے. د مينې پورې لېونتوب اؤ لېونتوب پورې مينه. د حيات د قلم ژبه ځان له اواز اؤ اسلوب لري. دغه اسلوب پسې شا ته د هغۀ جرأت اؤ د نوؤ موضوعاتو لټون دے. ما دا ټوله قيصه لوستلې ده اؤ داسې مې ګڼلي، چې زما د سترګو وړاندې هر څۀ کېږي. د ناموس خان کره د ځيرک خان پيدا کېدل اؤ بيا د ځيرک خان "زرکه" کېدل اؤ بيا د قيصې پايه پورې د پنځۀ ځلوېښت نه تر پنځوسو کلونو دې قيصه لوستلو باندې ما ته خپل ځان سپين ږيرے اؤ خپله مينه ځوانه ښکاري.

په ټوله پښتنه مينه
شېربهادرافتاب
کيماړۍ (کراچۍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړومبۍ شپېه

يا خو هغه ورځې وې، چې پخليځاے ؤ كۀ انګڼ، غوجل ؤ كۀ مْنا، خو قمرو خْواره پرې پْړه وه اؤ يا دا ورځې دي، چې كۀ چرګې ته په زوره كشې وائي، نو هم پْرې مشره مور چغه كوي،

"يه قمرو! اوس چرګې دې څۀ د مور د پلار د نيكۀ ورشې خْوري، چې "كشې كشې" دې راخستې دي. دوزخ پسې ړنده شې، په قلاره دربا ندې ميږې اړميږې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



اؤ قمرو خواره رو غوندې خپلې سترګې په زمکه خملوي. ښکلې لکه د نور کله ورندار ته د دوارو وروځو په رق اؤ يؤ وښکي ټپکي ورکړي.
د جوغړۍ مُلا ځاښتونه وو، کۀ د سپدانو باچا شنه چيرړۍ کښې په سپين تار تړلي تعويزونه.....په ځانګوبابا کښې ځوړندې شوې ځانګوګانې وې، کۀ د لوي ځوان په نوم ورکړې شوې منښتې.....
د بمبل حکيم پوښۍ وې، کۀ د ډانکټرې خور ښونې اؤ دوايانې؟
هر څۀ چې وو، خو په يوولسم کال د قمرو پښه دړنه شوې وه.
انګڼ کښې کټ کښې قمرو د وړوکې د پاره ښېڼ ښهلو. د کټ په پيارمه ښکلې په کاربږه د پرتوغاښ تارونه نخول اؤ ورندار کټ کښې يوه پښه کوتټي کړې بله ښکته ځوړنده کړې د بينګلو نه ټوپۍ اؤ لکۍ غوڅولو کښې بوخته وه.
"پتنوس دې خدا ے په خبر کړي، دا د بينګلو ورځې دي؟ (تند ے لږ بوټ کړي) خدا ے زده کومې بنګا نه ئې راوړې دي؟ نيمې نه زياتې خو کبجې اؤ چينجنې دي. (سا واخلي) يره هلکه خو!"
قمرو څۀ خيال د ګوتې نه نيولې وه، د ښېڼ سيخونه يؤ بل ته غاړه وتلي په ځا ے ولاړ وو. د هغې سترګو کښې يوه ډېره نيازبينه موسکا نخښېدله اؤ دغې موسکا سره د هغې دوارو شونډو کښې نر ے غوندې رؤ شو ے ؤ. دغه رؤ سره د هغې خپلمه غاښ داسې ښکارېدل، لکه د لرګي د تمبې وړوکې غوندې چؤدي کښې چې د رڼا وړانګه په زور ځان ټومبي.
"قمرو! په زمکه څۀ ستوري لټوې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښکلې تپوس قمرو ؤسکونډله اؤ هغې يؤ ځل نيمې شېبې له ښکلې ته اؤ بيا ئې سترګې تُوندې وُرندار پله واړولې. د هغې مُوسکو سترګو ليدلو سره ئې نظر د ولاړو سيخونو اړخ ته په ډډه واړولو،

"هسـ سـ سې".....

"دا هسې به داسې وي، نو؟"

د ښکلې سترګې اؤ په کاربړه ګوتې تُوندې اؤ ژبه تېره ده، نوره پرې هر وخت خپسه ناسته وي.

"يه قمرو! دا ځان دې څۀ کاکې کړے دے؟ چې ښځه ئې، نو يوه ورځ به دا ګېډے در په ګېډه کېدۀ".

د ښکلې خبره رېښتيا وه. قمرو به زړۀ خامخا خُوړو. په يوولسم کال راغلې زيرې ته ئې اؤکر بې ځايه وو. هغه په زېږون وېرېدله، خو زېږے په وېره زورور ؤ. دغه زيرې د هغې د ناموس خان سترګې روښانه کړې وې. بيا هم دا وئيلے شو، چې ښکلې نه يؤ تېر شوے ؤ. قمرو دغه وخت ځان د مور نُيازبين انځور کښې ليدلو. په وُړنې کښې د نُغښتې نازولې ماشوم پستې شونډې د هغې په تې پسې نُخښتې وې اؤ دغې احساس د هغې سترګو کښې نُيازبينه مُوسکا نخوله.

"تنکۍ نۀ ئې. دې وخت کښې ښځې ته لنګون څۀ وي؟ دا ده چې، مشرې مور نه ځان ساته! هسې نۀ په ګُورېدو ګُورېدو دې بې وختـه....".

د تندار ښونې ته د ور کُړپ په خُلۀ لاس کېښودو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما له کاکا (ماته شوې سا) شنشني (دوه ماتې سا ګانې) اؤ مم لاؤلل".

د میرګاتي سا مور له په راتلو راتلو کبنې ماته شوې وه،

"کاکا!!!!!"

يؤ کړينګې غږ ؤشو اؤ بيا لکه د مستې سُخوندرې په تهپونو اؤ دړينجقونو مابتۍ ورته رسېدلې وه.

(میرګاتي يؤ لاس د ښکلې پښو نه تؤ کړے ؤ اؤ په بل لاس ئې هغې ته شنښنې پسخوۀ، خو د ښکلې سترګې د ناموس په لاس کبنې نيولې غوتې پسې نُخښتې وې).

مېلې ته قدوس لالا اؤ پانوس هم ځي، خو د کور د لويو وړو په خُوښه يؤ ناموس خان پوهه دے. میرګاتي له پلار هم چرته څۀ راخستي نۀ دي، خو ناموس خان چې کله هم کور ته راځي، نو د تْرخ جېب کبنې ئې دۀ له څۀ نا څۀ راخستي وي..... (دا بېله خبره ده، چې څۀ نا څۀ په بدِه هم راؤړي، خو دغه قمرو د پاره وي).

ښکلې پخپل ځُوي میرګاتے نوم پخپله اينښے دے اؤ تهول کور ورته هم دغه نوم وائي، خو يؤ ناموس خان اؤ مشره مور ورته په ډکه خُلۀ فردوس خان وائي.

د "کاکا" کړينګي غږ سره چې مابتۍ په دړينجقونو شوې وه، نو د مشرې مور غړمب سره ئې خپلې واګې راښکلې.

"په رو يه دُوکبيانې! په رو! دوزخ پسې ړنده شې! اوس به دې لينګي سرۀ شي. بيا به ستا د پاره څۀ قران په سر ګرځوم؟ ور له مۀ ځه سخاپتې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ؤدرېږه! چې بمبته دې کړي" (ښکلې وړومبۍ لړه پېکه شوې وه، بیا قمرو په ځنګل تېلوهي، څوک چې د دې خبرې اؤرېدو سره د خپلې کوټې په لور روانه شوې وه).

ناموس خان میرګاټي له شنشنې سره ځلوبۍ هم راوړې وې، چې لکه د بنجارې ئې غوټه راؤسپړدله، نو وړومبې ترې مابتۍ د پاره نوي ټوکې راووتل. مابتۍ ټک سره دغې ته لاس کړو اؤ وُرندار اؤ ښکلې ته ئې سُتائنې د پاره وړاندې کړل.

"لېونۍ کېږه ورته مۀ! دومره خُوند ئې نشته".

دا خبره ښکلې هسې د مابتۍ سُکونډلو د پاره ؤکړه، ګنې نور خو ناموس خان د ښځو په خُوښه اؤ رنګونو دومره پوهېږي، چې د کلي جُونې د مابتۍ د پاره د ناموس راوړي رنګونه د خپلو مېندو نه غواړي.

مشرې مور د پاره تود څادر، سپیاکو تپلو د پاره لاسپېلي، فردوس خان د پاره رېؤړۍ، ښېن اؤ جورابو سره رمبې، چاریګي، ګاؤڼې، قولبې د پاره کُوري، رنګولېټ اؤ دغسې نور ډېر څۀ.

"قمرو له دې څۀ تود څادر یا اغوستن راوړي دي؟"

مشرې مور ناموس خان ؤپوښتلو اؤ هغه ځواب ته غلې پاتې شو.

"په دوزخ پسې ړوند شې! زما څادرې لږې دي؟ یا د دغه پاراموځۍ جامې لږې دي، چې ځان دې ښۀ سړے کړے دے؟ هغه تؤده ساتل غواړي".

ښه ده، چې مُلا اللهُ اکبر کړو. کۀ بانګ نۀ ؤ شوے، نو هم ناموس څۀ وئیلي نۀ شو. غلے به ناست ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانګ سره ناموس خان جومات ته روان شو اؤ پانوس "جاسوسي ډائجسټ" لاس کښې د يؤ ګُټ نه نيولے کور ته ننوتلو.

"خبر نائېکه!"

په ور کښې پانوس په ناموس ټک ؤکړو.

"جومات ته راځه!"

لاس ورکولو سره ناموس ؤوې.

"د جومات ورته مۀ وايه! ګډه ده. اوبو نه وېرېږي. يؤ دا بېلماځه دے اؤ يوه ئې هغه بدري جماله".

دې نه اګاهو چې مشرې مور بېلماځۍ کښې پانوس سره ښکلې ملګرې کړې وه، هغې ترې خبره ؤتروړله،

"مورې! دۀ سره لړه ناراسته شوم. د پلار په کور ښه چټک ؤم. دا دې پوهه کړے نۀ دے".

"دوزخ پسې ړنده شې ښکلې! ؤچه لخته ئې، وندنے درنه نۀ کيږي. تۀ اؤ دغه پتنوس يوه شاډوله يئ، ګډېږئ شا په شا، خو پرق له يؤ ځاے کيږئ".

مشره مور د ښکلې سره ډېره ګوزاره کوي. هغه پوهه ده، چې ښکلې د ژبې نه لړه خلاصه ده، نوره بده نۀ ده. خپله ورېره ئې ده. ښکلې ډېره په منتونو پانوس خپله کړې ده. بلقيس، مشره نږور ئې خُورځه ده اؤ قمرو ئې هم خُورځه ؤګڼه، ځکه چې د ترُورځۍ لُور ئې ده. قمرو له خُداے ډېر ښائست ورکړے ؤ اؤ دغه ښائست سره ئې خُوي هم داسې ؤ، چې د مشرې مور خپلو نږوريانو کښې دغه د سترګو يخ اؤ د زړۀ ټکور وه. کله کله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرې مور د ناموس خان کړۀ وړۀ هېر کړل اؤ په دې به ئې خپل زړۀ ؤغولوۀ، چې د قمرو ښکلا د بدو سترګو لاندې شوې ده، ځکه ئې غېرت ښېرازه نۀ شوه (دا خبره کۀ هر څو هغې هم پخپله نۀ منله، ولې بيا هم ځان له دلاسې د پاره بده نۀ وه). د قدوس د٘وي پلار چې مړ شو، نو قدوس خان به د دٰيارلس کلونو ؤ. ناموس پسې پنځۀ کاله وروستو شوے ؤ. پانوس اؤ ګُلې غٰبرګوني وو. دغه وخت خُوباني ايله د څلوېښتې نه ډډې نمانځې کړې وې، چې د سٰتړې ژوند اُوږد مزل ته يوازې شوه.

د مشرې مور يکې يؤ ورور نمېرګل ؤ. ښکلې هم د هغۀ لُور وه. نمېرګل د خور کوړمه ځان پورې ؤنيوله. قدوس به ورسره کښېتونو کښې سر خٰوځوۀ. ډېر تُوند اؤ ځيرک ؤ. ناموس به يؤ اړخ ته غلے ناست ؤ. نۀ خبرې نۀ وٰړاني. ټول اولس نمېرګل ته په دٰرنه سترګه کتل. مشره مور دا مشره مور نۀ وه. خوبانه نوم ئې پرې هسې اېښودلو شۀ؟ دنګه ځٰواني، ډکه ځاندره اؤ رڼې سترګې. اوس ئې د زوړ مخ کٰوتونه ډېر ژور شوي دي اؤ چُوچنو سترګو کښې ئې پېغلتوب سا ورکړې ده، خو دغه سترګو نه ژوند اؤ ځلا سٰپينو وېښتو هم وړې نۀ دي. د ورور نوم اؤ ننګ (چې کومه معنا پښتنه ټولنه کښې کېږي) د مشرې مور پېغلې جذبې د پښو لاندې کړې. کۀ څوک خبر نۀ وو، چې د هغې مشر ځوے د دیارلس کلونو دے، نو چا به هم نۀ وئيل، چې وادۀ شوې ده. د شپې چې به کله کله جالُوس خان ورياد شولو، نو ځان نه به ئې غېرت تؤ کړه. د پېغلتوب د غوښتنو اور به ئې د زٰغم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسوېلو کنبې باد کړو. پانوس یا ګُلۍ به ئې سینه پورې جوخت کړل اؤ ؤ به ئې وې،

"الله مې دې پردې ؤساتي!"

د خاوند په مړینه هغه کونډه شوې وه، خو د نمبرګل په مرګ یتیمه شوه. نمبرګل د خپلې خور کورمې ته ځان په مجمر اینبے ؤ. نمبر چې ټول ؤسوزېدۀ، نو د قدوس دوي د نېستۍ بُیاسته شلېدلې وه. اوس هغه پنځۀ شُپېتۀ جیربه په ایجاره ساتي. د خپل کور ښبتن دے. داسې ایجاره، چې سمه خاني ده. دا ځل خو ئې ځان له ټېکټر هم واخستو. اوس ئې متور ګرځوي اؤ کله کله پُرې پانوس هم مټ ګوري.

"دا ځل چې تماکو ؤشي، نو د خبره سره د ډنډې د خُوا دېوال به سراسر د ښبتو کوو. کوټو له به اډانه ورکړو اؤ"

"کوټې به هم پخې کړې".

د قدوس خبره مشرې مور په نیمه کنبې ؤوهله.

"مورې! خُدائے دې ؤکړي، چې دومره ښۀ نرخونه وي. د ښار بېپاریان خو بښیاخېل دي. ټول کال په کرونده، ګوډ اؤ اوبۀ خُور مونږ مړۀ شو اؤ په رېبلو ئې هغوي ماړۀ شي".

قمرو فردوس خان ته خپله کوټه کنبې قبصه کوي،

"یؤ چتے ؤ، یؤ پتے ؤ، د نانې ګنګتے ؤ، په خَټه کنبې نُښبتے ؤ. یوه ورځ چتې ؤوې"......

"چتے پتے پُرېږده مور چاچي! ما ته د سُرې بیزې قبصه ؤکړه!"

مابتۍ سره د راتلو د قمرو نه خبره واخستله اؤ اوس به قمرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارومرو د سږې بېزې قبصه کوي، ګنې بيا وروستو مابتې د ميرګاتې غوږونه راکاږي.

چغمتې لا ورکې دې، خو د اوس نه په ولاړه ميتيازې کوي اؤ ثوک ورته څۀ وئيلې نۀ شي. د هغۀ پلار اوس هم ټوپک په اوږه ګرځوي اؤ دغه ټوپک د پاره تر اوسه پورې د چغمتې اوږه ډېره اُومه ده، خو په بله اوږه به څوند هم نۀ کوي. د چغمتې پلار نۀ چا ته سر ټيټې وړې دې اؤ نۀ ئې د چا لُوارِ غږ ته غاړه ښکته کړې ده. دغه هسکې غړې هغۀ ته ټوپک په غاړه کړلو. ټوپک لا دومره ډرونډ شوې نۀ دې، چې د هغۀ هسکه غړې کږه کړي. کله کله چې مابنام کښې د نغري په غاړه د هغۀ مشره لور په ډکې مړۀ سکارۀ بيا ژوندي کوي، نو هغۀ کښې هم ثو سپرغې ويښې شي اؤ هغۀ ته د خپلې پېغلې موسکې سترګې څېلمه شي اؤ هم دغه شپبو کښې د هغې په وينو لمبېدلې ځاندره پام کښې راتلو سره هغه ؤشوشېږي. چغمتې هغه وخت خرپوسې کولې.

کله چې مشرې مور مابتې ته وئيلې وو،

"...... بيا به ستا د پاره څۀ قران په سر ګرځوم؟"

نو دغه وخت ښکلې لږه پيکه شوې وه. پښتنو کښې ډېرې خبرې داسې دي، چې هغه په پوهه اډانه نۀ لري، خو اؤرېدلې خبره وي اؤ بيا هم هغه د ريښتيا منلو سره په اوچته موره کېږدي اؤ خپل ئې کړي. د پېغلتوب يؤ پيلام دوي د پېغلې هغه وينه منلې ده، کومه چې ترې د وادۀ په وړومبې شپه ؤځي (اؤ دوي ورته "پړده" وائي). د ښکلې دغه پړده په څۀ ډول شلېدلې وه اؤ پانوس خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سحر د کوټې نه ووتلو، نو سترګې ئې سرې نیولې وې. هغهٔ خو دُرې کانې هم څنډل، خو د خپل ماما نمبرګل ډېر ښهٔ اؤ د خپلې مور سپارښتنې ورته ؤدرېدلې. یوې مُیاشت پورې پانوس خان د ښکلې سره ډډه شوے نهٔ ؤ. بیا دا ؤشو، چې د ښکلې مور په قران لاس کېښودلو اؤ ښکلې هم دغه خبره نیولې وه،

"زهٔ پرته ؤم. ځان له مې لاس یؤړلو اؤ خُوند ئې راکړو. بیا چې لږ وخت وُروستو زما لاس لوند غوندې شو، نو ؤوېرېدم، ځکه چې په لاس مې توربښن د وینې غوندې رنګ ؤ. مړڅپنې ته مې ؤوې، نو هغې وې چې، "بیا داسې ؤ نهٔ کړې اؤ دغه هېڅ خبره نهٔ ده" اؤ په الله مې دې قسم وي، کهٔ بیا مې دغسې کړې وي. ما دې پیربابا ؤوهي، کهٔ بیا مې کړي وي".

د ښکلې خبرې نه زیات زور د ښکلې د مور قسم کښې ؤ (ځکه چې پښتانهٔ په خپلو سترګو لیدلو نه هم اؤړي، کهٔ څوک ورته په دې قران ؤخوري، چې ستا لیدل تېر کېدے شي). هر څو کهٔ سائنس څرګند کړې دي، چې دغه پړده ډېره نرۍ وي اؤ ځنې وخت څهٔ تهوپ، دُروند پېټي پورته کولو یا په زوره غږ کولو سره هم شلېدلے شي. باید چې د خُپلوۍ کولو نه اګاهو د کورنۍ پېژندګلو ؤشي اؤ د هغوي نورې خُپلوۍ، ورکړه راکړه، تګ راتګ اؤ د ژوند ژُواک لاره باندې ځان پوهه کړے شي. خُپلوي کول د ژوند پُرېکړه وي، اؤ بیا داسې ملازې اؤ سپارښتنې ژوند سره ملګرې شي، چې کهٔ وګړے (هغه مېرمن وي اؤ کهٔ مېړهٔ) د تړون د غوڅولو بانه ګوري، نو هم ورته تولنه خنډ کېږي، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې پانوس سره شوي وو (دا بېله خبره ده، چې پانوس د لونډۍ د ژوند تولې غلاګانې خپلو بړګو اؤ برندو سترګو کښې رانغښتلې وې اؤ هسې هم کۀ هغۀ ځان نۀ نېغولو، نو د سړي ځورنده باندې نۀ توربښنه وينه وي اؤ نۀ ئې ګېډه کيږي، چې اولس به پرې پړه ؤوائي).

د ژوبل شوې څانګې غېږه کښې د نوې غوټۍ د ټوکېدلو توان د ژوند ټولو نه لويه پېژندګلو ده اؤ د مړاوې شوې څانګې غېږه کښې د غوټۍ ټوکېدل د ژوند ټولو نه لويه ناشونې ده. ناموس خان اؤ قمرو اؤ د ناموس خان اؤ قمرو سره تړون لرونکي د قمرو غېږ کښې د نوي ژوند هرکلي ته لېواله دي. مور د غرمې خوب له لور يا ځوے غواړي اؤ پلار د سپينې ږيرې ملاتړ د پاره. د ژوند په دې پؤړۍ چې ناموس خان پلار شي اؤ قمرو مور شي، نو سپين سر اؤ سپينې ږيرې پورې به ئې څۀ روزنه ؤکړي اؤ څۀ به ئې د ژوند د خنداګانو رنګونه ؤويني؟

بيا هم ژوند د هيلې په اسره سا اخلي.

مرګ د هيلې د نيشتون نامه ده.

د مرګ اؤ ژوند منځ کښې د ورک پړاؤ نوم وګړے دے.

هم دغه وګړے د مرګ اؤ ژوند په پوله ولاړ ريښتيا دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوېمه شپه

د کوټې دننه د لالټين نرۍ رڼا خوره ده. شپې ټول زور خپل ځان کښې رانغښتے دے. قمرو دواړو لاسونو کښې څوا سره جوخت کټ کښې د پروت ناموس خان لاس نيولے دے، چا چې د قمرو کميس اغوستے ؤ.

"اے! چرته ورک شوے ئې؟"

ناموس خان د څۀ خيال د ژورې کندې نه د قمرو خبرې سره راؤوتلو،

"هں!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د خُدا ے شکرونه کوه! دومره مُوده پس دا زېرے په مونږه لويه پېرزو ده. اؤ بله دا چې، زۀ ورته هم ښه تکړه يم. دا تۀ ځان له په څۀ زړۀ خُورې؟".

د ناموس خان پاڅېدلو سره قمرو هم خُوځېدله، خو

"مۀ خُوځه! ـــــ زۀ درغلم".

ناموس خان د هغې په ګس لاس منګول اينښے د هغې شا ته ځملاستلو. هغۀ په هغې خپل غځولي شوي لاس کښې د هغې لاس ونيولو اؤ چې ځنګه ئې په هغې پښه اچوله، هغې خپل لاس د هغۀ پتون ته ونيولو، وئې وئېل،

"په رو نېکبختـه! (موسکۍ ستر ګې ئې هغۀ ته واړولې) اوس دغه څو ورځې دي".

"زۀ هسې هم سبا نه کور ته نۀ راځم. نن شپه به تا سره تېره کړم، بيا به هله راځم چې".

"ولې؟"

"مړې! (هغه لږ سُتنوسُتر شو اؤ دغه خبرو کښې قمرو هغۀ ته مخ ور واړوي) ما ته ځان بدي ښکاري".

قمرو هېڅ ؤ نۀ وئېل. هغه خپل ناموس خان پېژني. دومره ډېره مينه ناموس خان کښې وه، چې کله کله به قمرو ته خپله ځولۍ وړه ؤبرېښېدله.

د کوټې دننه د لاټين نرۍ رڼا خوره ده. شپې ټول زوُر خُپل ځان کښې رانغښتے دے. قمرو غېږه کښې ناموس خان ځان پورې جوخت نيولے دے. دومره ده چې، د کوټې دغه چپيا کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي خوړېږي اؤ نیازبینې کوکې کله کله سا اخلي.
مشکې د کلي ناپګڼه ده. دا اوس چې کلي کنبې کوم کهول ګرځي، دغه خو نژدې نژدې تول د هغې لاسونو کنبې شوے دے. هغې باندې خپل کور کنبې نن سبا وخت نۀ تېرېږي. چې نمر خیره وهي، هغه د مشرې مور سره د کټ سر ته په بالښت سوره شوې وي. نن ماسخوتن شو، خو هغه ناسته ده. مازیګر ځاموره هم د خپلې لور لیدلو له راغلې ده. هغې دړیزه پتیله کنبې سوچه غوړي، دوه چرګې، درځن د کورنو چرګو اګې، د جوارو وړۀ، د پیشترې سابۀ اؤ نور ډېر څۀ ځان سره راوړي دي.
"زۀ به څۀ ؤوېم، الله دې دا کور ودان ساتي".
(د ځامورې سترې دعاګانې دغه کور ته په مودو پس نمانځلې شوې وې).
"اے زورورې! ښځه په وړوکي راؤړلو ښځه وي، ګنې جینۍ وي. د قمرو ډکه ځولۍ د دې کور ودانې ده. شکرونه کوۀ، چې الله په کلونو پس دغه زېرے ستا په لور ؤکړو".
(مشکې کله کله ډېرې پوهه خبرې کوي).
ښکلې اؤ ګلۍ همځولې دي. دواړه چې سره یۀ ځاے شي، نو بیا د هغوي قېصې د شپې نه اوږدې وي. اوس خو دربمه ورځ ده، چې د دواړو غوږونه په چپیا پسې کاڼۀ شول اؤ د ژبو ئې په ساه اخستلو پسې ژبې شوه. ګلۍ اوس هم خپل وړوکے تي ته اچولے ښکلې سره د ژبې بدې رانغښتې دي. وړندار پخلیځاے کنبې په غبرګو نغرو غتې پتیلې د اوبو ډکې ایښې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خُدا ے دې دوزخ پسې ړنده کړه! (د مشرې مور دې خبرې سره تول کور غُوږونه څک کړي اؤ بيا چې د چا نوم هغه واخلي، نور خپلو کارونو کښې اړم شي) يه مشکۍ! کۀ ډکه شوې ئې، نو راشه کنه!"

مشکۍ تُونده د کوټې پله روانه شوه. څو شېبې وُروستو مشرې مور غږ ؤکړو،

"بلقيس!!!"

اؤ بلقيس چيرړۍ اؤ بُړستن نيولې کوټې پله لاړه. ښکلې ته په تُللو کښې بلقيس څۀ ؤوې اؤ هغې پانوس ته غُوږ کښې گنگوسه ؤکړه. پانوس د ښکلې په وېنا کور نه ؤوتلو اؤ څو شېبې وروستو قدوس خان کور ته راغلو. هغه کور کښې د بکيانړې د ؤنې سره د څپر لاندې کټ کښې کښېناستو. گُلۍ د چيو پياله هغۀ له يؤړه. دغه وخت ښکلې مابتۍ سره څۀ خبرې نه دُوړې څنډلې.

د وُرندار کوټې ته کله څۀ اؤ کله څۀ سره تگ راتگ اؤ ځنې وخت د مشرې مور لخوا د ښکلې په بللو رابللو سره څو گېنټې غلې غُولې تېرې شوې. د پانوس خان کوټه، چې قمرو پکښې پرته وه، نه شا ته اوبۀ ډب وې. هغې نه د کيرړو تېرۀ غږونه راتلل. د بکيانړې، شپوې اؤ تُوت ښاخونو کښې ناستو چرگو قړتارے کوؤ.

سُتړې قدوس خان اسمان ته سترگې نيولې خُوره لپه په مصله ناست ؤ. پانوس خان چې خپل مشر ورور پسې د وُرندار په وېنا ښکلې لېږلے ؤ، هغه څو شېبې اگاهو کور ته راغلو اؤ دالان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ګُلۍ غېږه کښې پروت وړوکے ښُکولولو پسې خپلې کوټې ته ننوتلے ؤ. د ګُلۍ پښو ته مابتۍ د یخنۍ نه ړچېدلې اُوده وه.
مشره مور چې د قمرو کوټې نه نُغري پله تلو کښې ایله د انګړ منځ ته رسېدلې وه، چې د کاکي د ژړا غږ ئې تر غوږو شو اؤ چې تر څو هغه کوټې ته د انګړ نیمې نه بیا سُتنېدله، د "اللهُ اکبرُ" غږ ئې واؤرېدلو.
د سحر بانګ خو هره ورځ کیږي، خو نننی بانګ ځان سره د ناموس خان اؤ قمرو د نوي ژوند زېرے راوړے دے. د قدوس خان د وادۀ په وړومبي کال مابتۍ ؤشوه اؤ بیا بلقیس د نورو وړو جوګه پاتې نۀ شوه. د ناموس خان وارۀ نۀ کېدل. د پانوس مشر ځوے فردوس خان هم په وړومبي کال شوے ؤ. هغۀ اتم پورې زده کړه کړې ده، خو چرته چې وُرځپاڼې، مُیاشتنۍ اؤ ډائجسټونه وینې، هغه لولي. ځکه خو د وړې کوړمې خبره کوي. کمیله ئې په څلورم کال راؤړه اؤ هغه هم چې ښکلې پښې ډېرې کُلکې کړې، نو هغۀ ورسره ؤمنل.
ځابښتي مال ناموس خان کور ته دننه شو. ښکلې پړې غږ ؤکړو، (اؤ دغه غږ سره چې ورته د مابتۍ پام شو، نو سترګو کښې د مشرې مور ځارلو سره ګړندۍ هغۀ پله روانه شوه) خو چې قدوس خان ئې انګړ کښې ځامورې، مشکۍ اؤ مشرې مور سره ناست ؤلیدلو، نو بېرته سُتنېدلو. تر دغه وخته مابتۍ ور رسېدلې وه اؤ ښکلې ور ؤرسېدله.
"کاکا! زېرے به ما له راکوې ښه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه! پلار نه دې پېسې اخلم، نو در به کړم".

"(د مشرې مور د سترګو لاندې ساتلو سره ګنګوسه غونډې کښې) پېسې نۀ اخلم. ښۀ ښکلې د دنګو پوندو پېزار به راله راؤړې اؤ هغه هم چې ګلونه به پُرې وي".

"(ناموس خان خپلې خوُږې وُرېرې ته څۀ وئېل غوښتل، خو ښکلې پرې مخکښې شوه) د میرګاټې پلار چې در وړې وي؟"

"ما اؤ هغۀ بهر یؤ ځاے ؤځښکلې. (د قدوس خان پله کتلو سره) اوس زۀ ځم، خو چې هغه".

"ښه سور کښې ده. کاکے داسې سم ډېر ښکلے دے. مشره مور ورته څوک نۀ پرېږدي. تۀ راځه کنه".

"نه نه! زۀ ځم. غټ لالا ناست دے اؤ بیا به ما ښام یا سبا راشم".

څۀ خو هسې هم د قدوس کور کښې ناستې سره هغه د ډېرې حیا نه کور ته نۀ شو ورتللے اؤ بیا چې ئې مشکۍ ؤلیده، چې کوټې ته تللو د پاره پاځېدله، نو تُوند بهر ؤوتلو.

"ناموس لالا کښې څومره ډېره حیا ده کنه؟"

"هو! شکر دے، د وړوکي کاکا غونډې نۀ دے. میرګاټے چې کېدو، ستا سر ته ولاړ ؤ".

ښه شوه، چې مابتۍ خبرې سر ته رسېدلو سره پښې سُپکې کړې، ګنې ښکلې خو رینګوله. اوس هم د هغې په ټُوټې جوختې سکوندارې سره ښکلې خپل تاؤ لړ کښېنولے ؤ.

"دا کاکے مونږ کله چنګه لاګلے دے؟"

د فردوس تپوس بلقیس، ښکلې، ګلۍ اؤ پانوس خان ږقولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"داسي ؤشو، چې د شپې پرښته راغله اؤ د ګلونو پاڼو کښې ئې کاکې نُغښتلے راؤړو اؤ ستا د چاچي کټ کښې ئې پرېښودلو"، پانوس زياته کړه، "لکه څنګه چې تۀ وې".

"اؤ پلېکته چنګه وي؟"

"پرښته د مابتۍ غوندې وي".

مابتۍ د خپل کاکا په څواب موسکۍ شوه، خو د میرګاټي بلې پوښتنې بيا بُرګه کړه،

"بيا کو به پلېکتې په مونږ چُکوندالې هم لګوي".

(هاهاها! مابتۍ هر وخت فردوس ولې سُکونډي؟)

موسم پوره په ډډه اؤړېدلے ؤ. ناموس خان کۀ دوه درې ورځې کور نه بهر ؤويستې، خو تېر په تېر پرې قدوس خان څلۀ راؤسپړدله،

"تۀ د هغه وړوکي ليدلو له هم نۀ ئې ورغلے. دا خو ښه ده، چې ښکلې ما ته ؤوې. کۀ تۀ غُواړې، نو زۀ به کور ته نۀ ځم. (ناموس زمکې نه سترګې نۀ اوچتوي) غټ سړے شوې مړه! بس کړه!"

هغۀ د هر چا څلې نه د خپل ځوي د ښکلا خبرې اؤرېدلې وې، د قدوس خان خبرو سره نېغ کور ته لاړو اؤ پخپله کوټه دننه شو.

مشره مور، ګُلۍ، مشکه، ځاموره اؤ راپورۍ ناستې وې. د ناموس ليدلو سره قمرو خپل مخ بُړستن کښې پټ کړو.

"مور! کاکے لږ وينم؟"

"مور درته لوګے شه!"

(مشرې مور د ماشوم مخ نه پلۀ واخستو) اؤ د ماشوم په حقله اؤرېدلې خبرې ټولې رېښتيا ؤختلې. لکه چې ګل چا د رنګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څادر کښې نغښتې وي. داسې مئېنه، نازولې اؤ سپېځلې موسکا ، لکه چې سپرلے د لوڅې ؤنې په څانګو ګلونه ؤټوکوي. لکه پرښتو چې د ژوند د ټولو نه ښکلې، نیازبینه اؤ نازولې ډالۍ د هغۀ د قمرو غېږ له راوړې وي. هغۀ مخې سره دوه روپیو ته لاس کړو. یوه ئې مشکۍ اؤ یوه ئې راپوړۍ له ورکړه اؤ کوټې نه ؤوتلو.

"هلکه! د مُوندر غوندې دې روپۍ راکړه!"

راپوړۍ د ماشوم نه د ناموس سترګې ځان ته کړې.

"د مُوندر وادۀ کښې دې ځان څانګ کړے ؤ. دلته دې څۀ وطن شرشم کړو، چې".

"کښېنه مشرې مور! ولې اوومه به نۀ کوئ څۀ؟"

"د اوومې په برخه به دې اوومه کښې ؤتخنؤم. اوس دغه واخله اؤ هلک پرېږده، چې بهر څۀ نمرۍ تېره کړي" (اؤ هم دغه وخت یؤ لاس په ماشوم اېښے ناموس ته سترګې واړوي) "مخروره! ښکاره شوې؟ هله ورشه، چې وړندار دې درباندې څۀ ؤخوري اؤ بیا راځه خپلې کوټې ته".

"کوټې ته" وئېلو نه اکاهو هغۀ بهر ته لاره نیولې وه.

"(مشره مور ځیرک ښکول کړي) نېکبختې قمرو! هلک ځان نه اوچت څملوه. په ډډه چې اؤړې، نو خُدا ے مۀ کړه، د ډډې لاندې دې نۀ شي اؤ چې تے ورکوې، نو مسواکه ګوته اؤ منځ ګوته کښې دې تے نیسه اؤ خُلۀ کښې ئې ورته ږده!"

د قمرو غېږ کښې وړومبے کاکے دے. مشرې مور ته ډېره ساده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده.

کلي کښې ټولو نه ساده وګړے خو مُوندر ؤ. د هغۀ وادۀ کښې د نکاح په وخت مُلا د هغۀ نه تپوس ؤکړو اؤ هغۀ ځواب نۀ ورکولو. څو واره د مُلا لخوا په تپوس چې هغه غلے پاتې شو، نو ماما ئې ورته ؤوې،

"يه کور وړانيه! يؤ "هو" خو ورته ؤکړه!".

"دا خو ډېر اوږدۀ تپوسونه کوي. زما په ځاے ئې ورته تۀ ؤوايه!".

(د موندر په دغه ځواب اؤرېدونکي خندا نه لؤړې بؤړې پرېوتلي وو).

خپل وادۀ کښې د نکاح د ښه کولو تۀوان نۀ لرونکے مُوندر بيا د يؤ خپلوان وادۀ کښې په مړدکي مړ شو. مُوندر ته په اسانه چا خور لور ورکولو ته غاړه نۀ ايښودله، ځکه چې يؤ خو هغه ډېر ساده ؤ اؤ بله دا چې رنګ نه تور ؤ. کۀ د ښائست نهه نوي بېلګې اؤ د بې ډولۍ نهه نوي بېلګې واخلې اؤ مُوند سره ئې ؤتلې، نو د ښائست يوه کرښه هم هغۀ کښې ځان برخېره کولې نۀ شو. د هغۀ تورو سترګو کښې زېړ ګاټې ښکاره وو. غاښونه ئې يؤ بل نه ډېر لرې وو اؤ څۀ ځاے تور، څۀ ځاے زېړ وو. پلن لاسونه اؤ پښې، چې تلي ئې لکه د څمڅېرې د خېټې رنګ لرلو اؤ نوره ځاندره ئې د شمشتۍ د ډال غوندې کلکه اؤ سُتغه وه. د هغۀ د سرېتوب کۀ هر څو کلي کښې د جغ څوک نۀ وو، خو دغه برخېره پېلامونه د هغۀ خپلوۍ کښې خنډ د پاره ډېر تېر وو. څمدُوره د هغۀ په ختمه نۀ وه، خو د څمدُورې مور خپل مېړۀ طلاق کړې وه. د هغې رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اؤ ښائست لکه د ګُل ؤ اؤ خْلې نه هم ښه تېره وه. د طلاق شوې مور نوم اؤ تېره ژبه د ثمدورې د پاره د خْپلوۍ راتلو کښې لْوې اټکل ؤ اؤ يوه ورځ د مُوندر خْپلوي د هغوي کره ورغله. د ثمدورې تلونکې ځْوانۍ ښاپېرۍ د ښاپېرک په برخه کړه. مُوندر چې بهر ځومره غلے ؤ، دغومره خپله کوټه کښې په چړچقو ؤ اؤ ثمدوره چې ځومره لمبه اؤ تؤده وه، دغومره کوټه کښې يخه وه. د مُوندر خْوا چرې هم د ثمدورې سره سړه نۀ شوه، خو مُوندر خْلۀ د حيا په پلؤ تړلې وه. کله کله به د هغۀ زړۀ له راغلل،

"د ثمدورې مور به هم دغسې يخه وه، ځکه خو ئې پْرې پلار ښن راوستې وه".

هغۀ د ثمدورې سره خپل تړون د خپلې تندې نه ډېر کړو اؤ دا پْرېکړه ئې ؤکړه، چې هغه به هاغه څۀ نۀ کوي، کوم چې د ثمدورې پلار کړي وو. هغۀ ته به ځان ؤوې،

"کۀ د ثمدورې غوندې تۀ يخ وې اؤ هغه ستا غوندې تؤده وه،اؤ ثمدورې تۀ پرېښودې يا ئې تا سره غْلا کوله، نو تا به څۀ کول؟"

د مُوندر تور مخ، پېړې توربښنې شونډې، پْلنه پوزه، ګُولګُوتې وېښتۀ، زْيړې چُوچنۍ سترګې اؤ داسې نور ډېر څۀ وو، چې مُوندر نه ئې خْپلوۍ تمبولې، خو دغه پورته شوې خبره د هغۀ ټولو نه لويه ښکلا وه اؤ بيا چې مُوندر نۀ ؤ، نو ثمدُورې ته د هغۀ يوه يوه خبره مخې ته ؤدرېدله. چې هر ځومره ؤ، مُوندر خپلې شْپې ورځې د ثمدورې د يخ خْوي سره تېرې کړې. ثمدورې د بې ډوله مُوندر دننه د ښائست هغه چينه ليدلې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه به په سپینو پوستکو کښې نۀ وه. د مُوندر ویشتونکے ډېره مُوده وروستو په ګوته شو، خو اوس پرې د مُوندر د پلار اؤ وروڼو لاس نۀ بر کیږي. دغه خبره به راتلونکي ته پرېږدو. دومره ده، چې څمدوره به تل د هغۀ کونډه وي.

اوس شل څلي وې اؤ اووۀ شلې نومونه. هر چا لکه د چاړا بېل بېل نومونه په یؤ اېر، یوه سا اؤ یؤ رنګ وئېل. چې زوړ ډېر شو، نو یؤ غړمب سره هر یؤ غږ پخپل پخپل ځا ے پښه نیولے شو.

"ټق پُولی ؤچؤده اؤ سر ښنې ؤتړۀ. تاسو به ورله ولې نوم ږدئ؟ د نوم پوښتنه ناموس خان نه ؤکړئ!"

د مشرې مور خبرې سره ټولې سترګې په ناموس خان اتې شوې (څوک چې تر دغه وخته پخپله دغه زوړ ته ترېدلے ناست ؤ).

"ځیرک خان"

ناموس خان چرې هم دومره په اسانه څۀ نۀ وائي. دا نوم لکه چې هغۀ په څلۀ کښې نیولے ؤ. چا ته هم برڅېره نۀ وه، چې دغه نوم ناموس خان د وادۀ ورځ نه ځان سره په زړۀ لیکلے ؤ اؤ هم دې وخت ته ناست ؤ، چې خپل ځوي له به دغه نوم ږدي. دغه نوم هغۀ د ځان سره لوي کړے ؤ. په دغه نوم د هغۀ سود کېدۀ. مشرې مور په دغه نوم اؤرېدلو څو شېبې په یؤ ناپ ناموس خان ته ؤکتل. هغۀ دواړه لاسونه یؤ بل کښې ورکړي خپلو ځنګنانو کښې ؤنیول اؤ نوم اخستلو د پاره پورته شوې سترګې ئې د مشرې مور سترګو نه په زمکه څملولې. د مشرې مور سترګو کښې دوه رڼې اوښکې ؤځلېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيرک خان د ناموس د کوچنيتوب يوازينے ملګرے ؤ. د کلي څۀ بې سره هلکان، چې ناموس خان ته به ئې "جينوټارے" وئېلو، د ځيرک خان د وېرې نه قُرنج نۀ شو کولے. کلي کښې به دواړه يؤ بل نه بغېر کنډم ښکارېدل. ځيرک خان له د ژوند ډېر تنکي وخت کښې لُوبې ئې کودالہ بېلچه لاس کښې ورکړي وو. مور چې به ئې په شلمه ګېډۍ لؤ کولو، نو هغه به هم ورسره ؤ. ټول کلي به ورته د کونډې ځُوے وئېلو. د پلار د څلي اؤ د دوي د کور منځ کښې يوه وړه لاره اؤ د کلي جومات ؤ. د اولس پچموزو ناموس خان غلے کړو اؤ ځيرک خان تود خُويه. خبره په خبره غوغول هغۀ له نۀ ورتلل. (لاسونه وو کنه!) مور به ئې کله کله د خپل مړ مېړۀ څلي ته سترګې نۀژني کړې، څوک چې د ژمي يوه يخه شپه کښې ټنګ ټکور نه کور ته راتلو اؤ سحر ئې شاملات سره مړے پروت ؤموندلے شو. د هغۀ د رباب يؤ تار شلېدلے ؤ. نن پورې هغه رباب دغسې نيمه خُوا اؤ غلے دېوال ته ځُوړند دے. د موسمونو څومره نُيازبيني سندرې دي، خو په دغه رباب چا اړولې نۀ شوې. د ځيرک خان د مور زړۀ اؤ دغه رباب دواړه يؤ مړي سره ډېر بې څوکه شول (هغه مړے، چې کۀ وژونکي ئې هر څو ډېر دي، خو نن پورې پکښې يؤ هم په ګوته شوے نۀ دے).

د ځيرک مور ليدل، چې د هغې د مېړۀ ځاندره کۀ د خاؤرو لاندې خاؤرې شوې ده، خو هغه په ځيرک کښې ژوندے شوے دے. هغه بيخي پلار ته تلے دے. سترګې خو ئې ترې بيخي نۀ دي خُوځېدلې. چې خبره ورته بده ؤبرېښېږي، نو غلے شي..... داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلې، لکه څُول راتلو نه وړاندې چې سیلۍ سا ؤنیسي.
د ځیرک خان شونډه چې شنه شوه، نو په مور ئې هم پېغلتوب راغلو. هغه په سپینو شوؤ څڼو بیا په ستر شوه. دا ریښتیا وو، چې هغه اوس هم کونډه وه، خو د ځیرک خان سرتېزۍ نه ځار، اوس نۀ چا هغې ته کونډه وئېل او نۀ ئې چا ځوې ته د کونډې ځوے. په هغې "د ځیرک خان مور" نوم کېښودے شو.
یوه ورځ ځیرک لکه د نورو پښتنو ځلمو د پښتونخوا د مینې ډکه غېږه د خپلې نهرې ګېډې د پاره پرېښودله. د مرې خاوړې وږې پښتانۀ، چې د نړۍ هغه بدمرغه قام دے، چې خپلې خاوړې ئې د لوي خُدائے د ورکړې تولې پنګې ځان کښې رانغښتې دي، د رڼو سپینو اوبو سیندونه پکښې چاپېره بهېږي او ځنګلونه ئې هسکه غړۍ شنۀ ولاړ دي، خو بیا هم د صنعتونو نیشتون د دوي په خاوره دا وېنا ریښتونې کوي، چې "خُدائے د خپلو خزانو په لټون سلو کښې پنځۀ وګړي ماړۀ کوي او د دغه خزانو په کار راوستلو باندې پاتې پنځۀ کم سل".
دغه ورځو کښې د پښتنو خواریکښو د پاره کراچۍ د دوبۍ په توګه ؤ. پښتنو به خپلې ښېرازه زمکې او کښتونه ؤکرل او بیا به د اشر پورې کراچۍ کښې نغدې دیاړۍ له لاړل. څۀ هلته پاځۀ مېشته هم شول. دغه وخت پورې کراچۍ کښې تؤدۀ باد الوتلې نۀ وو. په ځیرک خان به کراچۍ کښې د کاکوان، خړو او پوردلې زړونه راتږول وو، خو د هغۀ مسافرۍ کلي کښې ناموس بیخي یوازې کړے ؤ. اوس به هغه د جومات مخامخ مورې باندې نۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤدرېدلو (ځکه چې د غلته به زیاتره هغهٔ ځیرک سره خبرې کولې).
هغه ځلې چې د ځیرک خان په سُوک غلې وې، اوس د ناموس سړیتوب د ملنډې نه ویستلې وې. دغه مُوده چې مُیاشتو ته ؤرسېده، نو د ناموس زړهٔ د خپل خوږ ملګري لیدلو ته ډېر لېواله شو. مازیګر جومات کښې نمونځ پسې هغهٔ د ځیرک د لیدلو دُعا ؤکړه. نیمګړې دُعا زر ؤنمانځلې شوه اؤ بله ورځ کلي ته ځیرک راغلو ـــــــ پخپلو پښو نهٔ ، د روغتون امبولنس کښې. ژوندے نهٔ، د یؤ ناپېژندلي مړدکي ښکار شوے (ځکه خو د ناموس دُعا نیمګړې وه). د کراچۍ په ارتو پلنو لارو اؤ لویو دنګو ماڼو کښې د ژوند ارزښت باندې څوک نهٔ پوهېږي. د سیاستمدارانو سترګې یؤ بل ته بړګې شوې وې اؤ د هغوي په لمسه یوه ورځ مرګ د دغه ښار لارو کوڅو کښې اتڼ ؤکړو. د بې وسو اتېۍ ؤسوزولې شوې اؤ بسونه اؤ لارۍ ئې ؤچقولې شوې. د وژنې اؤ وړانې د یوې اوږدې لړۍ دغه بې ترسه پېل ؤ. د ځیرک د مور ستر یؤ ځل بیا مات شو.
د خپل پلار قبر سره څوا کښې هغه ښخ دے. د هغهٔ مور اوس لړه اخوا ښخه ده. د مینې پېرزو نه ځار شم، د مور اؤ پلار قبرونه ئې نږدې دي، خو ناموس اوس هم اختر ته د هغهٔ قبر لېؤ کوي اؤ ګلونه پرې څوروي. کۀ تاسو چرته وریېښ شوئ اؤ دا مو هېر وو، چې د ښرولې ؤنې نه د لارې پله د مامدین کاکا دوي د کښتونو اړخ ته ځیرک خان ښخ دے، نو بیا به ئې هم په ډمبرګلو اؤ ورخاړو ؤپېژنئ، چې دا د ځیرک خان قبر دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "ځيرک خان" نوم اخستل شۀ وو، چې ورومبے "ډېر ښۀ دے" ورته ښکلې ؤوې. ښکلې دې نه خبر نۀ وه، چې ځيرک خان ثوک ؤ اؤ د ناموس خان زړۀ کښې ئې څۀ ځائے ؤ، خو دغه نوم ئې په غوړو خوږ ورغلو.

"خو هسې نۀ چې ثوک ورته "ځيرکو" وائي؟"

مابتې خپلې اند ېښنې ځرګندولو سره ټولو ته ؤکتل.

"چې ناموس ورته "ځيرک خان" ؤوې، نو "ځيرک خان" شو (مشرې مور پرېکړه ؤکړه) د چا پلار خو دې ورله نوم وران کړي، چې د پلار هغه بغرۍ ئې په ترښځ کندې کړم".

(يره چې يؤ خو به دا مشره مور کنځلې کله پرېږدي؟)

پرځند کاکا خپلې چړې اؤ نلونه کسوړۍ کښې اخستي د قدوس خان دوې ځپر ته راغلو. د کلي ثو وګړي هم دغلته ناست وو. قدوس خان سپين اغوستن اغوستے، سپينه خولۍ په سر ايښې پرانستي لستوڼي ناست ؤ.

"پرځند کاکا! سونت له راتلې، کۀ وريژو له؟"

د قدوس خان په ځائے مېترې پرځند کاکا ؤپوښتلو.

"مېتريه! ستا غوندې ځنګل مې مخ ته نيولے نۀ دے، د بونجۍ پوزې خو به دا منې، چې بوي زر راکاږي. دېک نه چا سر لرې کړو اؤ پرځند ته ياد شول، چې بل مسلمانول غواړي".

د پرځند کاکا قيصه به بيا چرته واؤرو. هغۀ سره خبرې کول د هر چا د وس خبره نۀ ده (پانوس غېږ کښې ځيرک خان نيولے کور نه ځپر ته راغلو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هله راد پخوا ئې کړئ! اوس به ئې درله مسلمان کړم".
خپل نلونه اؤ تېره چړه لاس کښې نيولې پرځند يؤ نظر ځيرک خان ته ؤکتل اؤ ناګهانه ئې د خلې نه ؤوتل،
"الله دې بدو سترګو اؤ بدې ورځ نه ؤساتې!"
اؤ بيا چې کله ئې پچې ته ؤکتل، نو مخامخ ولاړ پانوس نه ئې تپوس ؤکړو،
"پتنوسه! پرېکړم ئې؟ بيا به پکښې څۀ پاتې نۀ شي".
"پرځند کاکا! شړق ترې ؤباسه! برسنډه به پرې ؤخورم، بيا به ورته پسخېږې".
د پانوس دې هم بلا ورکه وي، خو پرځند کاکا خبره په دغې د بره هم وړاندې بوتلله.
"اے پلار دې ئې خدائے بنۀ ساتي، ګنې تاسو نه خو ګيله هسې ځان مرورول دي".
"پرځند کاکا! څۀ له راباندې د خاتم طائي قبر په لته وهې. نور څۀ ؤکړم. سبدان يو، خبره کوه، زمونږ دعا نۀ ستنيږي اؤ نور تۀ بنۀ پوهه ئې".
د پانوس په خبره به ناستو ډېر خندلي وو، خو د پرځند کاکا متل پانوس د خندا کړو،
"پرېږده مړه! خدائے دې سپے سړے نۀ ګڼي اؤ تۀ ترې سوال د بارانۀ کوې".
ما خو درته وئيلي وو، چې د پرځند کاکا دې بلا ورکه وي. کلي کښې تول د هغۀ د خلې نه ځان ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د پتنوس ځویه! څه ګنې بیا دې تېرۀ کړم".

میرګاتې خوار ننداره کوله، خو پرځندکاکا ئې د پلار تؤدۀ په هغۀ سارۀ کړل. هغه هم په ریښتیا ؤتښتېدو.

"پتنوس خانه! پرتوګ ترې ؤباسه اؤ کمیس ئې بدې کوه! چې خرپ ترې ؤباسم".

راپوړې باندې خو کلې کښې غم هم تود وي. مشرې مور د خوږو وریژو دېګ پوخ کړے دے اؤ راپوړې تمبل راخستے د کور انګڼ کښې ناسته ده،

"اؤ زۀ پنا ولاړه یمه

هلکه بلې مۀ نړوه!

لیدې مۀ نۀ شې"

وادۀ کړې ورسره پړقې وهي. ناوادۀ شوې پړقو سره څۀ خیالې نړې کښې هم وړکې دي. د هغوي روح هم یؤ بت ته دغه وائي،

"مینه کښې تا نه کمه نۀ یم

(هلکه بلې مۀ نړوه!)

خو وړه نۀ یم، چې به کلې خبرؤمه"

بیا لړې ګاګیرې شي —— پلار، ورور، تهپک، مرګ.....

پښتنې مینې تل حبس کښې وي.

پښتنې جذبې تل د وېرې سیورې کښې سا اخلي اؤ بیا مړې شي —— پښتانۀ د مینې په اسره ژوندي وي اؤ په مینه مري.

راپوړې: "یار مې د جنګ نه په شا راغلو"

ګڼې خلې: (هلکه بلې مۀ نړوه!)

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپوړې: "په پروني ورکړې خلۀ ستومانه يمه"
وړندار هسې په خلۀ وائي چې،
"راپوړې! اوس د خبر ختم ؤشو اؤ تا بيا ډماميې ته لاس کړي دي".
(خو پټ ئې تمبل سره زړۀ ترپکې وهي).
"دوزخ پسې رېنده شې د مُلا بادر لور! چې نن ئې نۀ وهې، نو کله به ئې وهي؟"
مشرې مور دې پسې په راپوړې غږ ؤکړو،
"نن به دې تمبل شلوې، دومره ئې ؤغړنګوه!"
راپوړې: "خولګې دې خورم، نۀ پرې مړېږم"
ګڼې خلې: (هلکه بلې مۀ نړوه!)
راپوړې: "نېکبختې ټوله را په شا شه چې دې وړمه"
اؤ "چې دې وړمه" سره ګڼ غږونه ؤشو،
"مړه مۀ شې راپوړې!"
راپوړې: "تا په کوڅه کښې ټوخې ؤکړو"
ګڼې خلې: (هلکه بلې مۀ نړوه!)
راپوړې: "زۀ په مستو ککړه خلۀ در ؤوتمه"
راپوړې: "د نغارې اواز دې راغې"
ګڼې خلې: (هلکه بلې مۀ نړوه!)
راپوړې: "د وړې لُور سره د کټ نه پرېوتمه"
راپوړې ته مشرې مور وئيلي وو، اوس به د عبدالرحمان مُلا په بانګ ؤدرېږي. دغه تۀدوبنه کښې د وړندار سترګې په مابتې ؤدرېدې. مابتې اؤ مونپجره د دالان د وړوکي دېوال سره ولاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. مابتې خپله شونډه چیچله او یو لاس ئې خپل لُوخ سر سره د مونپجرې په اُوږه ایښې و. د مابتې سترګو کښې وُرندار پېغله تنده وُلیدله او مخ کښې ئې د خندا ټولې کرښې ژورې شوې.

"مابتې!"

"مابتې!"

(د مور په دوېم غږ هغه د خیال غېږه کښې ویښه شوه)

"هن مورې!"

"قمرو له اوبهٔ یوسه!"

د وُرندار دغه وس و، چې مابتې د هغې د خیال د بُت غېږې نه کُوزه کړي.

ناموس او پانوس په دغه شپه ناوخته د اوبهٔ خُور نه راغلي وو. ناموس چې سحر نمونځ وُکړو، نو اودهٔ شو او پانوس خو ځان ته د نمونځ بخښلو څهٔ بانه ګوري. ټوله شپه ئې اوبهٔ خُور کړے و، ښکاره خبره ده، چې ماسپخین به پاڅېدلو. هغه خو زر اودهٔ شي، وائي "نمونځ په ویښو اوړي". الله دې پوهه کړي.

ماسپخین نمونځ پسې ناموس د جومات مخې ته مورې باندې ولاړ و، چې پرځند کاکا ورسره سلام کولو پسې د ځُوي مبارکي ورکړه.

"ډېر ښکلے ځُوے خُدائے درکړے دے. الله دې بدو سترګو او بدې ورځ نه وُساتي!"

ناموس په دواړو لاسونو د هغهٔ لاس وُنیولو او په ډېر روڼ تندي ئې تُرې مبارکي واخسته. د ځیرک خان مرګ نه په کلونو وروستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د جومات مخامخ موړه باندې په وړومبي ځل ولاړ ؤ. د هغهٔ زړهٔ غوښتل، چې هم دغلته ولاړ وي اؤ د ټول کلي اولس راشي اؤ هغهٔ لره مبارکي ورکړي. پرون چې د خُوږو وُريژو دېګ نه ځلور غُورې جومات ته راغلې وې، نو ماښام د سونت نه ټول کلے خبر شوے ؤ اؤ ناموس له ئې مبارکۍ ورکولې. د خپل تربور سپدګُلي په ليدلو هغهٔ خپله سينه د ډېر وُيارَ نه پُلنه کړه اؤ ژوند کښې په وړومبي ځل د هغهٔ پستو سترګو کښې کلک نظر بُرند شو. سپدګُلي يوه ورځ قدوس ته وئيلي وو، چې کهٔ د ناموس خُوښه وي، نو هغه به ورلره خپل ځُوے ورکړي. د سپدګُلي زړهٔ سُپين ؤ. هغهٔ دغه خبره په خُواخُوږۍ کړې وه، ګنې ځوک د خپل زړهٔ غُوښې بل له ورکوي، خو ناموس خان ته دغه پېرزو لکه د پېغور ؤدرېدلې وه. د پښتنو د مينې اؤ کُرکې، پېرزو اؤ زباد، ورکړې اؤ منښتې خپله ژبه اؤ خپل مخ دے. پښتانهٔ د ويارَ نه په لړه منونکي نهٔ وي. وياړ د پاره هغوي ته د سر بيعه هم ارزانه وي. دغه وياړ هغه د وينې په تړون کښې لټون وي اؤ کله کله د وينې تړون هم د خپل وياړ د پاره غُوځولو کښې د لارې خنډ نهٔ پرېږدي.

"نن مو د خېره سره ځيرک خان د يويشت ورځو شو"

د کوټې ور پورې کولو سره ناموس خان ؤوې، اؤ بيا ئې سُپېږمې رانښکلې چاپېره ؤکتل،

"مشرې مور مشکۍ تُرور ته وئيلي دي، چې هره ورځ به ځيرک خان ته سُپيلني لوګے کوې. دا دُومه هغې روغه کړې ده".

قمرو د ناموس حېرانتيا له په موسکۍ خُله ځواب ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناموس په دغه ځواب موسکي کېدو سره د هغې څڵۀ خپله څڵۀ کښېښ واخسته اؤ قمرو د هغۀ مخ ته خپل لاس ؤنيولو (د دغه لاس اېښودلو چرې هم دا زړۀ نۀ ؤ، چې هغه دې د قمرو نه څڵۀ ؤباسي) اؤ بيا ئې په رو د هغې غېږ کښې پروت ځيرک خان له مخ ښکول کړو.

د خپل کميس په ځاے د قمرو کميس اغوستلو سره بل کټ کښې څملاستونکي ناموس ؤوې،

"وريځې نن ښې ؤګواښېدې، خو ؤ نۀ ورېدې".

قمرو په يؤ ناپ ناموس ته کتلو کتلو کښې ناڅاپه په خندا شوه.

موسکي اؤ حېران ناموس ؤپوښتله،

"ولې په خندا شوې؟"

"وريځې خو کۀ نن ؤ نۀ ورېدې، سبا به ؤوريږي. خاندم په دې چې، څومره ورځې دې دا کميس وا نۀ غوستلو. زۀ ځان له دومره خېتمې شوې ؤم چې".

"زۀ نۀ پوهېږم قمرو! څۀ خبره ده، چې زما د ښځو رنګونه، کړۀ وړۀ اؤ اغوستن ډېر زيات خوښ وي. زۀ وېم، چې هم دا اغوستن مې اغوستي وي، نکريزې مې په لاس کېښودې، بنګړي مې لېچو کښې ؤشړنګولے".

"ولې هن؟ تۀ داسې ولې کوې؟"

(اوس د هغې مخ نه هغه خندا تلې وه)

د ناموس خان په مخ ځوندي رېره ده. داسې به ؤوايو، چې لړې ئې څمې اورېدې شوې دي اؤ لړ وېښتۀ ئې زنې نيولي دي. هغۀ پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته چاړه رانښکلې نۀ ده. سینه ئې د وېښتو نه داسې پاکه ده، لکه چې په پوزه ئې نومې وېښتۀ نشته. د تګ وخت کښې کېڼ لاس لړ ځوړند شوے وړي. خبرې ډېرې په رو رو کوي اؤ زیاتره زمکې ته ګوري. غوڅه خبره به دا ؤکړو، چې هغه جینوټارے غوندې دے اؤ په وړوکوالي به هم په دغه نوم هلکانو تنګولو، خو په کوټه دننه هغه سړے ؤ. د هغۀ غېږ کښې قمرو چرې ځان تړے لیدلے نۀ ؤ.

قمرو د هغۀ نه څو شپې اګاهو پوښتنه کړې وه، خو دا پوښتنه هغې په وړومبي ځل نۀ وه کړې اؤ نۀ په وړومبي ځل ناموس خان د هغې په پوښتنه غلے شوے ؤ (ځکه خو هغې بیا تپوس ؤ نۀ کړو). کوټه کښې چپیا خپل سُیوري خوارۀ کړي وو، چې دې کښې وریځې ؤغړمبېدې. د بړېښنا پړق د کوټې د ور چؤدو کښې ځان ؤځلولو. څو شپې دغه ګړز ګړوز اؤ پړق پړوق کښې تېرې شوې اؤ بیا بهر په زمکه د ځاځکو ټوپونه شول.

د ځاځکو په ښکالو اؤرېدو ناموس خان ؤوې،

"خُدائے خو دې باران د اُورېدو کوي نۀ"

"سپرلے په سر دے. خامخا به کېږي"

"نه قمرو! زۀ وېم، چې اوس ؤدرېږي اؤ نولس ورځې پس بیا غوټ یوه مُیاشت ؤورېږي. زمونږ ځیرک خان به د څلوېښتو ورځو وي".

(د پانوس خبرې اوس لږې شوخې نۀ دي؟)

"اؤ ما به لامبلې هم وي".

(قمرو دا وئېلو سره د حیا نه سر د هغۀ تُرخ کښې ورکړي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانوس خان موسکے شو ..... قمرو ته ئې وُکتل اوُ بیا خُدا ے زده ځۀ وخت به اُودۀ شوي وي.

شپُارس ورځې جړې وُورېده. د کورونو د ناوُ خُلې وُ نۀ درېدلې. د مُوندر دوي د چنې د ېوال باندې دوه ځوپېدار پرېوتي وو. د پټو په پُولو ولاړې وُنې اوُ پټو کښې فصلونه مُلاڅت وو. د ځاروُ د تشو بُوسو په شُخوند خُلې پخې شوې وې. سُره غرمه به هم د نمر په نیشتون لکه د سُکښې مابنام توره تېرېدله. شپې خو بیخي د ګناهګار زړۀ رنګ اخستے وُ. ګړکوړ بابا په یوُ ابړ ګُورېدلو اوُ لارو کښې ختې ښې خوشتې شوې وې.

د جړې د اوولسمې ورځ شپه نور کله نه ډېره توره اوُ دُرنه وه. اسمان څو شېبو له غلے شوے وُ. شپې خپل نیم ژوند تېر کړے وُ، چې بُرېښنا شوه اوُ برېښنا سره سم ګړزګړوز شو اوُ ډک جام په لاس اسمان بیا تیندک وُخوړو. ټوله شپه ناوې وُشرېدې. مشرې مور د چرګبانګ نمونځ دالان کښې وُکړو.

"خُدایه! په وخت نۀ پوهېږم، خو تۀ ئې په چرګبانګې قبول کړې".

(مشرې مور خپله غاړه په دُعا خوشې وُګڼله. مُصله ئې په کټ کښې کېښودله اوُ بیا کوټې ته ډډې کېدو د پاره دننه شوه. د هغې خیال وُ، چې لا نیمه شپه ده. سترګې ئې پټې شوې نۀ وې، چې نمر ځیره وهلې وه).

"مورې! مورې! یه مورې!"

د بلقیس ګاګیرو غږونو مشره مور تُونده پاڅوله اوُ د کوټې نه بهر وتلو سره هغې د ناموس خان د کوټې نړېدلې بلې وُلیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


"ډوبه شوم خُدايه!"

د بلقيس اؤ مشرۍ مور په چغو قدوس اؤ پانوس د ناموس کوټې ته رسېدلي وو. ځو شپې تېرې نۀ وې، چې کور کښې د کلي ښځې، مړونه اؤ واړۀ راغونډ شوي وو. د ډب اړخ ته دېوال پرېوتلے نۀ ؤ، خُوئېدلے ؤ. نۀ زُوږ نۀ غُرب. لږ وخت تېر نۀ ؤ، چې بيا نمر د خلقو سترګې بُرېښولې. سړو په خاؤرو اؤ برګو لړې کولو خپلې ساګانې ماتې کړې وې (خو دغه وخت د سُتړي کېدو احساس چا ته کېدلو؟). د کوټې تير سره لږ نژدې د تورسرې کميس ښکاره شو اؤ سېد ګُلي قدوس ته غږ ؤکړو. هغه راغلو اؤ خاؤرې ئې ترې اخوا کړې. د کلي نور سړي دغه وخت دغه ځاے نه اخوا شوي وو. قدوس خان ځادر په مړي واچوۀ اؤ د پانوس خان سره ئې دالان ته يؤړلو. د کلي ښځې د قمرو ليدلو ته په دالان ماتې شوې، خو پانوس سُتنې کړې. مړے کټ کښې ځملولو سره هغوي د مشرۍ مور کوټې ته دننه کړو. مشرۍ مور پخپل لاس د ناموس خان نه د قمرو کميس ؤويستلو. بيا قدوس ځان سره پانوس اؤ پرځندکاکا ملګري کړل اؤ دغه ځاے ئې نور ؤلټولو. قدوس دا پټول غوښتل، چې د کلي نور وګړي دا ګنې، چې قمرو د کوټې نه ؤويستلې شوه. دغه وخت د خپل ستر ساتلو د پاره پرځندکاکا باندې د هغۀ زړۀ اوبۀ ځښکلې. د کلي اولس ته هغه يؤ نښې ؤ، خو قدوس پوهېدلو، چې د کانې نه به غږ ؤځي، خو پرځندکاکا نه نۀ. کۀ کلي کښې په کلوېغې چا ځان پوهولو، نو پرځندکاکا سره به ناست وو. دغه ستر ډېر ټينګ پاتې نۀ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ځکه چې کله لږې نورې خاؤرې دوې اخوا کړې، نو د بش لاندې قمرو سا اخستله اؤ د هغې غېږ کښې پروت ځيرک خان په ښخ خوب اودهٔ پروت ؤ).

"هله وروښو راشئ!"

د قدوس غږ سره ټولو د هغهٔ اړخ ته منډه کړه. بش ئې په ټوله اخوا کړو اؤ قمرو په بړستن کښې نغښتلې قدوس اؤ پانوس دالان ته يؤړه. د هغې روڼ مخ په خاؤرو خړ ؤ اؤ تورو وېښتو کښې ئې خاؤرې ښخلې نخښتې وې. د هغې سترګې د کوټې پله اؤړېدلې، خو هغې د خپل مخ د اړولو توان نهٔ لرلو. مشره مور دغه وخت د خپل ناوياته نمسي تلوسې د رنګې شوې کوټې خوا له بوتله. ځيرک خان نهٔ يوازې دا چې ژوندے ؤ، بلکې په خوږ خوب اودهٔ ؤ. مشرې مور هغه غېږ کښې اخستے برنډې کښې پروت کټ کښې څملولو. قدوس، پرځندکاکا، سپدګلې اؤ پانوس کټ کښې بې ځانه قمرو روغتون پله واخستله. ټوله شپه د ډرونډ تير اؤ خاؤرو د پېټې لاندې د هغې سا څنګه ټينګه پاتې شوې وه؟ د قمرو مخ چې کوم اړخ ته ؤ، هماغه اړخ ته کټ کښې ځيرک خان پروت ؤ، چې اوس ئې سترګې غړېدلې وې ــــ د دواړو لاسونو ګوتې ئې خپله خلهٔ کښې نيولې وې ــــ دواړه پښې ئې راغونډولې، غځولې. د قمرو سترګې د خپل ځيرک مخ نه چرته وتلې. کور کښې يوه ژړا انګولاوه. ور ته رسېدلو رسېدلو کښې د هغې سترګې د خپل ځيرک په ليدلو مړې شوې نهٔ وې، خو مړې شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېمه شپېه

د کور نه وتونکو دوؤ غُبرګو جنازو مشره مور ماته کړې وه. کۀ هغه خبر وه، چې د بارانونو دغه ماته شوې شپېه به د هغې کور نړوي، نو هغې به د نمر سترګه داغلې وه، خپله پېنځه به ئې خيرې کړې وه، وريځ ته به ئې وئيلي وو، چې:

"درې درې!

د وريځ تورې بلا!

درې درې!

زمونږ په کلي کښې د چا هم نۀ خوښېږې بلا!

درې درې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د هغې خپلې ستړګې تړېدلې وې. اوس هغې سره يؤ ځيرک خان ؤ، چې هم دغه ئې د ځېل کوونکي زوړ زړۀ دلاسه وه. کور کښې کۀ اوس ځيرک خان هر څو بې څوکه شوے ؤ، خو مشرې مور اؤ مابتئ د ناموس خان اؤ قمرو د برخې مينه هم دۀ له ورکوله. د کور نورو وګړو کۀ هغۀ سره ډېره مينه نۀ کوله، نو بيا هم د هغوي خواخوږي اؤ زړۀ سواندي د وړوکي ځيرک خان وخت تېري د پاره ډېر وو.

مابتئ کۀ بلقيس راوړې وه، خو د ناموس خان ګوته نيولې ئې پل اخستے ؤ. د هغې د اغوستن، بنګړو، نکريزو اؤ پېزار خوښول اؤ راؤړل په ناموس خان وو. د هغې ژبې د قمرو غېږ کښې خبرې زده کړې وې اؤ د ناموس خان سترګو نه ئې پېرزو پېژندلې وه. هغه چې په وړومبي ځل د پښغلتوب وينې ؤوبرولهْ، نو د خپلې مور په ځائے ئې خپل حال قمرو ته وئېلے ؤ. په هغه ورځ د مابتئ ژړا ته قمرو ډېرې دلاسې ؤوئېلې، ډېره ورته نانې کتانئ شوه، خو د مابتئ اوښکو قمرو هم ؤژړوله اؤ بيا چې به کله د مابتئ ورځې شوې، نو د لوپټې پيسکے خلۀ کښې نيولے د حيا نه به اوبۀ اوبۀ شوه. قمرو کښې دننه يوه مور وه اؤ دغه مور ته د بلقيس مابتئ په برخه رسېدلې وه. د پښغلوتئ لور زړۀ په ځائے کول اؤ دغه وينه باندې پوهول ډېر ګران وو. بلقيس خپلې لور سره دغه سر خوږ کړے نۀ ؤ.

داسې وخت چرته نۀ ؤ راغلے، چې مابتئ فردوس غېږ کښې اخستے ؤ، يا ئې چرې دلاسه کړے ؤ، خو د مشرې مور غېږ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بغېږ هغه ځېرک خان بل چا ته نۀ پرېږدي. دغه ورځ ځاموری ځېرک خان غېږ کښې نیولے سرِي سترګې ناسته وه. نن ځېرک خان د ځلوېښتو ورځو شوے ؤ. نن هغه ورځ وه، په کومه ورځ چې ناموس خان باران غوښتلے ؤ. هغۀ غوښتل، چې نن ورځ نه باران ؤوریږي، خو نن نه دُرې ورځې وړاندې باران ؤدرېدلے دے. قمرو وئېل، چې په نن ورځ به هغه ځلوېښتې نه لامبي، خو هغه نن نه دُرې ورځې وړاندې لمبولې شوې اؤ خاؤرو ته سُپارلې شوې ده. نن د ناموس اؤ قمرو درېمه ده. پرځندکاکا د هغوي بخښانې د پاره وریږې باندې کړې دي. عبدالرحمان مُلا ځان سره چړې اؤ د کلي څو مشران د هغوي بخښانې د پاره د قران ختم ته کښېنولي دي...... هغه قران چې ناموس اؤ قمرو لوستلے هم نۀ شو، هر څو کۀ مینه ئې ورسره ډېره کوله. چې کوم قام قران د مړو بخښلو، په نُخښتو کښې خوړلو اؤ برکت راتللو د پاره راخلي اؤ نور ئې کسوړې کښې نُغښتے تاخ کښې خوندي کړے وي، هغه قام په زمکه ننوځي. ښځې یؤ ځل د ځاموری غېږ کښې پروت ځېرک ته ګوري اؤ په سلګیو کېږي. دغه ښځې به خپلو کورونو ته لاړې شي اؤ هلته به تُرې د خپلو وړو په مخونو لېدلو ځېرک هېر شي. وُرندار به اوس هغۀ له څۀ وخت ورکړي؟، ځکه چې د کور دُرې برخې کار د هغې په سر شو (یوه برخه خپله اؤ دُرې برخې د قمرو). ښکلې خو هسې هم په تک پک اؤ تېره خُلۀ وخت تېروي (اوس خو پسې مېرګاتې سره د درې میاشتو کمیله هم نُخښتې وي، اوس به پرې څوک اُوده غوا پاڅوي؟). باور مې نۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، کهٔ د مشرۍ مور په زړهٔ کښې نور د زور څاڅکے وي، چې څهٔ له به ګوتې وروړي اؤ پاتې شوه مابتي، نو کهٔ هغې مخکښې کار کوۀ، نو اوس به ئې هم ؤکړي.

موسمونه په ډډه اؤړېدل راؤړېدل. کله به شپې کنګل شوې اؤ کله تپژنې..... کله به د ورځې اور ورېدۀ اؤ کله به یخې هوا د ژوندو څرمن څیرله. کله به خاؤره، ؤنې بُوټي اؤ کښتونه لُوڅ لغړ وو اؤ کله به خاؤرې، ؤنو بُوټو اؤ کښتونو د رنګونو شال ځان نه چاپېره کړو.

چې کله به ورځ د شپې غېږه کښې اُوده شوه، نو خوږ ځیرک به مابتي ځان سره څملولو. پروسکال چې د هاړ یوه خوپه شپه کښې اُوده شوې مشره مور سحر ویښه نهٔ شوه، نو هغه ورځې نه مابتي ځیرک ځان پورې نیولے ؤ. وړندار د مابتي لخوا د ځیرک په دومره پاملرنه خپله غاړه خوشې ګڼله اؤ د هغې خبره دروغ نهٔ وه. هغه د کور نه نهٔ ؤزګارېدله. بیا هم کله کله به چې د ناموس اؤ قمرو یادونو ژړغونې کړه، نو څو شپېو له به ئې ځیرک ځان پورې ؤنیولو اؤ بیا به ئې ورله تندے ښکول کړو. اوس خو هغې د مشرې مور ځاے هم نیولے ؤ. غم ښادي اؤ د چم ګاونډ راشه درشه هم د هغې په سر وو. ښکلې څهٔ خپلو وړو سره ګېره وه اؤ څهٔ د ځیرک سره د مابتي ډېرې مینې د هغې زړهٔ هغهٔ نه تور کړے ؤ. کهٔ خبره سپینه کړم، نو د هغهٔ نه به کله کله ښکلې کُرکه هم کوله، خو قمرو تل هغه لکه د خپلې خور ساتلې وه اؤ چې کله کله به مشرې مور هغې ته ژبه تېره کوله، نو قمرو به د ښکلې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینځلو. کڅ ستاسو یاد شي اؤ د وادۀ په وخت کښې لا د ښکلې نکریزو نه ښوي ختلو، نو ناموس هغې ته دېرې کانې ښنډلې وو. هغه وخت کښې یوه قمرو وه، چې د ښکلې زړۀ ئې ساتلے ؤ، دغه زباډونو به ښکلې چرې هم ځیرک سره کړکې یا د کړکې ځرګندؤنې ته نۀ پرېښودله.

د کړکې اؤمینې په شا خپله یوه قېصه، یوه پېښه، یؤ خوځښت اؤ یؤ جواز پروت وي اؤ بیا دغه کړکه اؤ مینه د خپلې موخې په لور د یوې تګلارې په کرښه روانه شي. د هندوستان په خاوره چې کال 1909ء کښې لارډ مورلے اؤ لارډ منټو د انډین کونسلز ایکټ (Indian Councils Act) غږ ؤکړو، نو په وړومبي ځل ئې د هندوستان وېش د پاره د مذهب کرښه راکښله. "ؤویشه اؤ بادار شه!" په لور دا د برېطاني واکمنۍ د هندوستان په مخ وړومبۍ ښستېزه ځپېړه وه. د دې تر مخه به یؤ مسلمان مسلمان کاندید اؤ یؤ هندو هندو کاندید له ټاکنو کښې خپله خوښه ځرګندولې شوه (یاد دې وي، چې دغه ټاکنو کښې د خپلو زمکو لرونکو ته د ووټ حق ؤ اؤ اولس ته د خپلې خوښې ځرګندولو واک ترلاسه نۀ ؤ. د هغه وخت د پیرنګي واکمن مُلاتړ ته ولاړو مسلمانانو دا لوي بریالیتوب ؤګڼلو، چې مسلمان د پاره ئې د واکمنۍ حق ترلاسه کړلو، خو په دې خبره غلي وو، چې د پنجاب مسلمانانو ته ولې دغه حق ورکړے شوے نۀ ؤ). اتۀ کلونه وړاندې د بنګال وېش باندې پښه راکښلې شوه اؤ...... (خبره به لږه ؤغځېږي خو راځئ، چې لږ ورسره د ځلې خوند واړوو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



1906ء کښې د بنګال وېش انتظامي موخه باندې شوے ؤ (هر څو که په شا ئې نورې هم ډېرې خبرې وې). وروستو د قام په نوم دغه وېش 1947ء کښې ؤشو. د 1906ء په وېش 1909ء کښې اؤ د 1947ء په وېش 1971ء کښې پښه راکښلې شوه. د خپلې ابۍ ژبې ولې له که هم د هغې حق نۀ ورکوې، نو هغه خپل حق د پاره د ابۍ ځُوي پسې ټوپک توپنچې ته لاس کوي. د هندوستان وېش د پاره د مذهب کرښه راکښلې شوې وه اؤ چې هندوستان ؤویشلے شو، نو د ورو قامونو په حقونو خېټه واچولې شوه. د "پاکستان کا مطلب کیا ؟... لا إله إلا الله" چغه په دیریشت کلونو کښې دروغ شوه. نمرختیز پاکستان د نړۍ په مخ بنګله دېش شو. بنګالیان غوخ کړے شول... سپُک کړے شول... د هغوي د چقولو هڅه ؤکړې شوه اؤ نن هم د هغوي په زړونو دغه پرهر داسې بُریښي، لکه چې د هغوي په شین ببرغ کښې سُور خال ځلند دے. د پاکستان نوي زره ځُواکونه هلته سرونه ټيټوي اؤ دلته ځیرک خان د خپل کاکا اؤ مابتۍ سره د مشرې مور په ځلي ګلونه اینبودلو نه ستُانۀ شوي دي. دلته ځیرک خان د مابتۍ په ریښتونې دلاسه د مشرې مور نیشت شتون ګڼي اؤ هغه یاران به د بنګالیانو د وینو تویولو په دغه ریښتوني تور لکه پېغور تر هغې سُوزي اؤ سُرۀ کیږي، تر څو چې ئې پخپل تېر ځان پړ ګڼلے نۀ وي اؤ د ورو قامونو د برخو ورکړې ته ئې غاړه ایښې نۀ وي (ځکه چې د پاکستان په چوکاټ دننه اوس هم ډېرې نیمګړتیاوې په ځانونو ویر کوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرګاټې هم اوس په "میرګاټي" سُور کېږي، "فردوس خان" نه پرته بله نامه اؤرېدل نۀ غواړي. مابتۍ ئې کله کله ؤسکونډي اؤ ښکلې خو به ئې ورته ځکه وائي، چې دا نوم پرې هغې ایښے ؤ. شونډه کۀ ئې شُنه شوې نۀ ده، خو چې څنګه ورځ تر ورځ غځېږي، نو برېتوکي به ئې هم زر ؤټوکېږي.

نن بله ؤشوه. د ډېر وخت نه به مابتۍ ځیرک نه د شپې خُوند اخستلو. هغې به خپله خېټه اؤ تیونه لوڅ کړل اؤ ځیرک خان پسې به ئې مړل. هغه چرې هم له خپلې خُوا خُوځېدلے نۀ ؤ. هغه د دغه خُوند په معنا پوهه نۀ ؤ..... هغه د دغه خُوند د اخستلو په چل پوهه نۀ ؤ..... هغۀ کۀ په هېڅ پوهه نۀ ؤ، خو بیا هم هغۀ د مابتۍ دغه کار ښۀ نۀ ګڼلو. نن داسې ؤشو، چې مابتۍ څنګه هغۀ له خپل لُوڅ تیونه خُلۀ کښې ورکول، نو هغۀ خپله خُلۀ بنده کړه اؤ د هغې نه ئې د ځان لرې کولو د پاره په ډډه د اؤرېدلو هڅه ؤکړه. مابتۍ څو شېبې ځان غلے کړو. د هغې وېرې د هغې سترګې چاپېره ؤځغلولې. هغې بیا د ځیرک مخ ځان پله راواړولو اؤ دا ځل ځیرک ؤ نۀ خُوځېدۀ. د خُوند دغه څو شېبو د هغې ساګانې ژورې کړې اؤ هغې د ځیرک ځنګون خپلو دواړو لېنګو کښې دومره جوخت ؤزورلو، چې د ځیرک خان ځنګون تود شو. د ځیرک پوزه د هغې د دواړو مېمو منځ کښې چپړیته شوه. هغه بیا هم ؤ نۀ خُوځېدۀ. (دا څنګه ؤشول؟) د دې پوښتنې ځواب څو شېبو کښې راغلو. ځیرک خان نۀ دا چې ځان د هغې نه ؤشوکولو، د کټ نه هم پاڅېدلو. هغه انګڼ کښې ولاړ ؤ. هغۀ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځۀ وخت ځان مابتۍ ته سپارلے غلے پروت ؤ، دغه وخت هغۀ پرېکړه کوله اؤ اوس چې مابتۍ دومره ستغ ځواب ؤلیدلو، نو ځان ته پرېړه شوه. ګناه تل د وېرې په غرمه پاڅي اؤ د توبې د ؤنې ګور سیوري ته په زمزم لامبي. دغې پړې د هغې وېره یوه شېبه کښې ؤوژله. هغه غلې په ډډه واؤړېدله. ځیرک هم لږ وخت وروستو بیا کټ ته ؤختلو اؤ هغې ته شا کړے ځملاستلو. هغه اودۀ شو، خو مابتۍ ټوله شپه ویښه وه. یؤ وخت کښې هغه پاڅېدله، ځیرک له ئې تندے ښکول کړو اؤ د هغې سترګو نه د پښېمانۍ دوه داسې سپینې، رڼې اوښکې د ځیرک په تندي ټوې شوې، چې اسمان کښې ځلېدونکي ستوري پیکه ښکاره شول. نن په وړومبي ځل مابتۍ ته خپل ځان کښې قمرو ښکاره شوه. نن هغې خپل ځان کښې یوه مور ؤلیده اؤ قمرو د ځیرک د پاره هغې کښې سا واخسته. د توبې دوه سپېځلو اوښکو د هغې زړۀ نه د ګناه تور ؤوینځل.

د وخت پښه په ځاے نۀ ؤدرېږي. نن د روژې د میاشت وروستے پېشمنے ؤ. ماسخوتن تراوېح ؤشوې اؤ لاد سپوږمۍ په لیدلو چا نۀ تر دغه وخته قسم خوړلے ؤ اؤ نۀ پرې چا طلاق غورځولے ؤ. دا ده، چې چاپېره پټاخې ډځېدلې.

"زما خو دا جامې خوښې نۀ دي، (وړوکي ځیرک پټ مابتۍ ته ؤوې) ما له د کمیلې په رنګ جامې".

مابتۍ زر هغه د لاس نه نیولے ځان سره بوتلو،

"نه ځیرک خانه! داسې مۀ وایه! تۀ خو هلک ئې. دغه خو د جینکو

(c) ketabton.com: The Digital Library


اغوستن دي".
"خو زما خو ستا د جامو غونډې ښُوبې وي او د کمیلې د جامو غونډې ښُوبې وي او د چاچي د جامو غونډې ښُوبې وي او".
"ته راځه، چې رېږوړې، پتاخې او ځلوبې درله راواخلم!"
(مابتۍ د خپل وس پورې د ځیرک خان په خُله د لاس ایښودلو هڅه وکړه).
فردوس هغه نه ډېر مشر نه و. بیا هم نه چرې هغه د فردوس سره لوبې کړې وې او نه ئې چرته لینده لاس کښې اخستې وه او نه ئې شینولو له ګوتې وړې وې. تل به کمیلې سره په لوبو و. نینګانې، میرګاتې، پټپټونې، شلغاتې، کوډکۍ، د ګوډا ګوډۍ وادہ او چیندرو. د کوډکۍ په وخت به هغه کمیلې ته وئېل،
"ته به سړے ئې. ته به کور ته راشې او زه به درله ډوډۍ راواخلم".
"نه کنه، جینۍ خو زه یم. زه به ډوډۍ راواخلم".
"خو ته زما غونډې ډوډۍ نه شې راخستې".
یو ځل ځیرک لوبو کښې په ستړې سا وئېلي وو،
"دوه ګوتې ځانډي"
خو د هغې نه پرته هم فردوس هغه په زمکه لوخړولے و او د هغه ځنګون نه ښُورک اوړېدلے و. د ځیرک نه زیات کمیلې ژړلي وو او د ځیرک په سر مابتۍ میرګاتے سم تپولے و. تر دې چې ښکلې او مابتۍ پرې خُله هم وهلې وه او دغه تُریخوالے تر ډېره د دوارو منځ کښې و.
د هغه کُړه وړه خپل پلار نه خُوځېدلي نه وو، خو د ښځو رنګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اؤ ناستې پاستې ته د پلار نه زیات نزدې ؤ. د هغۀ دغسې ځنې خویونه تر هغه وخته چا نۀ لیدل، چې تر څو مابتۍ په کور وه. د مابتۍ وادۀ نه وروستو هغه داسې یوازې شو، چې ځان ورته بیخي نیمګړے ښکاره کېدلو. نن دغه کور نه د هغۀ دوېمه مور لاړه. هغه په یؤ ژوند کښې دوه ځله یتیم شو اؤ دواړه ځله په اُومه خُلۀ. د هغۀ نه هغه څادر راښکلے شو، د کوم په شا چې هغۀ کښې د ننه جینۍ په ستر وه.

ګلیشان به ریښتیا د کبانو ازار وهلے ؤ، چې د هغۀ په پښغله لور میرزادګۍ پېریان کښېناستل. وړومبیو ورځو کښې به هغې په سمه لاره تیندک ؤخوړو اؤ ؤ به غورځېدله. بیا څۀ موده وروستو به چې ځنګه پرېوتله، نو څۀ بل غوندې خبرې به ئې هم کولې.

"تۀ د شېطان اؤرې اؤ زما نۀ اؤرې"، یوه ورځ د میرزادګۍ ترُور د هغې مور ته ګنګوسه کښې ؤوې، "په دې جینۍ پېریان ناست دي اؤ د کوچینوالي نه د دې سترګو کښې دغه سُرۀ وو".

مور ئې هم په زړۀ ؤخوړه. نور څۀ وي اؤ کۀ نۀ، خو چې اوس دا خبره کلي کښې خوُره شي اؤ ګلیشان ته د کبانو د ازار خبره د اولس د ژبې نه لرې شي. د ګلیشان څاروانه خوُي د پېریانو د اپلتې شا ته پټېدلے هم شو.

د روغتیاپال لخوا د مېرګو د رنځ نه د ژغورنې د پاره ورکړې شوې دوایانې کۀ یوه پله په هغې ډېرې ښې راغلې، خو بله پله د پېریانو دم دورخو هم روان وو. مېرګي د پېریانو سره تله کښې سُپک وو، ځکه خو زیات پام پېریانو ته ؤشو اؤ یوه ورځ د سیند

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لېونو څپو غېږې نه د ميرزادګۍ مړه ځاندره راووتله. کبانو د ميرزادګۍ نه يؤ پوتي هم خوړلے نۀ ؤ. ګليشان د کونډې يا جال پرځاے روان سيند کښې پرچاؤ سره نژدې کالتوس ډزولي وو. دغه کالتوس نومې ژوندے د اوبو سر له مړ راوړے ؤ اؤ چاپېره اولس د ګليشان دغه ناکړده غندلې وه اؤ د ميرزادګۍ رنځ ئې د پېريانو بؤ باندې اړولے ؤ.

"شېرکاکا! دوه يو. پچاسے پرې کېږده!"

(منډې ته ګوره وړونکي پانوس خان د چيو ؤوئېل).

"پخېر هلکانو! (شېرکاکا پانوس دوي ته ؤګوري اؤ بيا چېنک په سکرو کېږدي) پربښتو! سکارۀ ورته سرۀ کړئ!"

چې خو تول ښار کښې پخيږي، خو د شېرکاکا چې مازغۀ تکور کړئ. د شېرکاکا وېنا ده،

"زما پچاسے جنت نه راځي. زۀ اوبۀ، تورې چې، خوارۀ اؤ پې پتيله کښې واچؤم. اور دغه هر څۀ ؤسيزي اؤ د جنت نه ورته پخې چې راشي".

(هر څوک چې چې دومره ؤخوتکوي، نو جنتي کيږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه شپېه

کابل نه چاپېره ځومره ګنګوسې وې، څومره لُومې څٔورېدې او څومره پړکې لچېدل، دې نه پېښور خبر ؤ. کابل نه دٔرې زره کېلومیټره لرې ماسکو کښې د کابل په خاؤره د رنګون ښٔکالو د کابل غږ کښې رسېدلې وه. دغلته نه یؤ زر کېلومیټره لرې تهران هم ناجانه نهٔ ؤ او ځان څٔوندي کولو له ئې د سٔوېل لخوا شٔپول باندې لاس پورې کړے ؤ. هم دغلته نه یؤ زر کېلومیټره لرې هند کښې په کابل کهٔ هر څو څٔواچیني وه، خو د دغه څٔواچینۍ چینه ښکاره وه. پنځهٔ سوه کېلومیټره لرې اسلام اباد د "اېپې" غږ ته غٔوږونه څک نیولي وو او دغه تؤدوښې کښې د ګټې او تاوان سوال هغهٔ د پاره هېڅ ارزښت نهٔ لرلو. څلور زره اتهٔ نیم سوه کېلومیټره لرې شنګهائي خپل مخ ته لاس نیولے د سُور بېرغ د پېغور نه سترګې پټې کړې وې. کابل نه یوؤلس زره کېلومیټره لرې نیویارک کښې ناست جیمي کارټر د افغانستان په خاؤره د شوروي اتحاد د پرځولو د پاره نوکونه ترنګولي وو او د اسلام نوم اخستونکي د دغه پرځؤنې ډاګه کښې ټولې نړۍ نه د صلیب تر سٔیوري لاندې راټول شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته کۀ راتلونکي وخت کښې د افغانستان اؤ پاکستان منځ کښې د مېشته پښتنو تر منځه د بېلتون کربښې نه د دېوال دنګولو تابیا کېدله، نو لرې په جرمني کښې د یوې خاؤرې دوؤ برخو کښې د ویشلي اولس تر منځه د برلن د دېوال ړنګېدلو.
د اشنغر نه یؤ سپین ږیري عبدالغفار خان د اسلام مینه کښې مست خپل لېوني قام باندې غږ ؤکړو،
"دا نُخښته د امریکې اؤ روس ده. دا د اسلام نُخښته نۀ ده. دې نُخښتې ته مۀ وردانګئ! دې خاؤرې نه به د بارودو توپ روغ کړئ اؤ بیا به پوهېږئ نۀ، چې چا ؤویشتو اؤ له کومې خوا ئې ؤویشتو".
د امریکې ډالر اؤ د مُلا د جنت زیري د پښتنو په سترګو لاس کېښودل. یؤ مسلمان به پردیو ښځو پسې ګرځي، شراب به څښکي، روژې به خوري، غلا به کوي، دروغ به وائي، بېلمائځه به وي، خو د خنزیر غوښه به نۀ خوري، خپل کټ به چا سره نۀ نیموي اؤ د اسلام په نوم به ځان وژني. د ډالر اؤ روبېل د دوؤ کاڼو منځ کښې پښتنو خپل سرونه کېښودل، چې د اسلام په نوم چقڼې شي.
دې لرې اؤ خرې نه لرې د پراخه شنو کښتونو منځ کښې قدوس خان ګوډ کولو. هغۀ سره پنځۀ شپږ دیاړیمار بوخت وو. د رڼو اوبو نه ډک په شنو وښو د ببر لختي په پُوله دیارلس کلن ځیرک خان ډوډۍ اخستې روان ؤ.
"راځئ هلکانو! چې دا شخوند ورته ؤوهو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيرک خان ډېر لرې نهٔ ؤ، چې په ليدلو ئې مشر ترهٔ کودالـه کېښوده اؤ پخپلو ملګرو ئې غږ ؤکړو.

"ځيرکه! څهٔ دي راؤړل؟"

"دادا! يوه ډونګه کښې غوښه اؤ ښوروا ده، بله کښې لاونړ دے اؤ ډوډۍ دي اؤ پياز اؤ شنهٔ مرچکي".

"څومره شنهٔ مرچکي دي؟"

(هغه مرچکي ؤګوري، ؤ ئې شمېري اؤ ؤوائي)

"اتهٔ"

"اؤ ميرګاټے نهٔ راتلو؟"

د راماني تپوس له د ځيرک ځواب نه وړاندې قدوس ؤوې،

"لينده غاړې ته اچولې به چرته ګرځي (اؤ بيا ځيرک ته ؤوائي) لاس ؤوينځه، چې ډوډۍ ؤخورې".

"ما اوس فردوس سره ؤخوړه".

اؤ دې ځواب سره هغه يؤ اړخ ته کښېني.

قدوس خان ته په ځيرک کښې خپل ناموس خان ښکاري. دغسې قلاره خبرې..... هره خبره سر ته رسولو نه وروستو بله خبره کول اؤ هغه هم د تپوس ځواب کښې. بلخوا فردوس خان ؤ. هغه اوس لويګاټے ؤ. شونډه ئې نزدې نزدې شنه شوې ده. ټوله ورځ چې لوبو کښې بوخت وي، نو څهٔ مجسرېټ به ترې ؤځي، خو دا ده، چې پلار ئې پرې خپله غاړه خوشې کوې. کله به ځيرک پسې نخښتے وي اؤ کله کميله پسې. مابتے چې راشي، نو خپل ځوے اؤ د غېږې لور يوې شپې له ځان نه لرې کولے نهٔ شي، ګنې بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره فردوس ځۀ نا ځۀ توقه کړې وي. هسې هم ځاموري د خپلې دغه نڅور په ورو ډېره مئېنه ده. يوه ورځ چرته قمرو خپلې مور ته خپل کشري ورور عزت خان د پاره مابتې په ګوته کړې وه او د خپلې مړې لُور وېنا هغې سر ته ؤرسوله. بيا دغه کور کښې ځيرک باندې د مابتې سُود دغه غوښتنه نوره زياته کړه او قدوس او بلقيس هم د ځاموري کور ته سؤ او سور کښې وو.
عزت خان ښوونځي کښې استاذ ؤ. هسې توقې نه ورته پانوس "ماسټرګې" وائي. دغه کورنې کښې يؤ هغۀ دولسم پورې زده کړه کړې ده او يؤ پانوس شپږ کرښې سر ته رسولې دي. ميرګاټې ښوونځي ته تګ نه بڼ کښې مرغيو ويشتلو ته په لستوټو نښيږي کۀ کور کښې به هر ځومره وُرندار کله کله د ځيرک د جامې پېزار تپوس کولو، خو هغه هم اوس کله روغه کله ناروغه. کور کښې دننه د هغۀ ځۀ وو نۀ او کور نه بهر ناسته باندې به ورته پانوس سترګې سڕې کولې. کلې کښې ځۀ خوشکمار ځيرک ته سؤ کښې پراتۀ وو. دا هغه ځوک وو، چې مېندو ئې تل د لارې منځ ته شوندې چيچلې وې..... دا هغه ځوک وو، چې مېندو ئې د پرتوغانې غوټه په درشل تړلې وه..... دا هغه ځوک وو، چې ورور يا خور به ئې مخ او ؤنه کښې ګاونډې ته تلې وو.
کور نه بهر دغه وخت کۀ د پرځند کاکا نه پرته د چا پام ځيرک ته په ښو ؤ، نو هغه عبدالرحمان مُلا ؤ. عبدالرحمان مُلا به جومات کښې نمونځونو ورکولو سره سره د کلې ښوونځي کښې هم وړو ته اسلاميات ښودلو. د ماسپخين نمونځ به کلې کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېدامیرکاکا ورکولو. لکه دُولا مُلا د عبدالرحمان ډېر تېسته پاسته اؤ متهقوري زْده نهٔ وو. ابغ نېغ سړے ؤ. خپلې امامتۍ اؤ استازۍ سره ئې کار ؤ. په خبره دوه ئې دُولا مُلا سره ځْلهٔ وهلې وه، هغې نه وروستو خو بېخي غلے ؤ. دُولا مُلا به نهٔ څهٔ خبره کښې مسئلې راویستلې. روژه اؤ اختر کښې خو به تهوله سیمه ځان له وه اؤ دُولا مُلا ځان له. بیا د دُولا مُلا چې څومره زْده کړه وه، هغې نه زیات پخنوتېے ؤ اؤ عبدالرحمان کهٔ پخپل ځاے پوهنتون نه سند تر لاسه کړے ؤ، خو دومره قْړتې ئې زْده نهٔ وې.

"ناموس خان دې خْداے ؤبخښي، ډېر ښهٔ سړے ؤ. زهٔ د هغهٔ ځوي کښې هغه وينم. دغه هلک ډېر غلے اؤ ډېر دْروندخويه دے. کلي کښې نورو هلکانو سره ناسته پاسته ئې هم نشته اؤ ښوونځي نه هم وتلے دے".

عبدالرحمان مُلا چې مخکښې هر څهٔ وئېل، خو قدوس ترې خبره واخستله،

"استاجي! د هغهٔ کړهٔ وړهٔ اؤ ناسته پاسته داسې دي. بیا تاسو خو خبر يئ، چې کلي کښې هر څنګه خلق دي. دا خو نهٔ شو کولے، چې هم داسې ئې پرېږدو. ښوونځي نه خو هغه پخپله خوښه راغلے. هر وخت به ئې ژړل. اوس د هغهٔ په سر به مونږ چا چا سره نْخښتلو؟".

"زهٔ ويم، چې ښوونځي نه خو هغه راووتلو. کهٔ داسې شي، چې جومات ته د سحر اؤ مازيګر نمونځ له راځي، اؤ زهٔ ورته قران وايم اؤ دغسې لږ لږ کتابونه هم زْده کړي، نو دومره به شي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


يؤ خو به ټولنې نه ؤ نۀ شوکېږي اؤ بله دا چې د يوازېتوب احساس به ئې هم ډېر نۀ سکونډي".
"استاجي! دې کښې به "نه" څوک ؤکړي؟ کور سره خوا کښې جومات دے اؤ بيا تاسو نه زيات مونږ په چا باور کولے شو؟"
ځيرک خان د جومات شو. کۀ د کوچنيتوب څۀ ستغو يادونو ئې لاره نۀ نيوله، نو هغۀ د عبدالرحمان مُلا سره ښوونځي ته هم غاړه ايښودله. دا يوه خبره خو د هېرولو نۀ ده، چې کۀ هر څو قدوس خان دا وئېل، چې ځيرک خان د ښوونځي نه پخپله خوښه راغلے ؤ، خو ريښتيا دا دي، چې ځيرک خان ښوونځے د نورو هلکانو د پچموزو اؤ د فردوس خان په ګورېدلو اؤ غړنګېدلو پرېښے ؤ. نن هم چې کله هغه ښوونځي ته هلکان په تګ ؤويني، نو يوه ځړيکمنه تلوسه ئې زړۀ کښې جيګه اؤ سترګو کښې ښکاره شي.
د ملېشي تور اغوستن، د سُور ځلورګوټيز ستوري توري خولۍ اؤ وړې بستې ته هغه اوس هم پسخيږي. د عبدالرحمان سُود اؤ پيرزو ځيرک خان نورې نړۍ نه ؤشوکولو. څو مياشتو کښې د هغۀ ژبه روانه شوه. يا "اليف بې" کښې نخښتلو اؤ يا نهمې سيپارې ته ؤرسېدلو. دې سره ئې لږ لږ ليکل هم زده کړل.
"زۀ وږے يم".
د ځيرک نيازبيني خبرې د وړندار پام ځان ته راواړولو اؤ هغې اينګولے اؤ ډوډۍ د هغۀ مخې ته کېښودل.
"دا ؤخوره اؤ بيا لږ اُودۀ شه!"
"زۀ ډوډۍ خورم، نو بيا به نمونځ له ځم اؤ د سيپارې سبق به ويم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا چې راشم، نو اُوده به شم بنه؟"
"ته چې اوس جومات ته لاړې، بیا به مازیګر راځې، نو څه به اُوده شې؟"
وږندار په مُوسکو سترګو د ځیرک سوالیه ځواب ته په ځواب کښې یو بل سوال پرېښودو او لاړه، خو دغه پوښتنو له د ځواب په لټون د خپل سر تړلو پوهه لا ځیرک خان کښې نشته.
ترکاڼ کاکا د جومات کټ ټکوهه. پرځند کټ ټُرخ کښې واخستلو او تُوند د جمالي دوي حجرې پله روان شو. د کلي ادیرې ته څو میاشتو نه نوې کډه نه وه تلې. نن دا نه چې د جمالي کور کښې مړې شوې و، د کلي هر کور دغه مړینه باندې لالبننده و. د مُوندر دوي خپلوانو کښې ښادي وه او هلته ډزې شوې وې. دغه ډزو کښې د چا توپنچه غُله شوې وه او چې کله هغه د توپنچې بیا لچولو هڅه کړې ده، نو ډز شوي دي او تود مړدکې د مُوندر سینه کښې یخ شوے دے. څو ساګانو نه وروستو مُوندر غلے شو او د هغه چپیا سره د واده کور کښې یوه انګولا روغه شوه. ناوک پولسانو بوتلو او ډز کوونکے ؤتښتېدلو. د ښادۍ ورځ د ناوک او ناوې کور او ډز کوونکي په کورونو اور شوه، خو د مُوندر کور د پاره ئې د ژوند معنا نوره کړه. هغه ډېر ساده، یو مخیز او میني نه ډک سړے و. تل به قبرونو کنستلو له تلو، ځکه خو نن د هغه قبر کنستلو د پاره نیم کلے تلے دے. پښتانه د کلي یو کور کښې مړے د ټول کلي مړے ګڼي. په کلي کښې چې مړے ؤشي، نو د مړي خلوېښتۍ پورې د کلي ښادیانې ځنډوي. پخپله د پانوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان وادۀ دوه مياشتې وروستو شوے ؤ (يؤ ځل د پرځندکاکا پلار مړ شوے ؤ اؤ د هغۀ د مړينې په پنځلسمه ورځ د نصيرشاه اؤ شبيرشاه مور مړه شوې وه).

"زما د پاره ورته تۀ بنه ؤکړه".

د مُوندر د نکاح په وخت خپل ماما ته کړې خبره چې ئې ماما ته ورياده شوه، نو په زوره زوره ئې ؤژړل. هغۀ دومره په زور هغه وخت خندلي هم وو. د جمالي په کور دغه ژړا به هم غلې شي، خو خپلوانو کره ئې ناوې سپېره شوه. دغه ډز کوونکي ته کۀ مرے کبنې بېاسته واچوي اؤ ژبه ورله يؤ ګز بهر کړي، نو بيا به ځوک داسې ډزې نۀ کوي. زۀ درته يوه خبره کوم. زۀ د مرګ بدل کبنې د مرګ په ځاے د بخښنې منونکے يم، خو زمونږ ټولنه کبنې د زړه کړې پله ځوک دومره پاملرنه نۀ کوي اؤ ځکه تشدد د اولس خوي کبنې اغږلے شوے دے. تاسو به داسې ډېر لږ وګړي ؤوينئ، چې هغوي لوستي وي اؤ د ټوپک يا توپنچې سره مينه کوي. دغه وګړي داسې ځيزونه لاس کبنې اخستل هم سپکاوے ګڼي.

مونږ وختي د عبدالرحمان مُلا اؤ دُولا مُلا د نُخښتې خبره کړې وه. عبدالرحمان مُلا د نُخښتو نۀ دے، خو خُداے دې غرباش کاکا په خبر کړي، دا بزغلے هغۀ کړلے ؤ. هغه نيم نمونځونه په دُولامُلا پسې کوي اؤ نيم عبدالرحمان مُلا پسې. د هغۀ کور د کُوز اؤ بر جومات په ډيورنډ کرښه دے. روژه کبنې ئې سرسايه عبدالرحمان مُلا له ورکړې وه اؤ د واړۀ اختر په دريمه ماسخوتن نمونځ کبنې دُولا مُلا پسې ولاړ ؤ. نمونځ نه پس هغۀ غږ ؤکړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څهٔ کورونو ته اوس هم سرسايه پاتې ده اؤ هغه دې زر تر زره راؤړي، ګني زهٔ به ئې جومات کښې د اولس وړاندې نومونه واخلم. د هغهٔ خبرې لږې ترخې وې. غرباش کاکا به تل سنت کور کښې کول. دغه ورځ هم چې هغه کور پله روان شو، نو دُولامُلا پرې غږ ؤکړو،

"غرباش کاکا! تهٔ هم ځان ناجانه کوه مهٔ".

"ما خو سرسايه ورکړې ده".

"ستا دې يوه کاسيره په ما حرام وي، کهٔ راکړې دې وي".

"ما خو په روژه کښې عبدالرحمان مُلا له پېسې ورکړې وې. تهٔ هغهٔ نه تپوس ؤکړه!"

"نه! نو تهٔ نمونځ دلته کوې (هغه د مُصلې نه پاځېدو اؤ تندے ئې تريو کړو) اؤ د سپينې خْلې ياران دې نور ساتلې دينه".

"خو تاسو وايئ (غرباش کاکا هم لږ قار واخستو) چې موتاز له ئې ورکوئ. هغه ورځو کښې د هغهٔ کور کښې ناروغتيا وه اؤ ګېر ؤ. زهٔ خبر شوم، نو ما ورکړې".

څهٔ غرباش کاکا د دُولامُلا سره خبرې وړاندې نهٔ بوتلې اؤ څهٔ يؤ څو مشران تر منځه شول، هغه وخت خبره غلې شوه، خو په سبا د پرځند کاکا د چوپال وړاندې د اولس مخکښې دُولا مُلا په عبدالرحمان مُلا خْلهٔ ووهله اؤ دواړو کښې بيا ترِيخوالے راغلو. غرباش کاکا د خْداے هغه کور نه دُولا مُلا توري کړو، کوم کښې چې به د دُولا مُلا "الله اکبر" باندې نمونځ کېدلو اؤ عبدالرحمان مُلا به هغه لارې نه ځندړه کوله، په کومه چې به دُولامُلا تېرېدهٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحمان کۀ هر څو په هغۀ نۀ بلوڅېدلو، خو د ډُولا په زړۀ کښې خبره پرته وه. دغه وخت په ځېرک خان باندې د عبدالرحمان مُلا سُود هغۀ ته د پېغور اغوستن کښې ؤدرېدلو اؤ د هغۀ په سترګو کښې شېطان ؤخاندل. د ډُولا مُلا په دې هېڅ نۀ وو، چې د هغۀ دغه پليتې خبرې سره به د ځېرک خان ژوند کښې څۀ ځُول راځي اؤ د عبدالرحمان مُلا ډرناوي ته به څۀ پېښېږي.
نن شېرون اؤ بنډارے د عبدالرحمان مُلا جومات ته د مازيګر نمونځ له راغلل. شېرون اؤ بنډارے د ډُولا مُلا مقتديانو کښې هغۀ ته ټولو نه نزدې وو. دغه دواړو به کلي کښې لارې ښارلې. ډېره ټره به ئې ښنبکله اؤ د ډُولامُلا مرېدي به ئې کوله. په پنځ وخته بانګونو به هغوي جومات ته نۀ ورتلل، خو ماسخوتن نمونځ نه وروستو به چې د ډُولا مُلا خوا له ورغلل، نو ټوله شپه به ناست وو. د کلي ټول سپين روږي د شېرون اؤ بنډاري ناسته پاسته باندې غلي وو. يوه ورځ، نوم ئې اوس ما ته ياد نۀ دے، خو هغۀ څۀ خبره د دې دواړو په حقله د ډُولامُلا غوږ کښې کړې وه اؤ بيا چې دغه دواړو هغه سړے کلي کښې څومره سپک کړو، کۀ تا ليدلے ؤ، نو د پښو لاندې به دې زمکه تښتېدلې وه. هغه سړے پوهه ؤ، چې دغه خبره د هغۀ، د ډُولا مُلا اؤ خُداے تر منځه وه اؤ نۀ هغۀ شېرون اؤ بنډاري ته کړې وه اؤ نۀ خُداے.
د مازيګر نمونځ پسې چې دُعا ؤشوه، نو وړو خپلې سيپارې لاس کښې اخستې، يؤ اړخ ته اؤ لويګانو هلکانو چې هغوي کښې ځېرک خان هم ؤ، قرانونه خپله غېږه کښې ځان له کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو شېبو د پاره عبدالرحمان مُلا پخپله مُصله ناست ؤ اؤ چې کله هغه پاڅېدلو، نو بنداري ترې تپوس ؤکړو،

"استاجي! چې دا حُوره به څنګه وي؟"

د بنداري تپوس اؤ دغه وخت؟ عبدالرحمان په زړهٔ ؤخوړه. هغه بېرته په مُصله کښېناستلو. څو شېبو له هغهٔ زړهٔ کښې ډېر کرل رېبل ؤکړل اؤ بیا ئې ؤوې،

"حُوره د الله لخوا خپل داسې بنده ته، چې هغهٔ خپل ژوند د الله د احکاماتو مطابق په دې دنیا کښې تېر کړے وي، یوه ډالۍ ده. دا به جینکۍ وي اؤ".

د عبدالرحمان مُلا خبره شېرون نیمه کښې واخسته،

"دغه خبرې خو مونږ ته دُولا مُلا هم کړې دي. نوې څهٔ خبره ئې را ته ؤکړه".

د عبدالرحمان مُلا په مخ داسې موسکا راغله، چې د هغهٔ سترګو کښې د دغې هېڅ سیورے ښکاره نهٔ شو. هغهٔ یؤ ځل چاپېره ناستو خپلو مقتدیانو ته ؤکتل اؤ بیا ئې ؤوې،

"زهٔ یم، کهٔ هغه دے. خبره خو به د قران اؤ حدیث نه کوو اؤ بیا".

دا ځل بیا شېرون خبره واخسته،

"دې حُورې نه به قلار شو. دا خو نهٔ تا لیدلې ده، نهٔ ما اؤ بنداري لیدلې ده اؤ نهٔ دُولا مُلا. د غلمانو په حقله را ته ؤوایه! هسې هم دانه نیمه نن سبا تا ساتلې ده".

د عبدالرحمان مُلا سترګې دې خبرې اؤرېدو سره په زمکه ؤنخښتلې. الله دې ګُلباچا کاکا سره ښهٔ ؤکړي، چې هغه د دوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو په بوي پوهه شو،
"داسې کار به ؤکړې، چې دُولا مُلا ته به کښېنې. هغهٔ نه به دا تپوسونه هم ؤکړې اؤ کهٔ د نيا دې نوم پرېوتے وي، نو هم ورته ؤوايه، چې هغه ئې ورله د لاندې نه اوچت کړي (د ګلباچاکاکا خبرو سره د شېرون اؤ بنډاري سترګې دووسې شوې) اؤ کهٔ هغهٔ نهٔ شو، نو ما له به ئې راولې، ما سره ايجازه شته".
د دې خبرو په وخت د ګُلباچا سترګې اؤ شونډې يؤ رنګ پړشېدلې وې. ګُلباچا کښې دومره زور ؤ، چې شېرون اؤ دغه بل خپلې څادرې ؤڅنډلې، سپک روان شو. اوس د ګلباچا غوندې زورَور ته مخامخ ئې په ژبه ګيټې پرته وه.
د مابنام اؤ ماسخوتن نمونځونو پسې عبدالرحمان مُلا جومات کښې ايسار نهٔ شو. د شپې خپله کوټه کښې په مصله ناست ؤ، د هغهٔ لپه کښې د اوښکو څڅوبے کېدلو،
"اے خُدايه! د دغه وړوکي په سر ما مهٔ رانيسه! ما خپل وس ؤکړو، خو نور په سپينه لمن تور نه وېرېږم. د زړهٔ په حال تهٔ خبر ئې. ما ته خو د خپل عبدالسبحان نه".
اؤ دغه وخت د هغهٔ سلګيو هغه نورو خبرو نه ؤنيولو اؤ لپه کښې ئې څڅوبي نه دُرنه شېبه روغه شوې وه. (د هغهٔ دغه سلګيو ته د دلاسې لاس په سر ايښودلو د پاره د عبدالسبحان مور راغله اؤ هغهٔ سره خوا کښې په زمکه کېښناستله، د هغهٔ لپه ئې خپل لاس کښې ؤنيوله اؤ څو اوښکې ئې د هغهٔ د اوښکو سوېلۍ کړې).
ځيرک خان د عبدالرحمان مُلا د خوي بدلون باندې پوهه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر وخت وا نۀ خستلو. هغه پوهه شو، چې دغه تمبه هم هغۀ د پاره پورې شوې ده. د هغۀ ورځ کښې چې به څومره وخت سيپارې سره تېرېدلو، هغه وخت هم د هغۀ د خپل ځان سره شو. خپل ځان سره هغۀ ته يوه شېبه تېرول ډېر ګران وو. کله چې به کور کښې هغه يوازې شو اؤ انګڼ کښې به ئې سترګې چاپېره ؤځغلولې اؤ څوک به نۀ وو، نو لکه د ښځو لوپټه په سر کړې، هغۀ به څو شېبو د پاره ځان د سړو دې ځان خوښې نړۍ نه ؤشوکولو، خو دغه احساس د پاره به ډېرې لږې شېبې هغۀ سره ملګرې وې. د کور دېوالونو اؤ ورونو به کُومې واز کړي وو اؤ ځيرک خان به ليدل، چې لکه اوس به دغه کُومې هغه الواق تېر کړي.
د عبدالرحمان مُلا اوښکې د هغه اوښکو تاده وه، کومې اوښکې چې به راتلونکي کښې د هر هغه مذهب لاپه کوونکي مُلا سترګو نه بهېږي، کومو چې په افغانستان کښې د شوروي اتحاد اؤ امريکې نُخښتې له د اسلام اؤ کفر د نُخښتې نوم ورکړے ؤ اؤ دغه نُخښتې د پاره ئې د جنت په بيعه دیاړي کوونکي په کرښه اړول. د بوټو نوغي ويستلو پسې په نوي ورځو کښې د پاکستان دننه د اسلام راوستلو غږ کوونکي واکمن اتۀ کلونه تېر کړل. شوروي اتحاد په برخو کښې ؤويشلے شو. امريکه د نړيوال کلي يوازينے خان شو. هاهاها! د افغانستان خاؤرې نه کافران لاړل اؤ اسلاميانو د يؤ بل په وينو غړغړو کولو ته غاښونه تېرۀ کړل. د پاکستان مُلا د واکمنۍ د ډمې غېږه کښې د کرښې نه اخوا د مسلمانانو د وينو غړونه نۀ اؤري. تاريخ د وختونو په تندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلے کیږي.... اسلامي جمهوریهٔ پاکستان د اپیمیانو باغ شو. اسلام نهٔ ؤ، جمهوریت نهٔ ؤ، نیم پاکستان خو څوارلس کلونه اګاهو بېل شوے ؤ.
کلي کښې چې کوم خوشکمار ځیرک خان ته سؤ کښې وو، هغوي له ځیرک خان تر دغه دمه په لاس نهٔ ورتلو. اوس خو فردوس هم زنه خرؤلې وه. اوس هغه میرګاټے نهٔ ؤ، چې یوې سُپېږمې نه به ئې قڼ بهېدل اؤ لستوڼي سره به ئې سُپېږمې نه په مخ ؤمښل. یا خو غوټه موټه ؤ اؤ یا اوس لکه د پلار غځېدلے دے. کور کښې هم اوس پُرچ اؤ لګانی کله کله ماتوي. کله کله په مور هم سترګې سُرې کړي. د هغهٔ تندے په دې ښهٔ دے، چې په مشرې مور خاؤرې امبار شوې دي. کلي کښې کهٔ د هغهٔ وړاندې چا څهٔ وئیلي نهٔ شو، خو اوس هغه هم د غوښتنو د تخنولو په معنا پوهه ؤ. ډېرې شپې هغهٔ زړهٔ نهٔ شو کولے، خو دغه ورځ هغهٔ سم د ماسخوتنه زړهٔ کړے ؤ. د سپرلي هرکلي د پاره خاؤرې په لاسونو نکریزې پورې کړې وې. دغه د ژمي په شا کېدو ورځې وې. وریځې په ټولګو ټولګو کښې څو ورځې اؤرېدلې راؤرېدلې وې اؤ دغه ورځ ئې ستومانی ویستلو د پاره څانګونه خوَارهٔ کړي وو. وړومبي ښاخکي د وریځ لمن پرېښودله اؤ هغهٔ پسې نورو هم زړهٔ ؤکړو. د زلمو ښاخکو نه پېغله پسته شپېه روغه شوه اؤ تیارې ځان ښهٔ دُروند کړو. فردوس اوس شنشنهو سره د لوبو کولو پؤړی نه پل اخستے ؤ. اوس ئې نینځکې اؤ نینځکان خوښېدل.... ژوندی پستې نینځکې اؤ خوځنده پاستهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نينځکان. هغۀ د خپل کټ نه ځيرک خان ته لاس ؤغځولو. د لارې غل نه به کور کښې پټ شي، د کور غل نه به چرته ځي. د بهر شوکوونکو سترګو لاسونه د هغۀ په کور کښې د فردوس سترګو نه راوتلي وو. هغه لکه د ترېدلې هوسۍ ؤشوشنېدۀ. يؤ څو يادونه ورته څېلمه شول. د کلي د هلکانو ورېږ سترګې اؤ د پخوانۍ مابتۍ ترېږ شونډې. هغۀ دواړه ځايه سمون خوړلو. د هغۀ خاؤره داسې کښت نه اخستلې شوې وه، چې سړي اؤ ښځې دواړو د پاره پکښې خوند ؤ، خو دغه دواړو سره خوند اخستل د ځيرک خان زړۀ نۀ منل. هغۀ فردوس ځان نه اړولو د پاره په ډډه واؤړېدلو، خو هغه بيا هم نۀ اؤړېدلو. څو پېرې ځيرک خان کټ کښې هره ډډه په بله واړوله اؤ بيا پاڅېدلو، د کوټې ور کښې ؤدرېدلو اؤ توره تياره کښې ئې د رڼا د بخرې لټون د پاره سترګې بې رپه پرېښودلې.

"ما کښې داسې څۀ دي؟

زما د ښځو رنګونه اؤ خويونه خوښ دي اؤ په ما د سړو رنګ تپلے شوے دے؟

کوم خوند چې ما نه مابتۍ اخستلو، کومې تندې سره چې د مابتۍ سوېليو ما ته کتل، کومه لوږه چې د کلي د هلکانو سترګو کښې ده اؤ کوم خواږۀ چې فردوس ما کښې لټوي..... زۀ دغه هر څۀ نه کُرکه ولې کؤم؟

ما ته کۀ هلکانو کښې ځان نيمګړے ښکاري، نو جينکو کښې هم نۀ ځائېږم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سترګې ولې ما نه ډېر رانجۀ اؤ زما لاسونه د تکو سُرو نکريزو ګلونه غواړي؟
مُلا استاذ زما خبره باندې ولې غلے شوے ؤ؟
زما د پلار پحقله ولې ناپکښې ابیٰ. هغه ورځ زما په ليدلو وئېلي وو، "نور خو ئې هسې هم د پلار نه نُوک خوځېدلے نۀ دے، خو دا را ته لږ ډېر دغه ښکاري؟"
زما داسې زېږون کښې به د خُدا ے څۀ خوښه وي؟"
هغه ور کښې ولاړ دغه خيالونو اؤ تلوسو کښې وُرک ؤ. څۀ وخته پورې فردوس خپل شېطان په دې ؤغولوۀ، چې "اوس به راشي، اوس به راشي" اؤ دغه هيله کښې د هغۀ سترګې هم پټې شوې وې. باران به کله غلے شو اؤ کله به ئې بيا د زمکې په مخ خپل خالونه کېښودل. د ځيرک خان خپلو سترګو نه هم څاڅکو يؤ بل له لاس ورکړے ؤ. هغه چې د شپې هره برخه کښې خپلې بړستن کښې ځان نُغښتلے ؤ، خو نمر ختلو نه ډېر وروستو پورې هم هغه د پاڅېدلو نۀ ؤ. د هغۀ بدن ډېر تود ؤ اؤ د هغۀ ډېره يخني کېدله. هغۀ چې به خپل مخ بړستن کښې پټولو، نو د سُپېږمو نه راتلونکې تؤده تېژنه سيلیٰ به پرې ښه نۀ راتله اؤ چې مخ به ئې څرګندولو، نو يخنیٰ نه به ئې ګړګوزه وهله. غرمه هم لاړله، اؤ چې مازيګر هغه راؤلټېدلو، نو ګُورې وريځ سره ورته داسې ښکاره شول، لکه چې بيا ماښام شوے وي. دې ټوله ورځ کښې د هغۀ خُوا له څوک ورغلي نۀ وو اؤ نۀ ئې چا تپوس کړے ؤ اؤ هسې هم کله نا کله د هغۀ تپوس کوونکې يوه وُرندار وه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د دوؤ ورځو نه مابتېږ کره تلې وه. يوه کميله دغه کور کښې داسې وه، چې د ځيرک خان خيال به ئې کولو، نو هغې به د ښکلې د ګورېدلو له لاسه اوس هغه نۀ پوښتلو. بيا ماسخوتن شو اؤ چې فردوس اُودۀ کېدو له کوټې ته ننوتلو، نو د ځيرک خان زبېرګو ئې ځان ته پام کړو. هغۀ چې بړستن واړوله، نو څۀ ګوري چې ځيرک خان خولو کښې ډوب شوشنيږي اؤ د تبې له تاوه د هغۀ ټول بدن باندې يؤ رڼچ ګډ دے. هغه تُوند کوټې نه ؤوتلو اؤ چې ځنګه مُنا ته رسېدلو، نو قدوس خان مخې له ورغلو،
"ميرګاټيه! ولې وارخطا ئې؟"
"دادا! ځيرک تبې نه سم ربي".
دا اؤرېدلو سره قدوس خان په پانوس هم غږ کړو اؤ چې کوټې ته ننوتل، نو څۀ ګوري، چې ځيرک مرګونے پروت دے. د هغۀ مخ تک سُور شوے ؤ اؤ سترګې ئې زېړې اؤړېدلې وې. مخې سره پانوس د کلي روغتياپال پسې ورغلو اؤ دغه ځو شپبو کښې ښکلې اؤ کميله هم ورغلل.
"دا هلک پرون نه دې کوټه کښې پروت دے اؤ بيګا نه ئې دا سره تبه ده اؤ دومره ځوک د دۀ خوا له نۀ دي راغلي..... يره خو".
قدوس خان کله کله داسې تاؤدۀ ؤسېزي، ګنې نور هغه دومره غاړه چا پسې نۀ وړي.
"دادا! اوس دۀ نه مونږ څۀ خبرېږو. څۀ ورځې ترې مُولا بادر جوړ شوے ؤ، نو مونږ وې هلته به وي".
هغه هم ورځې وې، چې ښکلې به په اوښکو ژړل اؤ قمرو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره په وينو ژړل. ښکلې ډېره د ځان شوې وه.

"ميرګاټيه! تا دې ته وئيلي نهٔ وو؟"

"ما خو ځان له اوس ؤليدو نو"

د قدوس ځواب نه فردوس په دغې غاړه خوشې کړه.

وړندار چې پانوس سره د مابتۍ کور نه راغله، نو د کور انګڼ کښې ځيرک بړستن کښې نغښتے پروت ؤ. هغه اوس ډېر ښهٔ شوے ؤ.

"ځېرکيه! اوس څنګه ئې؟"

دې نه وړاندې چې ځيرک څهٔ وئيلي وو، تندار پړونے منجيله کولو، د ځيرک پله روانه وه اؤ ځواب ئې ورکړو،

"دغه يؤ خو اوس ځلمے دے اؤ دغه ميرګاټے ورته وايئ. دې هلک له نوم وړان نهٔ کړئ. ځيرک خان وايئ".

"کاکا! اوس ښهٔ شوے يم، خو دادا را ته وائي، چې لاپاڅې به نهٔ (کله چې ځيرک دا ځواب ورکولو، د نغري نه پاڅېدلو کښې "دې هلک له نوم وړان نهٔ کړې" اؤرېدو باندې ښکلې په وړانه خلهٔ غلي وئيلي ووې"هن! هلک. په څهٔ هلک؟") اوس مې کور کښې نمونځ هم ؤکړو".

"وړندار! مابتۍ څنګه وه اوس؟"

ښکلې پوښتنه ؤکړه اؤ هم دغه وخت وړندار د هغې سره لاس ورکولو پسې ځيرک سره کښېناستله،

"ډېره ښه وه"

"اؤ کاکۍ؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



”هغه هم ښه وه. ځاموری ابې سلامونه کول“.
وړندار د ځېرک خان سر نه پنځۀ پاوه تاؤ کړي.
(ځیرک خان وړندار ته ځکه د ے. وړندار داسې ګڼي، لکه چې کله کله قمرو هغې ته ځېلمه په کټکي کښېني اؤ خپلو رڼو سترګو کښې د مینې تهوله رڼا روښانه کړې هغې ته وائي، ”وړندار! د مابتې روزنه زما په تا پور د ے. زۀ د خپل پور عوض کښې ستا مینه خپل ځیرک خان د پاره غواړم“ اؤ وړندار لکه چې خپلو موسکو سترګو کښې قمرو ته وائي، ”نېکبختې قمرو! تۀ خو ما ته داسې وائې، لکه چې ما تۀ هېره کړې ئې“).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه شپېه

نړۍ کښې ډېر بدلونونه مخې ته راغلي دي.
بدلون خو د ځېرک خان ژوند کښې هم راغلے ؤ. دغه بدلون د هغهٔ ژوند ته ځان سره ډېر سُتونزي راوړي وو، خو چې تر څو ئې د زُغم تُوان لرلو، تېروهٔ ئې. په کور دننه مړې خُواګانې اؤ کور نه بهر وړې تړې سترګې. دغه چاپېرچل کښې د هغهٔ سا نُخښتله. د ژوند په کتهوۍ د سړيتوب برغولے پروت ؤ اؤ لاندې ترې د ناشُونو اؤ تېرونو اور غرغنده ؤ،. ځېرک ډېر خُوتکېدلے ؤ. د غوجل سره خوا کښې د تېکتړ شلېدلے تېر پروت ؤ،
"دا په منځ ځېرې کړه اؤ ځاروؤ له ئې اخور کړه!"
قدوس يوه ورځ مازيګري کښې پانوس ته وئېلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانوس لا دغه تېر له ګوتې نۀ وې وروړې اؤ نن چې کله ځیرک ته ځان ډېر زیات یوازې ښکاره شو، نو هم دغه تېر باندې ئې سترګې ښخې شوې. ځیرک د دغه تېر هومره ارزښت هم نۀ لرلو.
هغۀ غوښتل، چې د کمیلې سره په لاسونو نکریزې پورې کړي..... په لېچو کښې مړوند پورې بنګړي واچوي ..... په زنه شین خال کېږدي ..... اوږد پیچوکے ؤتړي ..... رنګین اغوستن واغوندي اؤ اوس کۀ هر څو د نیڼځکو د وادۀ اؤ ګوډیانو د ودُونو وخت تېر ؤ، بیا هم هغۀ غوښتل، چې هغې ته خپل زړۀ راؤسپړي. په کوچنیوالي د کمیلې د اغوستن غوندې غوښتلو باندې مابتې هغۀ ته وئیلي وو،
"غلے شه! تۀ هلک ئې".
هغۀ په دغه خبره یادؤلو سر ؤخنډلو، پخپل مخ ئې لاس راښکلو اؤ بیا ځان ته ګویا شو،
"کۀ زۀ هلک یم، نو د فردوس غوندې بُرېت اؤ ږیره مې ولې نشته؟ کۀ زۀ هلک یم، نو"
داسې ډېرې پوښتنې به پاڅېدې اؤ بې ځوابه به پاتې شوې اؤ څۀ وخت وروستو به بیا مخې ته راغلې.
د زړۀ خپل پاړخوب وي. وګړے کله کله د خپل چاپېر چل نه دومره مړه خوا شي، چې دغلته نه د تېښتې رؤ لټوي اؤ خپلې تهولې اندېښنې په دې ؤغولوي، چې دغه ځاے نه وتلو کښې به ئې زړۀ څۀ خو تېکاؤ شي. بیا ځیرک خو د خپلې نیا ځامورې د کور نه اخوا بل څۀ لیدلي نۀ وو. یؤ ځل نیم کۀ قدوس سره مېلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تلې ؤ، هغه به ؤ، پانوس خو به د ځیرک نه دومره څنډه کوله، لکه چې ښځه ورسره په لویه لاره کښې بې ستره بې پړوني ګرځي. "اولس دوي چرته په قلاره پرېږدي. پکار ده، چې دا هم لاړ شي. کراچۍ کښې یوه لویه کوڅه ده اؤ داسې وګړي ټول هلته اوسېږي. چې د ځان غوندې نور ؤویني، نو د دۀ به ورسره هم زړۀ یۀ شي. ما پخپله هغه ځاے لیدلے دے اؤ ځومره مُوده مې هلته دیاړې کړې دي".

د ځیرک په حقله د پرځند کاکا د خواخُوږۍ خبرو ته ځواب کښې یوه ورځ کاکُوان وئیلي وو. کاکُوان مُودو نه کراچۍ کښې اوسېږي. مخکښې خو به په کلونو کلي ته نۀ راتلو. چې وادۀ ئې ؤکړو، نو درې څلور میاشتې پس به ئې کلے اؤ خپل کور ؤلیدۀ. څۀ مُوده اګاهو هغۀ کډه یؤړله اؤ پوخ هلته ډېره شو. اوس بیا په کلونو کلي ته نۀ مخ کوي. د ناموس خان ملګرے ځیرک خان هم کاکُوان سره کراچۍ ته تلے ؤ اؤ هم کاکُوان د هغۀ مړي سره کلي ته راغلے ؤ. د پانوس خان سره هم د ځیرک خان په سر د هغۀ ډېره ناسته ولاړه شوې وه.

(د کاکُوان څنې په قبنچۍ د سمولو وخت کښې پرځند کاکا ژړغونے شو)،

"دې هلک ته چې ؤګورم، نو زړۀ مې را ډک شي".

"پرځند کاکا! تۀ ؤوایه، اوس مونږ څۀ کولے شو؟ دا د خُداے شکرونه دي، چې ټُرونه ئې پاملرنه کوي".

(اؤ بیا شپې نیمې له غلي کېدو نه وروستو رو غوندې اند ېښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library


غږ کښېي ؤوائي)
"خو هغه هم تر کومه؟"
"کاکوانه! عبدالرحمان مُلا څۀ وخت ځان پورې نيولے ؤ، نو د مېځري خولۍ په سر به ئې هر وخت سيپاره تُرخ کښې نيولې جومات ته مخه وه. هغه تمبه هم دُولا مُلا پورې کړه"
"هغه څنګه پرځندکاکا؟"
"خُدا ے دې د دُولا مُلا کُوډله ورانه کړي. اوس تۀ ؤوايه، چې عبدالرحمان مُلا نه ئې پتکے په داسې تور اورلړوني غورځوۀ. اے مړه! سر دې نۀ خُوږوُم، خو عبدالرحمان مُلا ته ګناه نۀ وه".
وېښتو سمولو د پاره د خپل پېر راتلو ته ناست ځيرک خان د پرځندکاکا اؤ کاکُوان خبرې اؤرېدلې. هغۀ دوېم داسې څوک د کاکُوان مخ کښې ؤليدل، چې سترګو نه ئې وېره نۀ کېدله. هغه چې به کله کله کور نه ؤوتلو اؤ د پرځندکاکا سره به څوک نۀ وو، نو د هغۀ د څپر لاندې به کښېناستو. د پرځندکاکا ډېر ښکلے ډولځاے ؤ. مېخ ته لويه هنداره ځوړنده، يوه توليه، دوه څپوتکي، دوه قېنچۍ، درې ږمنځې، يۀ د اوبو کنډول، څو پترې اؤ يوه چاړه.
څو ورځو پورې ځيرک خان ځان کراچۍ کښې ليدلو. هغۀ غوښتل، چې پرځندکاکا ته د زړۀ خبره ؤکړي، خو بيا به يوې ناليدلې وېرې هغه څۀ وئېلو ته نۀ پرېښودلو. يوه ورځ هغۀ زړۀ ؤکړو اؤ پرځندکاکا ته ئې شونډې ؤسپړدلې،
"کاکا!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هن ځیرک خانه ځویه!"

(هم دغه میني خو به ځیرک خان د پرځندکاکا خوا له راوستلو اؤ هغه به ئې خپل ګڼلو).

"کاکا! ما وې (دغه وخت هغۀ داسې دواړه لاسونه يؤ بل کښې ورکړي ځنګنانو کښې نیولي وو، څنګه چې وړوکي له د نوم ایښودلو په وخت ناموس خان کړي وو) دا کوم کاکُوان کاکا چې دے"

"هو ځویه! کاکُوان ستا د پلار ډېر ښۀ ملګرے ؤ".

"کاکا! هغه به (سا واخلي اؤ هغسې لاڒمکې ته ګوري) ما؟"

"څۀ بچیه؟"

(ځیرک خان لږ غلے ؤ. هغۀ زمکې نه سترګې نۀ پورته کولې. تر دې چې پرځندکاکا د هغۀ خوا له راغلو اؤ چې بیا ئې ؤپوښتلو، نو ځیرک خان په ټُخښتلې ژبه ؤوې،

"هغه کاکوان کاکا به ما (ځیرک بیا لږ غلے شي) کراچۍ".

ځیرک خان نه پرځندکاکا خبره اخستې نۀ وه، بیا هم غلے شو اؤ د پرځندکاکا سترګو کښې يؤ زړۀ سوَاندے نظر وینښ شو. هغۀ د ځیرک نه سترګې نۀ ویستلې اؤ دغه وخت هغۀ ته د ځیرک هغه تهول زُغم ؤدرېدو، د کوم په سر ته رسېدو چې ځیرک د کراچۍ نوم په خُلۀ واخستو.

"تۀ به کراچۍ کښې څنګه وخت تېر کړې اؤ بیا تُرونه؟"

د ځیرک سترګو نه رڼې اوښکې راغلې اؤ د هغۀ د ښو په سر ئې ؤځانګل اؤ په غُرېۀ نیولي غږ ئې ؤوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هغوي خو به څو ورځې زما تپوس هم ؤ نۀ کړي".
دې خبرې سره پرځند کاکا هم غږېږ ؤنيولو اؤ خپله ژړا ئې نوره ټينګه ؤ نۀ ساتلې شوه. د ځيرک خان سټغ وختونه د پرځند کاکا وړاندې وو. هغه په دې نۀ ؤ، چې د قدوس اؤ ناموس ګيلې له به څۀ ځواب ګوري، هغۀ په دې زړۀ خوړلو، چې ځيرک خان به په کاکوان څنګه سپاري؟ يؤ ځيرک خان د کراچۍ نه مړ راغلے ؤ اؤ دغه فال نه د هغۀ وېره کېدله. بيا هم هغۀ ځيرک له ډاډ ورکړو اؤ دا لوظ ئې ورسره ؤکړو، چې کاکوان سره به خبره ؤکړي اؤ هغۀ ته ئې د چا وړاندې د څۀ نۀ وئېلو ښونه ؤکړه.
"زما څوک اؤري؟ زۀ به چا ته ؤوېم؟"
مشره مور دې خدا ے ؤبخښي، شوملې چې به لرېې نرۍ شوې، نو هغې به زمکه اسمان يؤ کول،
"پيو ته توملہ واچوي اؤ بيا پکښې د اوبو منګے تش کړي، شوملې دومره نروبې کړي، چې".
"مور! زۀ خو شوملې نۀ کؤم. اوس ټول کلے رامات وي اؤ تۀ وائې، "سينګلے ورته ډک کړه!"، نو خاؤرې به ټينګې پاتې شي؟"
"خدا ے دې دوزخ پسې ړنده کړه ښکلې! خلۀ کښې را له لوېشت مۀ راکوه! ښکاره ورته وايه، چې نورې نشته".
د ښکلې خبره سمه وه، خو په مشره مور څۀ باور نۀ دے پکار. کۀ چا ته به "نه" کېدو، نو هم به ګورېدله، چې "شوملې د موټراپښې ښځې کره ختمېږي" اؤ کۀ شوملې به نروبې کېدې، نو هم به ئې خلۀ نۀ ؤدرېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن چې د شوملو نه سینګلي کښې بېلو شوؤ شوملو ته وُرندار ؤکتل، نو قمرو وریاده شوه. هغې به د ټینګو شوملو ډک سینګلے مشرې مور له بېل کړو اؤ بیا چې به کلي کښې نروبې شوملې ویشېدې، نو هم به پرې د مشرې مور څهٔ کار نهٔ ؤ. اوس خو کلي کښې څوک هم هغوي کره شوملو پسې نهٔ راځي. اوس خو بانېچغ هم دوي کره نهٔ چغېږي، نهٔ چورلېږي. اوس خو دوي له څوک میاشت کښې یؤ ځل مېلې نه بنګړي، نکریزې، شنشنې، نوي اغوستن اؤ ګاڼې نه د پُور ګُوړه هم نهٔ راوړي. د کلي ډېرې هغه ښځې هم اوس دوي کره نهٔ راځي، کومې چې به د قمرو خوا له راتلې. اوس دغه کور کښې ناموس خان نهٔ ؤ، چې د مېلې نه به ئې ټولو له ځیزونه راوړل، د پُور ګُوړه اؤ ګنې به ئې راوړل، وریې به ئې راوړل. اوس د بنګړو اؤ نکریزو مابتېٔ هم دغه کور نه تلې اؤ د ځېرک خان مامې شوې وه. شنشنو سره لوبې کوونکې فردوس له اوس هغوي ژوندۍ ګوډۍ د پاره خُواؤشا خپلو کښې سترګې ځُغلولې.

ماسخوتن غُوئې په خپلو ښُکرو پرتې نړۍ له ځنډ ورکړو. د کور لویو وړو اؤ ښځو سړو خپلې پېنځې څنډلې د کور انګڼ کښې ولاړ وو. زمکې جول ؤخوړو اؤ څپر اوس هم لکه د ټون شوي چرسي جوتې خُوړلې.

"ځئ ځملئ! زلزله ؤدرېدله".

د مشرې مور غږ سره ټول خپلو خپلو کټونو ته لاړل، خو د ځېرک خان سترګې اوس هم وېرندکې وې. مابتېٔ نهٔ وه، چې هغهٔ له ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاډ ورکړے ؤ اؤ د هغۀ دننه وېره ئې تېريستلې وه. پانوس خان نۀ خو زلزله کېښې د خپل کټ نه پاڅې اؤ نۀ د غوَئې د ښکر بګتې باندې باور کوې. هغۀ ته کټلو باندې دۀ هم ځان له دلاسه ورکړه. د مشرې مور (خُدا ے دې ؤبخښې) اؤ د هغې د پتنوس به تل د غوَئې په ښکر تؤده وه.

"بېلماځه! دوزخ پسې ړوند شې! يؤ پنځۀ ځلوېښت درې خو به پُرې ستا وي". خو پتنوس به دړيو پسې خاندل.

ځابتې مال ځيرک خان په ډېر ګيله من نظر پرځندکاکا ته کتل اؤ چې پرځندکاکا هغۀ ته ؤکتل، نو ږيرې سمولو د پاره راغلے بشير ئې په ځاے پُرېښودلو اؤ د کاکوَان کور ته ئې مخه کړه. هلته ورتګ باندې هغه د ځيرک د ګيله من نظر په معنا پوهه شو. کاکوَان هم بېګا کراچۍ ته تلے ؤ. دا ځل هغه د خپلې لُور وادۀ د پاره راغلے ؤ اؤ پنځلس شپاړس ورځې نور بايد چې په کلي ؤ. هغۀ خپل واړۀ کور پُرېښې وو. پرځندکاکا چې ستُون شو، نو ځيرک خان د هغۀ د ډولځې مخې ته ولاړ نۀ ؤ. هغه تلے ؤ. دُرې ځلور ورځې تېرې نۀ وې، چې کاکوَان بيا کلي ته راغلو اؤ پرځند کاکا هغۀ سره د خبرې وړاندې بوتلو د پاره د خبرې سر ؤموندلو. مازيګر کېښې پرځندکاکا د کاکوَان سره د ميراجان دوي د کېښتونو په لور لاړو اؤ ځان ئې ورته داسې راؤسپړدۀ،

"کاکوانه! د ناموس اؤ د هغۀ د تېر مړينې نه وروستو ما دغه هلک هره ورځ ډېر نيمګړے اؤ شُوکېدلے ليدلے دے. اوس د ژوند په هغه برخه کېښې دے، چې نۀ پُرې کور کېښې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېږي اؤ نۀ بهر چا سره د ناستې دے. هغه خپلو کبنېې پُرد ے دے، نو پُردو کبنېې خو پُردے پُردے دے، بيا تۀ خو دا اولس پېژنې".

"پرځندکاکا! د ځيرک خان مړګ زۀ ډېر بې وزله کړے ؤم. زما خو دې کلې کبنې يؤ هغۀ اؤ يؤ ناموس خان سره ناسته پاسته وه اؤ هغه به هم ستا ځاے کبنې. بيا چې کله ناموس خان مړ شو، نو زما پُبنې به کلې ته راتلې، خو زړۀ نۀ. اوس چې د ناموس د ځُوي پحقله تا نه اؤ نورو نه اؤرم، نو لا مې په زړۀ نبنې وُرتيږي. څۀ ؤکړو دې هلک له، چې مړ يار ته مو مخ په لاړو شي؟"

پرځندکاکا په يؤ ابړ زمکې ته کتل، دواړه لاسونه ئې خپلو تُرخونو کبنې ورکړي وو اؤ کاکُوان نه ئې خبره واخسته،

"ما چرې داسې نۀ دي کړي (هغه هغسې زمکې ته ګوري) چې خپل چوپال نه د کار په وخت کبنې د کبنتونو پله چا سره راغلے يم. (هغه د کاکُوان مخ ته ؤګوري) نن د ځيرک د پاره تا سره راغلم. دغه وړوکے چې وينم، زړۀ مې غوڅيږي. اے مړه! (اؤ د پرځندکاکا سترګو کبنې اوبنکې ؤځلېدې) تا چې هغه ځاے يادوۀ، نو تۀ ئې هلته ځان سره کراچۍ ته بوځه کنه".

پرځندکاکا خبرې سر ته رسولو سره په ځاے ؤدرېدلو اؤ کاکُوان نه هم سابۀ سيلۍ يؤړل. پخواني ځيرک خان اؤ اوسني ځيرک خان کبنې د ډانګ اؤ پُړانګ توپير ؤ. ريښتيا خو دا دي، چې د هغه ځيرک خان کلي نه په تګ ډېرو بې مخو د کاکوان مُلا تپولې وه (دا بېله خبره ده، چې کلي ته په راتګ ئې کونډې مور ته هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکې زبادلې وې)، خو دا ځیرک خان بوتلل به هغهٔ له پېغور اؤ تور شي. بیا دا خبره هم وه، چې کراچۍ کښې به هغه په کوم دربار ځیرک کوځوي اؤ په چا به ئې سپاري اؤ کهٔ خُدا ے مهٔ کړه هغهٔ باندې څهٔ ؤشي، نو ځان له به د کومې بانې پرتوګ ګنډي؟ لږ وخت کښې ډېرې پوښتنې د کاکُوان مخې ته ؤدرېدلې اؤ په کړاغو سترګو ئې ورته کتل، خو دغه پوښتنو له د ځوابونو د لټون په ځا ے کاکُوان پرځند ته مخ کړو،

"قدوس دوي نه به سبا په څهٔ ځان ژغورم؟"

"قدوس چې ځان له ځواب ورکړي، هله به بل نه پوښتنه کوي. کاکُوانه! هغه کشر ته به تند ے په دې نهٔ بُوتهٔم، چې څه! هلک ؤ، خو قدوس ته (لږ غلي کېدو نه وروستو ئې لږ ډېر زور سره ؤوې) قدوس ته خپل مړ ناموس خان هم مخې ته نهٔ ؤدرېږي، چې په دې هلک ئې ځان ناجانه کړے د ے؟"

خبرې ډېرې ؤشوې اؤ بیا چې کله نمر په ډوبېدلو کلي کښې تیاره کړه، نو د پرځند اؤ کاکُوان خبره سپینه شوه.

خپل وخت سر ته رسولو نه ورځ دوه اګاهو کاکُوان ښار ته د تګ تابیا ؤکړه اؤ د پرځند کاکا په وینا ځیرک خپله غوټه چمتو کړې د چرګانو بانګ ته غوږ ایښے ؤ. ټوله شپه هغهٔ وینه ؤویسته. د خپل مور اؤ پلار یاد اؤ د مابتۍ مینې هغه ډېر ؤلړځولو. هغهٔ غوښتل، چې مابتۍ خپل دغه ګام اخستو نه خبر کړي، خو بیا به ورله دې وېرې غږ ته په خُلهٔ لاس کېښودلو، چې هسې نهٔ د هغې ښونه د تېښتې دغه لاره کښې خنډ شي. یؤ ځل خو هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور انګڼ کښې ولاړ اسمان ته په یؤ اېر کتلو شو. هغۀ څۀ وئېل غوښتل، خو د ګیلې کولو چل نۀ ورتلو. هغۀ یوه سلګۍ ؤوهله اؤ زر کوټې ته بېرته ستون شو. خپلې سلګۍ سره هغۀ ته ښکاره شول، لکه چې قدوس، پانوس، ښکلې اؤ فردوس لوړونه اؤ ډانګې راخستې دي اؤ د هغۀ هډوکي ماتوي اؤ کمیله بې وسه ولاړه منځ کښې ګواښ هم کولے نۀ شي اؤ چې کوم ګوزار د ځیرک په ځاندره پرېوتونکے دے، د هغې درد ته کمیله د اوس نه زبېرګي کوي. داسې برېښي، لکه د ځیرک خان د پرهر څړیکې چې د کمیلې ځرمن کښې غونځیږي. د شپې په یؤ پؤړۍ هغۀ له خوب جوته هم ورکړه، خو هغۀ ځان ؤسکونډلو،

"نن به زۀ د کړاوونو نه ازاد شم.....

نن ما د پاره خوب خپل ژوند سره خیانت دے.....

نن به زۀ د ژوند یؤ نوے مخ وینم (اؤ دغه وخت د ژوند د دغه نوي مخ تېرۀ غاښونه، سرې ویروونکې سترګې اؤ غټ شونډان هغۀ ته مخامخ شول، خو هغۀ ترې خپل پام ستون کړو) زۀ به د نوي ژوند شا ته د تېر وخت هره بدرنګي ښخه اؤ هېره کړم".

د کمیلې د سلګۍ خیال هغه ګوتې نه ؤنیولو اؤ هغۀ ته ئې هغه ورځ وریاده کړه، کله چې کمیلې ډېر ژړلي وو اؤ بیا هغې ورځ نه وروستو هغۀ اؤ کمیلې چرې نینګانې ؤ نۀ کړل.

"کمیلې! ولې کوکو؟"

ښکلې سرې سترګې کمیله ؤپوښتله، خو سلګیو کمیله خبرې ته نۀ پرېښودله. مور ئې هغه پرېښودله اؤ فردوس ئې ؤپوښتلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زهٔ ترې څهٔ خبر يم؟ بهر د راپوړې نمسۍ اؤ شیشړې سره دې اؤ ځیرکو نینګانې کول نو"

"دا ځیرکو دې ولې ؤوې؟ میرګاتیه! (د مابتۍ تریخ غږ سره فردوس خپله لینده اخستې بهر منډه کړه) زهٔ به دې ؤشلؤم کهٔ هلک ته دې بیا وران نوم واخستو".

مابتۍ هغهٔ پسې یؤ دوه تُوند ګامونه هم واخستل، خو د میرګاتې پښې د ښکلې ژبې ته تلې دي.

"هن! هلک. د څهٔ هلک؟"

ښکلې ځان سره پټ ځکه ؤوې، چې په مابتۍ بلوڅېدلې نهٔ شي. د کمیلې په یادونو د ځیرک د پاره د هغې د مور د کُرکې کرښې ژورېدلې. د کمیلې ډېر خویونه خپلې تُرور مابتۍ ته تلې دي..... د کمیلې ډېرې نخښې د مابتۍ غوندې دي..... د کمیلې ډېرې خوښې د مابتۍ په رنګ دي. دغه خویونو، نخښو اؤ رنګونو کښې یؤ خُوي، یوه نخښه اؤ یؤ رنګ ځیرک خان هم دے.

په هغه ماښام ځیرک اؤ کمیلې ډوډۍ خوړله. کمیلې ځیرک ته غلې ؤوې،

"شیشړې سمې کوترې ما نه پاڅولې اؤ زما کپړې ئې سمه ؤسوزوله".

"زهٔ به سبا له دوه پېرې څلور لُوښتې، یؤ پېره نهه نینګانې اؤ دوه څپقونه اؤ دوه ګوتې راؤباسم اؤ باچا به شم اؤ بیا به تا له هم سمه ډېره لاړه ؤوهم اؤ تهٔ به کوتوال شې اؤ بیا به سم ډېر ډېنګان اؤ کوترې اؤ چپاتۍ د شیشړې نه ؤباسو، خو تهٔ مهٔ ژاړه، ښه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وړندار ځېلمه کټ کښې پرته ځنګل په سترګو ایښے د دواړو خبرې اؤرې)

"زۀ به ترې سمې په زور زور کونترې خېژؤم"

"نه کنه مړې! بیا خو به هغه هم خپلې مور ته ژاړي"

"نو ولې؟"

"بیا به بل ځل هغه تا ګېره کړي اؤ سم ډېر ډینګان اؤ کونترې اؤ چپاتۍ به درنه ؤباسي"

"زۀ به ورسره بیا تګي ؤکړم"(ښه! کمیله تګي هم پېژني؟)

"نه کمیلې! تګیژنان خو د خُدا ے بدي شي. بیا به ما اؤ تا دوزخ ته غورځوي (وړندار مخ نه ځنګل اخوا کړي اؤ ځیرک ته ؤګوري. د ځیرک هغې ته شا وي. کمیلې په نمړۍ شخوند پرېښے وي اؤ ځیرک ته ګوري. ځیرک لږ غلے وي اؤ بیا خپله خبره سر ته ؤرسوي) مونږ به نور نینګانې نۀ کوو، نو نۀ به مونږه ځوک وهي اؤ نۀ به مونږه ځوک".

د تُوت په ؤنه کښې ناست بانګي بانګ ؤکړو اؤ ځیرک د یادونو غېږ نه ؤشوکېدو. د خپلو پښو ښکالو ته هم په خلۀ لاس ایښے ځیرک غوټه تږخ کښې نیولې په ور ؤوتلو. پرځندکاکا لږ اخوا ولاړ ؤ. د ځیرک تېښته د یوې تورسرې متېزتوب نه نۀ لږ تور لرونکې وه اؤ نۀ د لږې دښمنۍ خبره وه. پرځندکاکا مرګ ته هم غاړه ایښې وه اؤ د کاکوان غاړه ئې هم دغه ښاسته کښې ورکړې وه. پرځندکاکا کلي نه ډېر لرې پورې ځیرک سره لاړو اؤ بیا د سوپېدارو د ؤنو منځ کښې دواړه ځو شپېو د پاره کښېناستل. تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې چې کاکوان راغلو،

"کاکوانه! واړۀ؟"

پرځندکاکا د ګنګوسي غوندې ؤوې، دغه وخت هغه د تيارۍ اؤ سيلۍ نه وېرېدلو، چې د هغۀ غږ کلي ته ؤ نۀ رسوي.

"اند ېښمن يم، کۀ سبا د چا د خُلې نه ؤځي. ما واړۀ کلي کښې پْرېښودل اؤ ځۀ مُوده وروستو به پخپله هم پوخ کلي ته راشم. د ناموس د پاره به ځان هم په داؤ کړم".

پرځندکاکا ژوند کښې په وړومبي ځل ځيرک خان ځان پورې دومره جوخت ؤنيولو اؤ د اوښکو اؤ سلګيو سره ئې پْرې د خپلې خْواخُوږۍ اؤ مْرستې زْباد ؤکړو.

دغه نْمر چې ځرېکه وهله، نو ځيرک خان لا خپله سيمه کښې ؤ، خو تر دغه وخته هغۀ ليدلې نۀ وه اؤ بيا بله ورځ چې نْمر ځملاستلو، نو ځيرک خان کراچۍ کښې ناست ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږمه شپېه

کلي کښې به عبدالرحمان مُلا قران لوستلو اؤ دُولامُلا به خوړلو. دوه دْرې ورځو کښې قدوس ته د ځیرک د بې درکۍ احساس ؤشو، خو کلي شْپږ اتۀ ورځې دغه غږ ته رسېدلو کښې واخستلې. د ښکلې ژبه دې چاړې شي، کۀ هغې راپوړې ته وئیلي نۀ وو، نو کلے به څو نورې ورځې هم هغۀ نه بې خبره ؤ.

"عدوالرحمان ایله په غلمانو جهادونه کوي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران خوړلو نه وروستو به ډُولامُلا دغه خبره کوله. ډُولا به خپل "عدُو" ته "د رحمان عدو" وئېلو. عبدالرحمان د ډُولا عدو نۀ ؤ، خو هغۀ ته ځکه داسې ښکارېدلو، چې د کښتونو نه به د ډُولا نه زياتې دانې د عبدالرحمان مُلا کور ته راتلې اؤ د سرسائې ګېډ ے به هم لږ ډْروند اؤ پېړ ؤ.

عبدالرحمان مُلا ته چا د ډُولا مُلا دغه پچموزې په مخ وئېلې نۀ شوې اؤ بله دا چې هغۀ به ئې ځواب هم نۀ ورکولو اؤ نۀ هغه چا له په ځواب ورکولو پړ ؤ، خو قدوس خان کۀ به پوښتلے کېدلو، نو هغۀ سره ځواب نۀ ؤ.

سحر وړې وخت مابتې پړونے ځان پسې راښکلو، د پلار کور ته راغله اؤ سْرې سترګې ماتې سلګۍ ئې د لْوې قدوس نه تر وړې کميلې په ټولو خلۀ راپورې کړه،

"هغه ورک شو ے نۀ د ے (په زوره ژړا سره)، هغه د دې سابندۍ نه وتلے د ے. د هغۀ اغوستن به په ښيرو رنګ واړولو، خو چا (درې ځلور سلګۍ).....اؤ... اؤ هغۀ خو به د ډوډۍ نۀ وې، چې دغه ميرګاټې نه به ککړ لوخے پاتې شو، نو (بيا سلګۍ).....

کۀ ژوند ے ؤ، (اوس هغې ژړا لکه رو کړه، اوښکې ئې ؤچې کړې) را به شي، زۀ به هم دا درشل بيا ؤوينم، اؤ کۀ خْدا ے مۀ کړه..... (هغې دوه ګامه په شا واخستل) زۀ به دې کور ته ؤ نۀ ګورم. زۀ تاسو له هغه وخت پورې مْړه شوم، تر څو چې ځيرک خان دلته راغلے نۀ وي".

د دغه وېنا په وخت څو ځله ښکلې اؤ مور ئې د هغې نه د پړونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستلو د پاره لاسونه غځولي وو، خو مابتې ځان ته پرېښي نۀ وو. مابتې خپل مېړۀ هم کور ته دننه تللو نه ايسار کړے ؤ. هغې کور کښې ځاموره ابۍ هم خبر کړې نۀ وه. د ځيرک بېلتون سره دغه کور مابتې هم ؤبائېلله. د دې کۀ د بل چا وي اؤ کۀ نۀ، د قدوس اؤ بلقيس زړونو کښې دغه غرِ سره نۀ ورانېدونکې کرښه راښکلې شوه. مابتې نيازبينه وه، ځکه ئې تل خپله اؤرېدلې اؤ خپله کړې وه. دغلته ئې هم خپله واؤرېدله، خپله ئې ؤکړه.

کاکوان نن ډېر ناوخته راغلو. دغه وخت پورې د ځيرک خان سترګې ورغلې وې. د ور کړپ سره نېغ کښېناستلو. اوس هم کۀ هر څو د هغۀ زړۀ لاپه ځاے نۀ ؤ، خو بيا ئې هم کاکوان ؤپوښتلو،

"کاکا! ډوډۍ؟"

"خوړلې مې ده"

کاکوان خپله کوټه کښې چاپېره کتل. هغۀ څۀ وئېل غوښتل، خو د خبرې تاده ئې اېښودلې نۀ شوه. دا د هغۀ کور ؤ. دېوال ته اغوستن ځوړند وو. يۀ مېخ ته ببوځے هم ؤ. پکې توربښن غوندې جالکې نيولې وو. په دېوال د تېر باران د څڅوبې خاپونه ښکاره وو. تاخ کښې لوخې پراتۀ وو. د دوړې بوي د هغۀ سپېږمو له اؤ نرے کشارے ئې غوږونو له راغلو. هغۀ ته ښکاره شول، لکه چې نيمکۍ دغه کوټه جارو کوي. هغۀ نه کوټه کښې ولاړ ځيرک خان هېر شو اؤ خيال کښې د نيمکۍ سکوندلو د پاره ؤخوځېدلو، چې د نکورې غرِ ئې تر غوږو شو،

"داجي! ما له دې الې پېان لاؤلل؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکوره خو اوس وادهٔ شوې هم ده. هغهٔ ته کهٔ ډېره ګرانه وه، خو کله کله چې به داسې وخت کېښې هغې غږ ؤکړلو، نو دهٔ به هم سوخت نه شوندږه ؤچيچله.

"کاکا! خېر خو دے کنه؟"

د ځیرک خان تنکۍ خبرې لکه د نکورې د غږ هغه بیا ژور خیال نه راؤويستلو. هغهٔ د خبرې د پېل کولو ته ځو ورځو نه ځان ژغورلو اؤ نن خو هغهٔ د ځیرک خان خبره هم کړې وه، خو په لاره ئې بیا ځان ملامته کړو، چې هغه به ځیرک د چا په اسره دغلته پرېږدي. کور ته راتلو سره هغهٔ خپله پرېکړه بیا واخستله، ځکه چې هغه کله هم کور ته راغلے ؤ، هر ځل هغهٔ د نیمکۍ اغوستن مېخ ته داسې ځوړند لیدلے ؤ، لکه چې چا راخستے اؤ اغوستے وي. نن ځیرک نه پخپلو شونډو مښلے رنګ هم هېر شوے ؤ، ځکه خو سره د راتلو کاکوان د خبرې تاده ایښودلې نهٔ شوه.

"ګوره ځیرک خانه! ستا پلار زما ډېر ښهٔ ملګرے ؤ اؤ د چا په نوم چې ستا پلار ستا نوم ایښے دے، هغه ما سره کراچۍ ته راغلے ؤ. هغه وخت مونږ هلکان وو. د دې ښار ډېر ژور کُومے دے. دلته ډېرې تیارې دي. ما دلته ځیرک بائېللے ؤ (هغه کښېناستلو سره غلے شولو، پېزار ئې ؤويستهٔ اؤ بیا ئې خپله خبره روانه ؤساتله) ځیرک زړهٔ ور ؤ. په ژوند دې ښار هغه تېرولے نهٔ شو. ځکه ئې ؤوژلو. هغه ستا غوندې نهٔ ؤ، زما به ئې نهٔ منله. تهٔ د هغهٔ غوندې نهٔ ئې، زهٔ ستا منلے نهٔ شم".

ځیرک د زمکې نه سترګې اوچتولې نهٔ اؤ کاکوان هغهٔ نه سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويستلې نۀ. نن د ځيرک د پاره هغۀ خبره هم کړې وه، اؤ دا زړۀ ئې هم کړے ؤ، چې ځيرک خان به هلته بوځي، چې هغه د ځان غوندې خلقو سره خوشاله شي. بيا لاړه کښې کاکوان په ځيرک ؤوېرېدلو اؤ کور ته راتګ سره هغۀ يؤ ځل بيا خپل زړۀ وړومبۍ خبرې ته واړولو. اوس هغۀ دا پرېکړه کړې وه، چې د ځيرک په خوښه به ګام اخلي.

"کاکا! ما ته داسې ښکارېدل، چې زۀ نۀ د فردوس لالا تولګي کښې د ناستې يم اؤ نۀ کميلې سره ځائبږم. هغه ورځ تا د پرځندکاکا سره خبره ؤکړه اؤ اوس زۀ دا ګڼم، چې يؤ ځل زۀ هلته ورشم. يؤ ځل زۀ هاغه ځاے ؤوينم".

"خو کۀ تۀ هلته هم خفه وې، نو بيا؟"

کاکوان د ځيرک خبره نيمه کښې غوڅولو سره پوښتنه ؤکړه.

"زۀ به دا ؤوېم، چې سلګيو سره ژوند دے،
څۀ هلته وې اؤ څۀ به دلته شي.
زۀ به دا ؤوېم، چې ژوند يؤ پېټے دے،
څۀ مې هلته يؤړو، څۀ به دلته ؤګرځوم.
زۀ به دا ؤوېم، چې په ما د خُداے دغه پېرزو ده،
هلته مې ورته هم غاړه ايښې وه، دلته به ترې هم څنډه نۀ کؤم".

په دې بله خبره نۀ کېدله. کاکوان سر نه خولۍ اخوا کړه اؤ کټ کښې څملاستلو. هغۀ څۀ ؤ نۀ وئېل اؤ دغې چپيا ځيرک ته يؤ سوال پرېښودلو، چې د هغۀ کاکا د هغۀ د ژوند د پاره کوم ګام اخستے ؤ، هغه به مرام ته ؤرسوي اؤ کۀ نۀ؟ هغۀ دغه ځواب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر پرېښودلو. څو شېبو کښې د هغۀ سترګې خوبولې شوې اؤ هغه اُودۀ شو. د ځيرک خبرې يؤ مخيزې اؤ نېغې وې. د ځانګړې ژوند ډېرو کړاوونو د هغۀ ځيرکتيا ډېره کړې وه. د کلي نه کراچۍ پورې مزل اؤ وېره اؤ کړاؤ هغۀ باندې هسې تېر شوي نۀ وو. هر څۀ چې وو، خو د ځيرک زړۀ ډاډه ؤ اؤ دا هغۀ له ډېره وه.

دغه ورځو کښې د کراچۍ په خوُي پوهه ګرانه وه. د ورځې سر اؤ پښې به يخې وې، منځ کښې به اور ورېدلو. کراچۍ کښې يوه سپېځلې سا راغلې وه اؤ د کراچۍ د سيلۍ اؤ سمندر څپو هغۀ ته هر کلے وئېلے ؤ. کلي کښې اوس د هغۀ په روکېدلو خلې غلې شوې وې. پرځندکاکا به ځان ناجاڼه کولو د پاره کله کله قدوس يا پانوس ته ؤوې،

"زړۀ به نۀ خوُرې! اوس لوي هلک دے. د هغۀ خپل خوُي داسې ؤ، چې چا سره ئې اروا نۀ ګډېده. را به شي مړه!".

هغۀ به دغسې د قدوس يا پانوس خلۀ وخت په وخت ګنډله.(رڼا ورځ وه، خو غل هسې په ځان تياره کړې وه). دې ته د چا هم پام نۀ ؤ، چې کاکُوان به زياتره وخت د ځيرک خان اؤ ناموس خان سره تېرولو. د ناموس مړينې نه وروستو په ړومبي ځل هغۀ د خپلې لُور وادۀ ته دومره وخت کلي کښې تېر کړو. هغۀ چا ته هم وئيلي نۀ وو، چې کله به کلي کښې پرېږدي اؤ بيا يوه ورځ ناڅاپه هغۀ دغه پرېکړه ؤکړه. په کومه ورځ چې کاکُوان کلي نه لاړو، هم په هغه ورځ ځيرک خان هم ورک شوے ؤ. دغه کور نه خپل تګ سره ځيرک خان ډېر څۀ وړي وو. تېولو نه لويه اغېزه په دغه کور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابتېږ سوګند ؤ. وړومبے خو د تماکو په ځېلو توري پیشوګۍ اړمې شوې. قولبه کنډمه شوه. یؤ غوئے روغ رمټ راپرېوتلو اؤ مړ شو. توري پیشوګۍ ځان لړ وروستو ښکاره کړو، غوئے هم دغه لسو ورځو کښې مړ ؤ. داسې نورې ډېرې خبرې هم وې. د ځیرک خان داسې خوي نۀ ؤ، چې دغه کور ته به ئې ښېرې کړې وې. مونږ دومره وئېلې شو، چې د ځیرک خان سره د هغۀ دعا هم د دغه کور انګڼ سپېرۀ پرېښود ے سرتوره وتلې وه.

بله ورځ د شپې تیاره کښې ځلور بدکان د کاکُوان کور ته راغلل. د کور وړوکې غوندې انګڼ کښې هغوي د کاکُوان سره ګنګوسو کښې بوخت وو اؤ د څو شېبو مزل پسې کوټې ته دننه شول. د ځیرک خان لیدلو سره هغوي وار په وار د ځیرک خوا له ورغلل ـــــ د هغۀ زنې له ئې لاس یؤړل ـــــ د مینې، حېرانتیا اؤ پېرزو ډکو سترګو سره ئې ورته ؤکتل اؤ په هر ژبه د "ماشاء الله" اؤ "چشمِ بد دُور" غږونه ؤختل.

"دا په ما ازمېښت د ے. دا ډېر معصوم اؤ نازولے د ے. د دۀ په خوښه ما راوستلو (بیا ځیرک خان ته مخ ور واړوي اؤ د هغۀ پام ځان ته راګرځولو سره) ما د دۀ په خوښه دا راوستے د ے. زۀ یوه ټکه هم نۀ اخلم. تاسو دا خفه نۀ کړئ اؤ ـــــ اؤ".

کاکُوان د نورو خبرو تُوان ؤبائېللو. ځیرک خان دې نه خبر نۀ ؤ، چې کۀ کاکُوان غوښتل، نو ډک موټے پېسې ئې اخستې شوې. کۀ وخت د کاکُوان دغه خبرې بیا چرته د ځیرک غوږ کښې ؤکړې، نو ځیرک به په کاکُوان نور هم مئېن شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د دغه شپې بوربنوونکي تياره کښې ځلورو بدکانو هغه ځان سره هغه کوټې ته يؤړلو، چرته چې سپين روبي د شپې تياره کښې ګناه نه خوند اخلي اؤ د ورځې رڼا کښې په توبو د خدا ے د تېريستلو هڅه کوي.

هم دغه ورځو کښې تورپوښتکو د برخو اؤ پېژندګلو د پاره په امريکا کښې خوځښت راؤړونکي ارتهر لوتهر کنګ ته دا درناوے ورکړے شو، چې سرمشر رېګن په قامي کچ د هغۀ د کليزې نمانځلو لاسليک ؤکړو اؤ نړۍ دغه د خپلې پېژندګلو اؤ برخې غوښتونکو خوځښتونو د پاره د يؤ مخؤريز برياليتوب په توګه ؤنمانځلو.

"خپل ټټو د بل د اس نه غوره ګڼم (پرځندکاکا خپل ډولځاي کښې هلکانو سره شين شوے ؤ) داسې ؤکړه، چې کۀ ستا پرې څۀ کار نۀ وي، نو ما له ئې راکړه! څۀ به درته اوس نغدې کړم اؤ څۀ به غنمو کښې درؤشمېرم".

"پرځندکاکا! تۀ به پرې څۀ کوې؟"

"د شامودام پخته! زۀ به پرې سورېږم"

(ناست ټول بيا شڼۀ شي. د پرځندکاکا چوپال دې ودان وي).

"پرځندکاکا! دوه پايې اؤ دوه ډنډې دي. ما نه ؤزګار دے. را وله ئې اؤ خپله تؤده سره پرې کوه! زۀ به اوس تا نه څۀ نغدې اخلم؟"

"د غر نه لويه اؤ ګل نه ښکلې دې ؤوئېله (پرځندکاکا ږمنځ له غاښونه ؤخنډې) خو زۀ وايم، چې د پردې وړوکي ويېيا توکي د زباد سره د ملامتيا لوي غبن هم وي. بيا به ورته هر وخت کونجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځي. (د هلکانو سترګو اؤ وږوځو نه ښکاري، چې د هغۀ په خبره ځان پوهوي) ما ته ئې سر ښکاره کړه! څۀ واخله اؤ څۀ نېتهه کړه! چې زما شي، نو زۀ پوهه شه اؤ هغه پوهه شه! په ګډې ئې کښېنم، کۀ په ډنډو کښې ئې ځم. هغه هسې هم ستا د نړيا ماډل دے".

پايه کښې پرځندکاکا د شامودام ځوي نه سېکل واخلي اؤ بيا هم د کلي چپيا کښې د پرځندکاکا ډولځاي په زوره زوره خاندي.

په وړومبي ځل ځيرک هم دومره په زوره ؤخاندل. ژوندی سا د هغۀ مړځپنه ځاندره کښې ويښه شوه. دغلته مېشته مخونه هغۀ پرون نۀ پېژندل اؤ نن ځان ته وائي،

"دا ټول زما ملګري دي".

دې سره هغه خپلو اؤ د نورو اغوستن اؤ مخ ته ؤکتل، د هغوي کړو وړو ته ځېر شو اؤ بيا ئې ؤوې،

"نه! دا ټولې زما سوېلې دي".

پرون پورې هغه غلے ؤ، نن ګويا شو.....

پرون پورې د هغۀ زړۀ کښې وېرې بؤ تا کول، نن د هغۀ زړۀ لوي ؤ اؤ ډاډه ؤ.....

پرون هغۀ خپلې تندې له اوبۀ غوښتلې نۀ شوې، نن هغه پخپله څښلو نه اګاهو نورو ته ست کوي.....

پرون هغه د نورو ښکلا، مکېزونو، خبرو، کړۀ وړۀ، پېزار اؤ اغوستن ته پسخېدلو.....

نن د هغۀ سترګو کښې ويا ړ ؤ. مخامخ ځوړنده هنداره کښې هغۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رو رو ځان ته سترګې جيګې کړې، خپله شونډه ئې له ډېره نازه ؤچيچله اؤ ځان ته ئې ؤوې،
"د ښکلا جوبن اؤ خمار خو ما کښې اوسېږي".
نن دُرېمه ورځ وه. هغه د ماسخوتن نمونځ پسې په مصله ناست ؤ، دعا د پاره ئې لپه خوره نيولې وه، ناڅاپه د هغۀ پام تمبې ته شو، چرته چې به شپېه وروستو يؤ مخ ښکاره کېدو، په نمژنو سترګو به ئې دۀ ته کتل اؤ بيا به روکېدۀ.
"خو دغه سترګې زما ليدلو نه وروستو کوټه کښې څوک ګوري؟"
دې خيال راتلو سره هغۀ دعا ته خوره شوې لپه راغونډه کړه اؤ چې څنګه ئې شا ته مخ واړولو، د دغه کور مشر دۀ ته په يؤ اېړ د اوښکو ډکو سترګو سره کتل. تېره ورځ ماښام نه چې ځېرک دغه کور ته راغلے ؤ، هغۀ نمونځ پرېښے نۀ ؤ. نمونځ هغۀ د سړو غوندې کولو. رکوع، سجده اؤ قعده کښې د ښځو څرک ليدلے شو.
"مُودې ؤشوې، چې دې کور ته سجيده نۀ وه راغلې (مېرابان خپله ژړا ټينګه نۀ کړې شوه) تا سره دلته سجيده راغله".
هغۀ څو ګامونو سره ځان ځېرک ته نزدې کړو، د هغۀ اُوږې ئې منګولو کښې کلکې ؤنيولې،
"تا سره دې کور ته سجيدې راغلې دي ـــــ تۀ ډېر نيازبين اؤ ډېر سپېځلے ئې ـــــ خُدايه! يه خُدايه!"
دغه غږ په زوره شو. ځېرک کۀ په ډېرو خبرو نۀ پوهېدلو، خو د اوښکو په ژبه پوهېدلو. دغه اوښکو سره د هغۀ ژوند ؤ، ځکه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغۀ سترګې هم لُوندې شوې. دغه اوښکو به د ځيرک خان د ننه تول دُرانۀ پيتې ځان سره واخستل اؤ د سترګو په لاس به ئې بهر ؤغورځول. څۀ وخت پورې به بيا د هغۀ زړۀ سُپک ؤ. د "يه خُدايه!" چغې سره د دغه کوټې ور ډېرو ښځونکو نه ډک شو. کۀ کراچۍ اؤ د ځيرک د کلي ژبه، خُوي، اغوستن اؤ داسې نورو ډېرو توکو سره توپير لرلو، خو د جذبو د څرګندؤنې ژبه يوه وه (د جذبو د څرګندؤنې ژبه ټوله نړۍ کښې يوه وي، هر څو کۀ د څرګندؤنې لاره بېله بېله کېدې شي). د ځيرک د کلي غوندې سُپيلنې اؤ نمېر دغلته هم وو. ماسخوتن ناوخته چې ځيرک څملاستلو، نو دغه وخت د دغه کوځې هر کور اؤ هر ګوټ پېر کښې شپه ويښه شوې وه. د پېنزېبو شړنګا سيلۍ هم ځان سره نخوله اؤ دغه وخت د سُپيلنو لوګے د هغۀ سترګو اؤ بُوي سُپېږمو ته ؤرسېدو. دغه سُود کۀ هر څو ژوند کښې چا په هغۀ کړے نۀ ؤ، خو هغۀ اؤرېدلي وو چې څوک د چا نظر ولې ماتوي. ژوند کښې يؤ ځل دوه د مشرې مور په وېنا مشکۍ، څو ځله ځامورې ابۍ اؤ مابتۍ د هغۀ نظر مات کړے ؤ. يوه ورځ خو ورله په اننګي مابتۍ د رنجو خال هم ايښے ؤ.

"دغه پتهو ستا دے؟"

ځيرک په دېوال د مدهوبالا څُوړند انځور ته ګوته ؤنيوله. دغه انځور سره د "پاکيزه" د ميناکمارې، د "بازارِ حسن" د ثمينه پيرزاده اؤ د "منډي" د سميتاپاټېل انځورونه هم څُوړند وو.

"نه ـــ دغه زۀ نۀ يم ـــ دغه پتهو هم زما نۀ دے. زما اؤ د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومونه يؤ دي، نور هېڅ نۀ".
"دا خو ستا غوندې ښکاري!!!"
يؤ لاس کښې مجمر نيولے اؤ بل لاس سره لکه ببوځے لاس په ځاے ولاړ وو. مدهوبالا څۀ خيال کښې وُرکه وه اؤ د ځېرک دغه معصوم تپوس ته موسکۍ بيا لوګے هغۀ ته کولو سره ئې ؤوې،
"اوس نۀ. پخوا دغسې ؤم ـــــ (هغې د انځور نه سترګې په قلاره مجمر ته ښکته کړې) دغې نه هم ښکلې ؤم (هغې په ځان لړې خندا د پاره زُياتے ؤکړو اؤ بيا ئې انځور ته ؤکتل) ځکه خو مېرابان ما له مدهو بالا نوم ايښے ؤ (يؤ څو ساګانو له غلې کېدو اؤ سُکروټو له پوکے ورکولو نه وروستو) ما ټول ژوند د دې د نوم په پور تېر کړو اؤ نن د خپلې برخې د ؤنې سيوري ته کښېناستم".
"تا اؤ دې کښې خو څوک هم توپير کولے نۀ شي".
مدهوبالا دې خبرو سره څو شېبو له د ځېرک سترګو کښې ؤکوري اؤ هغۀ ته نېغ کتلو کښې ؤوائي،
"ما به هم کله کله ځان ؤ نۀ پېژندلو. ځواني وه، ښکلا وه، جوبن ؤ اؤ ډېر مينه وال وو. بيا چې ځواني لاړه، ښکلا لاړه، جوبن لاړو اؤ مينه وال لاړل، نو زۀ خپل ځان ته مخامخ ؤدرېدم..... ځان مې ؤپېژندلو اؤ دغه پېژندګلو ماته کړم".
"تۀ ولې نۀ خاندې؟ ګوره پټو کښې هغه ستا غوندې ښځه چې ده، هغه خو خاندي".
(مدهوبالا د ځېرک خان په دغه پوښتنه لږه موسکۍ شي اؤ ځواب ورکړي) "زۀ ډېره ښکلې ؤم، ډېره به خندېدم، خو بيا زۀ د نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم. اوس خو يؤ مدهوش زما نظر ماتوي، زۀ د هغۀ تنده ماتؤم".
(پْرېږده مړه! د مدهوبالا سر کښې ډز شوے دے. اوس ځيرک مدهوش څۀ پېژني اؤ د هغۀ تنده څۀ پېژني اؤ مينه وال څۀ پېژني اؤ پېژندګلو څۀ پېژني؟)
څو شېبو له ځيرک اؤ مدهوبالا دغه انځور نه سترګې ؤ نۀ ويستلې. مدهوبالا د خپل تېر شوي جوبن ساندې ته غوْږ شوه اؤ ځيرک د مدهوبالا د خبرو معنې لټولې. دغه سانده د مدهوبالا د سا ملګرې ده اؤ دغه خبرې اوس وخت کښې ځيرک د پاره د پوهې چرې هم کېدلې نۀ شي.
کلې نه د کراچۍ مزل ځيرک په وينښ خوب تېر کړے ؤ. د مزل سْترې اؤ اوږد پلؤ هغۀ ته لکه د کوچنيتوب د خوب لړ لړ ياد وو. کراچۍ کښې د بنارس اډه کښې کوزېدل اؤ بيا د فقيرکالونۍ پْرېشان چوک نه په جاښه کوڅو کښې د کاکْوان کور ته رسېدل کۀ ؤشمېرو، نو ځيرک ته ډېره لاره د بنارس نه فقير کالونۍ پورې ښکارېدله. د پْرېشان ګرځؤنې نه چې کومې څلور پخې لارې وتلې وې، د هغو په هر اړخ بې شمېره لوئې وړې اټۍ، ډولځيونه، د کېسټو، د منيارۍ ، د اغوستن، د لوښو، د لوبو، د نورو ډېرو تْوکو د اخستلو اؤ خرڅ ځايونه وو. هغه وخت خو هغه پوهه نۀ ؤ، چې ګرځؤنه کښې دومره ډېرې تورسرې څنګه سرتورې د لوئې لارې په غاړه ناستې يا ولاړې دي، يا ګرځې اؤ موټرو يا رکشو کښې ئې څۀ خبرو د پاره سرونه دننه کړي دي. ټول ژوند کښې بيا هغۀ ته ډېر ځل د فقيرکالونۍ د دغه ګوټ پېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غاړه د چیو ښنبلو وخت په لاس نۀ ؤ ورغلے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوومه شپېه

ډېرې خبرې تر دې سپیناوي ته پاتې وې. د مېترخان د ځوي وادهٔ کښې د ځلمي بهرام په مړدکي ژوبله کهٔ د هغهٔ د مړینې لاره نهٔ وه ګرځېدلې، بیا هم د بهرام وینه د مېترخان په وراره نخښتې وه. دغه وینه د مېترخان، د هغهٔ د ځوي، د وراره یا کهٔ د هغهٔ کورنۍ کښې هر څوک وو، د وینې د تونبېدلو نه پرته نهٔ وینځلې کېدله. پښتنې وینې چرې هم بې له وینې نهٔ ستنیږي. مړے خاؤرې شي، خو د هغهٔ د کور ژوندي د هغهٔ د قبر د خاؤرو نه د هغهٔ د وینې پېغور اؤري اؤ دغه پېغور نه لمبه اخلي. د بهرام وینه اتهٔ کلونو پورې د مېترخان د کورنۍ درشل ته ناسته وه. تېره ورځ د مېترخان وینه د بهرام د وینې وینځلو د پاره تويې شوه. د بهرام وروڼو د خپلورور د قبر په خلهٔ برغولے کېښودلو. د بهرام وروڼه خبر وو، چې نهٔ دغه وژنه مېترخان کړې وه اؤ نهٔ د مېترخان وراره د بهرام په وینه خپل څهٔ سر راګرځولو، خو د کلي اولس پېغورونه وو اؤ د بهرام په ژوبل کېدلو د مېترخان د وراره تېښته هیله شوه اؤ دغسې اتهٔ کلونه د دښمنۍ بؤتا نن مېترخان ؤخوړو. د مېترخان ښه ورځ چې کلي کښې چا زغملې نهٔ شوه، هغهٔ د بهرام ساګانو د پاره پرېوانه سیلۍ ؤتړله. اوس د مېترخان د کورنۍ خوښه ده، چې مېترخان په تله کښې د بهرام د وینې سره سم ګڼي اؤ کهٔ د مېترخان د وینې ارزښت ورته د بهرام نه ډېر ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکُوان د مېترخان د وژنې نه ؤغورېدلو اؤ د ځیرک خُوا له په تللو کښې ورته په لاره لاره دغه ټوله پېښه، دغې پېښې سره تړلې نورې پېښې اؤ د مېترخان سرېتوب اؤ د بهرام ځوانې ځېلمه ؤدرېدل.

"بهرام سره کۀ دغسې مرګ نۀ ښائېدۀ (لړه چپیا)
خو مېترخان هم بې ځایه تُوې شو"

کاکُوان ځان سره زړۀ کښې ؤوې اؤ بیا د ځیرک پله تګ نه اګاهو ئې چاپېره سترګې ؤځغلولې. دا وېره نن هم لکه د سیورې د کاکُوان بدرګه وې، چې د کلې څوک قدوس خان دوې ته د ځیرک ؤ نۀ وائې. هغه قدوس خان هم پېژنې اؤ د هغۀ په دووسې یا ایرزړې د سرېتوب رنګ هم پېژنې، بیا هم هغه یؤ پښتون دے اؤ په دې پوهه دے، چې د پښتون مړه ځاندره کښې پېغور سا اچوې. پښتون د مُلا خُلې کښې د دوزخ په لیدلو جومات ته نۀ ځي، خو د دې پېغور نه ځان ژُغورنې د پاره هر وخت اودس کښې ګرځي، "لوې سنډا ئې اؤ نمونځ نۀ کوې".

په درشل پُښه ایښودلو سره څۀ ګورې، چې د ځیرک نه چاپېره ګڼ بدکان داسې ناست دې، لکه چې په زوره زوره خندا نه وروستو بیا د څۀ داسې ځواب د اؤرېدلو هیله لرې، چې خندا نه به لؤړې بؤړې کیږې (ځکه خو پکښې د ځنې لاسونو مسواکې ګوتې په خُلو پرتې دې اؤ ځنې لاسونه داسې جیګ شوې، لکه چې د غړونو د نۀ پورته کولو غوښتنه ئې کړې وې). مېرابان لکه چې د ځیرک څنې مښې، ځکه ئې لاسونه د ځیرک څنو کښې نُخښتلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اؤ د هغۀ شا ته غلے ناست ؤ. د ځیرک د ښي لاس د مسواکې ګوتې اوچت بند پخپلو شونډو پروت ؤ، بل لاس ئې خپله کینه ځنه باندې د مېرابان تپلي لاس پسې نُخښتے ؤ اؤ سترګې ئې داسې اوچتې نیولې وې، لکه چې څۀ دونې له ځواب لټوي. د هغۀ د سترګو ګاتې ښي ارخ ته اوچت وو، ځکه ئې د سترګو سپین اؤ تور ډېر ښکاره شوي وو. هره سترګه کښې د اوښکو یؤ یؤ ټوي شوي ځاځکي دغه تور اؤ سپین نور ځرګند کړي وو. (کاکُوان دومره خو پوهه شو، چې دغه اوښکې د خندا سره راغلې وې. د مخونو تختی نه داسې بُرېښېدل).

"ځیرک ښۀ دے کنه مړو!"

اؤ دې وئېلو سره ځیرک خپلې سترګې یؤ ځل د هغۀ شا ته ناست مېرابان ته واړولې. دې اؤرېدو سره یؤ ځل بیا د خندا انګازې د دېوالونو نه راؤتمبېدلې، چې یوې ګنګوسې د دغه انګازو ټول زور ځان کښې راؤنغښتلو،

"زرکه"

د سمیتا دغه "زرکه" په تول ډېر دُروند ؤ. د "ځیرک" سره د غړېز سمون نه پرته ئې هم یوه نیازبینه معنا وتله. د ځیرک سترګې، د ځیرک شونډې، د ځیرک غړې، د ځیرک څرمن، د ځیرک ځاندره، د ځیرک تګ اؤ زرکه. کۀ د نومونو ایښودونکو یوه ډله ټاکلې شوې وه اؤ د ځیرک د پاره د څۀ ښځونک نوم ایښودلو کار ورته سپُارلے شوے ؤ، نو ارو مرو به ئې هغۀ د پاره هم دغه "زرکه" نوم خُوښولو. ټولې سترګې یؤ بل ته وار په وار واؤړېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اؤ ټولو سترګو کښې دغه نوم د پاره د خوښې ځرک ؤ.

"نن نه به دا زرکه وي".

د مېراباں په غلي غږ کښې دغه پرېکړې وئېلو سره ځیرک خپلې سترګې یؤ ځل بیا مېراباں پله واړولې. مېراباں هغه خپله سینه پورې جوخت کړو اؤ په دغه کوټه دُرنې چپیا وزرې خورې کړې. نن ځیرک خان له بل نوم کېښودے شو. دا نوم به اوس څوک نۀ وُرانوي، ځکه چې دغلته د نومونو وُرانولو دستور نشته. د ځیرک خان نه کۀ چرې چا "ځیرکو" کولو، نو مشرې مور ورله د پلار څمڅ.......

په درشل ولاړ کاکوان کړاغې سترګې ولاړ ؤ. هغۀ ته د چا پام نۀ ؤ. دومره مینه، سود اؤ پېرزو هغۀ په ټول ژوند کښې لیدلې نۀ وه. سمیتا د "زرکه" نوم اخستلو نه وروستو غلې شوې وه. د نوم اخستلو په وخت هغې د ځیرک مخ کښې سترګې ښخې کړې وې. نۀ هغې چا ته د دغه نوم اخستلو نه وُروستو کتلي وو، نۀ ئې خپلې سترګې تر دغې سا د ځیرک مخ نه ویستې وې.

"سمیتا! خوارۀ راؤړه کنه! د ټولو خلې خوږې کړه!"

د ځیرک تندے ښکولو سره سم مېراباں سمیتا ته دغه ؤوې اؤ بیا ئې خپل پلؤ پسې لاسونه د روپیو راخستلو له ؤغځول، چې سمیتا ؤوې،

"دا خوارۀ زما له اړخه".

"ولې؟ زمونږ برخه پکښې نشته؟" د تاجو تپوس نور هم ځان سره ملګرې کړل اؤ خوږو راؤړلو د پاره سمیتا د ور لاره ؤنیوله. درشل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رسېدلو سره هغې کاکُوان ؤلیدلو اؤ دغسې کاکُوان پخپل غلي ؤدرېدو د پښېمانۍ نه سترګې ښکته کړې.

"دننه ورشه!"

د سمیتا خبرې اؤ لارې پرېښودلو سره د نورو هم هغۀ ته پام شو اؤ هغۀ په درشل دننه پښه کېښودله.

"راځه! راځه! تا خو زمونږ کور ته ژوند راوستلے دے".

مېرابان په کاکُوان د هرکلي پېرزو ؤکړه. ځیرک هم د هغۀ هرکلي ته پاڅېدۀ. ځیرک په اُوږه لوپټه سمه کړه. د هغۀ په سترګو اؤ شونډو موسکا وه. کاکُوان ؤلیدل، چې خاؤرې د خپلې خاؤرې رنګ واخستلو. په سا کېدلو سره د ځیرک سترګو کښې د زرکې نظر وینښ شو اؤ هغۀ زمکې ته ؤکتل.

"لکه چې ځیرک خپله پېژندګلو نوره کړه؟"

کاکُوان د چیو نه ګُوتې شُوملو سره سم مېرابان ؤپوښتلو. د کاکُوان دغه کور کښې ډېر دُرناوے کېدلو. د دغه کور هر بدک د زرکې راتلل د کاکُوان ورکړه ګڼله.

"د هرې سندرې ځان له سُر وي، ځان له تال وي. د ټیټ غږ سندره چې ځوک اوچتو پردو کښې رانیسي، نو هسې ځان ستړے کوي. هر سُر پخپل ځاے اؤ خپله پرده کښې ښۀ ښکارې".

(مېرابان لکه د یؤ ژور فلسفي خبرې کولې. هغه مخامخ ځوکۍ باندې داسې ناست ؤ، چې یوه پښه ئې ښکته ځوړنده وه اؤ بله پښه ئې نېغه کړې وه اؤ په دغه پښه ئې خپل هغه لاس اډانه کړے ؤ، د کوم لپه کښې چې ئې خپله زنه اؤ د مخ ټوله کاسه ایښې وه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په زړکه د ځيرک پرده وه، ځکه بې ځایه ؤ، ځکه رژېدهٔ. اوس هغه خپل سُر له لاس وغلو. اوس به رنګ هم راپرېږدي او د هرې سا نه به خُوند هم واخلي".

کاکُوان تلي دے او شپه رو رو خپل رنګونه شیندلو د پاره تیارو کښې شړنګ شړنګ خوځي.

"ژوند د تربدلې هوسې سترګې دي، چې وینم ئې
نن هډو د مرګ نه بغاوت کوو، چې څهٔ کیږي؟
زړهٔ مو د نړۍ په ننداره باندې ډېر ؤخوړهٔ
اوس د ښائستونو تلاوت کوو، چې څهٔ کیږي؟
ډېره مې ادا ستا د ښکلا په باب کښې ؤکړله
دا ځل ئې تفسیر لکه قیامت کوو، چې څهٔ کیږي؟
ډېر په اقتداء کښې د بې لارې مُلا پاتې شو
دا ځل به مدهوشه! امامت کوو، چې څهٔ کیږي؟"

د کوټې نه بهر د "مدهوش" غږ واؤرېدلے شو. دا ورومبے ځل نهٔ ؤ. دې نه اګاهو هم زړکې دغه دُروند بوغ غږ اؤرېدلے ؤ او نن هم ورته یاد دے. هغه وخت وئیلي شوي وو،

اے! د خپلې مینې لېونتوب خمار وهلیه!
زهٔ به دې پخپل حسن نشه په سر کښې ماته کړم
تهٔ را ته یؤ ځل د خپلو شونډو په سر ؤوایه!
زهٔ به ستا د ست سره توبه په سر کښې ماته کړم
زهٔ به د ورتلو سره مدهوشه! ورته سپارم ځان
زهٔ به ئې د زړهٔ هره ګیله په سر کښې ماته کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


اؤ دغه غږ اؤرېدلو سره زرکې لېدلي وو، چې مدهوبالا تونده پاڅېدلې اؤ بهر وتلې وه.
مدهوش ټول ژوند شاعرۍ ته سپارلے ؤ. مدهوبالا سره مينې نه وروستو هغه د نړۍ هرې چارې نه ځان رانغښتے ؤ. دغه مينه په ډېره حسن پرستۍ، لږه خواخوږۍ اؤ لږه ډېره جنسي تنده باندې اډانه وه. يؤ ځل مدهوبالا د پېژند روغولو د پاره تلې وه. يوې کړکۍ ته سرې اؤ بلې ته ښځې ولاړې وې. دغه د مدهوبالا د جوبن ورځې وې. د شپې کۀ به هر څو سړي د هغې په درشل لکه د خاؤرو پراتۀ وو، خو دغه ورځ وه اؤ د ورځ په رڼا کښې ګناه کوونکي خپلو مخونو باندې د سړيتوب نقشونه برخېره کوي.
مدهوبالا کۀ به د ننداري په وخت هر څو د سازونو په ښونه لکه د مستې زرکې په چړچقو وه، خو دغه ورځ وه اؤ د ورځ په رڼا کښې به د هغې مخ اؤ خويونه نور شول.
هغې دا نۀ وئيل، چې څوک دې هغې له خپل پېر ورکړي، خو هغې دا هم نۀ ګڼل، چې دغلته به هغې پسې ملنډه ؤشي.
"اخوا شه! د ښځو لېن کښې ؤدرېږه!"
يؤ سړي هغې له ديکه ورکړه اؤ د کتار نه ئې ؤويسته. د هغې سترګې ؤترېدلې اؤ چې څنګه د ښځو پله روانه شوه، نو يوې ښځې پړې غږ ؤکړو،
"دېخوا را نۀ شې! (دې غږ کښې کرکه اؤ زور ؤ) خُدا ے مو ورک کړه چې".
"نو زۀ کوم خوا لاړه شم؟" مدهوبالا په ځا ے ؤدرېدله اؤ ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې بې د شونډو خوځولو ؤوې. دغه پوښتنې له تر دغه وخته هغه د ځواب لټون کښې وه، چې کړکۍ نه پرې بابوګي غږ ؤکړو،

"اے دغۀ! (اؤ سر خوځولو سره) نه ريښتيا، اے دغې! (اؤ بيا ملنډه کولو سره) دغۀ ئې کۀ دغه ئې، اؤ چې پېژند کښې به درله ثۀ ليکو؟ ځه! پښې سپکوه!"

دې ټول وخت کښې مدهوبالا د دواړو لاسونو ګوتې يؤ بل کښې ورکړې اؤ خپلو شونډو ته نيولې د خپلو ګاګيرو سترګو سره (چې دغه وخت پکښې د ګيلې اوښکې هم ځلېدلې) چاپېره کتل، چې يؤ ډروند اؤ بوغ غږ ؤوې،

"دا ثۀ خبر دے، چې تۀ به ورله پېژند کښې ثۀ ليکې. دا د خدا ے نه تپوس ؤکړه! (دغه خبرو سره هغه کتار نه وتلے کړکۍ پله روان شوے ؤ) چې کۀ دا ئې ستا د مور غوندې يا ستا د پلار غوندې يا زما غوندې يا ستا د خور غوندې روغ کړے ؤ، نو ثۀ تېل پرې سوزېدل؟ د هغۀ په خدايۍ کښې پرې ثۀ کمے راتلو؟ د هغۀ نه تپوس ؤکړه، چې هغه درته ؤوائي. تاسو خو وايئ کنه، چې هغه په هر ثۀ خبر دے، نو بيا دا ځواب هغۀ نه ولې نۀ اخلې؟"

"مدهوش! پرېږده! راځه ترې!"

کتار کښې ولاړ يؤ سړي په مدهوش غږ ؤکړو اؤ هغه په ځا ے د دې چې کتار ته ستون شوے ؤ، مدهوبالا پسې روان شو اؤ نن ثومره کلونه تېر شوي دي، خو مدهوش د مدهوبالا خوا له خامخا مياشت کښې يؤ ځل ورځي اؤ مدهوبالا هم خپل زړۀ هغۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته سُپارلے د ے. دغه مينه پته پاتې نۀ شوه. مدهوبالا ته کۀ اوس پورې پېژند په لاس ورغلے نۀ دے اؤ دغه پېژندګلو د هغې بې پېلامه، بې نخښې اؤ پته ده. مدهوش د کلي کلوېغی نه ؤوتلو اؤ د مدهوبالا ارزښت منډی کښې ټيټ شو. اوس چې مدهوبالا نوي ښوک دغه بازار کښې ؤويني، نو مجمر لاس کښې اخستے د هغۀ نظر ماتوي (مدهوبالا دا ګڼي، چې هغه د نظره شوې ده). ډېر وختونه تېر شول. اوس مدهوش هاغه مدهوش نۀ دے اؤ مدهوبالا هم هاغه مدهوبالا نۀ ده. د مدهوش مخ کښې کوتونه ژور شوي دي اؤ وېښتو کښې ئې د سُپينو شمېر په تورو اؤړېدلے دے. اوس ډېر ژُراخۀ ښکي نۀ اؤ ډېر تؤدۀ سيزي نۀ. چې کله هم راشي، مدهوبالا ځان ښکلې کړي. د برنډې کيڼ اړخ ته کوټه کښې يۀ بدک هم مدهوبالا اؤ مدهوش باندې نۀ بلُوخي. مدهوش کۀ دغلته يوه ورځ پاتې کيږي اؤ کۀ دوه ورځې، مدهوبالا د هغۀ په ښنګل پرُته وي.

دا مستي اؤ دا شراب، زۀ ګنهګار ښۀ يمه
دا سپرلے اؤ دا شباب، زۀ ګنهګار ښۀ يمه
دا ځواني اؤ دا عذاب، زۀ ګنهګار ښۀ يمه
شيخه! تۀ ګته ثواب، زۀ ګنهګار ښۀ يمه

د مدهوبالا د کوټې نه داسې ډېرې سندرې راځي اؤ مدهوبالا دغه سندرې د خپل ژوند تاريخ د پاره خوندي کوي اؤ کله کله پرې خپله غاړه هم ګوري. د دغه سندرو د پاره په يوه پاڼه مدهوش غټ غټ ليکلي دي، "د ټولې مينې نيمګړې سندره".

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدوس خان اوس هم کله کله ځيرک يادوي، خو پانوس لکه چې د خپل مړ ورور اؤ مړې وړندار په ژوندي وړارهٔ هم خاؤرې اړولې وې. د ځاموري ابۍ د ځلوښتې نه چې وړندار راغلې ده، نو پخپله ئې هم کټ نيولے دے. هغه د مابتۍ هغه سلګۍ نهٔ شي هېرولې، کومې چې د يوې ښځې په دې خبره را ماتې شوې، چې "خُدايه کنه! د ابۍ سا ختله اؤ په خُلهٔ ئې د قمرو هغه ځوے يادولو" (بيا داسې خبرې سره خو هغه ښځې هم پوزه لړه ډېره راښکلې وه، نو اغېزه ئې زياته وه). ډېرې مودې راهسې وړندار ليدلې وو، چې د ځيرک په يادولو به د مابتۍ سترګې ډېرې غمژنې کېدلې اؤ د هغهٔ روکېدلو نه وروستو د هغې سترګو کښې د خندا د رڼا په ځاے د خُواچينۍ توره لړه مېشته شوې وه. وړندار چې د مابتۍ نه خپل کور ته روانېدله، نو هم ئې ليدله، چې د ځامورې ابۍ د مړينې اوښکو کښې مابتۍ د خپل ورک شوي ځيرک د پاره سلګۍ نُغښتلې دي.

"مابتۍ د قمرو نه د پيو په ځاے مينه رؤدلې ده....."

دغه خبره باندې هغې د مابتۍ خيال په ډډه واړولو.

نمر اؤ سپوږمۍ د يؤ بل پلؤ نهٔ پُرېږدي ..... تُياره اؤ رڼا يؤ بل کښې روکيږي ..... شپو ورځو ژوند په مخا راخستے دے .....

ځيرک د زرکې ټول رنګونه ځان نه تاؤ کړل، اوس د سندرې غږ سره د چورلک مکېز زُده کوي.

خپل کلي کښې د ګل پرداز خان په نوم پېژندګلو لرونکے دغه کوځو کښې "ګل پري" شوے ؤ اؤ هغه وخت به د هغهٔ يؤ خُوځښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره موسمونو سټوماني ويستله. د هغې پېژندګلو د يوې مېږې په توګه کېدله. د هغې يوه لُور اؤ دوه ځامن اوس په پوهنتون کښې دي. د کوځې پائې کښې جومات ته څېلمه د هغې کور دے. هغه به مابنام ډياړې له وتلو. د هغې ښځه ګل پري دې نه خبر نۀ وه، چې ماسخوتن د هغې ګل پرداز خان پخپله ګل پري کيږي اؤ د هغې پښو کښې پنزېبونه شنيږي. ګل پرداز خان کلي نه د هغې د نيمګړي ذات د تکميل خوب ويستلے ؤ. دغه ښار کښې هغه پوره شوے ؤ. هغه په زېږون بدک نۀ ؤ. د ګل پرداز خان اغوستن کښې چې به څومره غلے اؤ سوړ ؤ، د ګل پري کېدو سره به پکښې دومره مستي اؤ جوبن ډېر شول. د دوکړې ډنګ سره به چې هغې ټوپ کړل، نو ننداره کوونکې سترګې به بقې پاتې شوې. د هغې مېرمن، د هغې لُور اؤ د هغې ځامن به چې د اولس نه د خپل پلار د سړيتوب اؤرېدل، نو په دۀ به وِيارېدل. ګل پرداز خان ځکه لرې ځان له استوګن خُوښ کړے ؤ، چې رنګينه اؤ مسته ګل پري د هغې په درشل د هغې د خُوږې دُرنې ګل پري سره د چا په خُلۀ مخ نۀ شي. هغې د دواړو ګل پريانو منځ کښې ځان د ېوال کړے ؤ. د هغې واړۀ چې ښُوونځي نه پوهنتون ته شول، نو د هغې ټوپ سره به سترګې نۀ بقېدلې، ځکه ئې دغه ځاے نه ځان راؤنغښتلو. کور کښې ئې ؤوې، چې د هغې کار نور نشته. د يۀ څو مړو ُپه کور کښې ئې کار پېل کړو. ګل پرداز خان خپل ځان کښې پټه ګل پري ؤوژله اؤ د يۀ ګل پرداز خان ژوند ئې کولو. اوس هغه پنځۀ وخته نمونځ کوي. کله کله چې د پنزېبو شړنګ د هغې خيال کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګازې کړي اؤ د هغۀ پښو کښې خُوځښت راشي، نو ورسره ئې سترګې هم لُوندې شي. هغه سترګې ؤزوري، شونډې ؤچيچي، سر ؤخوځوي اؤ خپلې دننه ګل پرې له په مرۍ ګوتې کېږدي، بيا ځان پوره ګل پرداز خان کړي. هغه غواړي، چې د هغۀ دننه ګل پرې دې چرې هم بيا هغۀ کښې اؤ د هغۀ په دوېم ځوي کښې سا وانخلي (هغه يوؤلسم کښې زده کړه کوي اؤ پلار د خپل ځُوي په پښو ايښودلو پوهه شوے دے)، خو په يؤ خيال د بندېز هڅه، هغه خيال ته بيا بلنه ورکول وي، دغه د وګړي د ساپوهنې جوت رېښتيا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتمه شپږه

ګل پرداز خان د پاره د هغهٔ دننه ژوندی ګل پري وژل ډېر ګران وو، خو زرکې نه خپل ښکاره ځیرک خان ډېر زر هېر شو. ریښتیا خو دا دي، چې هغه ځیرک خان د زرکې ؤ. زرکه یوه ښکلې، نیازبینه، ناویاته اؤ مینې نه ډکه سندره وه اؤ د سازونو په ساپوهنه ځان پوهولو د پاره هغې کښې تنده پېغله شوې وه. هغې پښنو کښې پنزېبونه تړلي وو، د سمیتا د راتګ لاره ئې څارله.

"مړې! چرته تلې وې تهٔ؟ (د زرکې تپوس کښې د یؤ وړوکي د تپوس سپېځلے مکېز ځلېدلو) زهٔ سمه ډېره سُتړې شوم اؤ څومره وخت نه درته ناسته یم".

"ځار شم د خپلې زرکې نه (سمیتا د زرکې دلاسې د پاره ډېره نانې کتانې شوه) ما وې، چې خپلې زرکې ته ځان بیخي ؤزګار کړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سميتا سپيناوي کولو پورې زړکه ؤدرېدلې وه، خپلې لمنې ئې سمې کړې وې اؤ په خپله لوپټه ئې خپله مْلا تړله.

"د ښځې ځاندره کښې مخ، تيونه، نرۍ مْلا اؤ پلن کوناټي خپل زړۀ راښکون اؤ خپله ښکلا لري. د نڅا وخت کښې ساز ته غوږ کېږده، چې هغه تا نه څۀ غواړي، سندره باندې ځان پوهه کړه، چې هغه تا ته څۀ وائي اؤ چې کله تۀ په دغه وېنا اؤ دغه غوښتنه پوهه شې (سميتا د ګنګوسو غوندې خبرې کوي اؤ دغه وخت کېنه پښه په زمکه پوره ايښې، د ښۍ پښې کونډۍ لږه کږه کړې اؤ پوندۀ ئې لږه اوچته کړې، دواړه لاسونه خوارۀ کړي. زړکې نه يؤ ګام په شا شي، چې دغه ښونه ؤويني)، نو بيا به".

"په ګډېدو شم" (زړکې ګڼل، چې سميتا به ورته پنزېب له د شړنګ ورکولو ؤوائي).

سميتا د هغې دغه نيازبينه خبره واؤري، موسکۍ شي، خوا له ئې راشي اؤ ؤوائي،

"نه! بيا به خپل بدن، خپله ځاندره ګويا کړې (څو شېبو له هغه بې د څۀ ساز نه ؤنڅېږي. د هغې پنزېبونه شړنګهار کوي، هغه خپلو سترګو ته ګوته ؤنيسي اؤ زړکه ؤويني، چې سترګې څنګه خبرې کوي. بيا خپلو مېمو ته، بيا خپلې مْلا ته، بيا خپلو کوناټو ته اؤ زړکه ګوته په خلۀ پاتې شي) ځان به دومره تنده تنده کړې، چې تا ته کتونکې سترګې جل واخلي. تۀ ځان کښې پټه شوې ښځه د نڅا په وخت ښکاره کوه. دومره مۀ ښځه کېږه، چې څوک تا بدک ؤګڼي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د مدهوبالا غوندې ښځه؟"

(سمیتا بیا موسکۍ شي) "هو! د مدهوبالا غوندې ښځه".

دغه وخت مدهوبالا د اوبو نه ډک جیغ لاس کښې نیولے ور کښې ولاړه وي.

"زرکې! سمیتا ته د مېرابان نه هر څۀ زده کړي دي".

مدهوبالا د زرکې خوا له په موسکو سترګو دغې وېنا سره راشي.

"اؤ مدهوبالا د مېرابان ټولې دعاګانې ګټلې دي".

سمیتا د مدهوبالا خبرې پسې ترلې خپله ؤوائي اؤ زرکه د دواړو سترګو کښې یؤ بل د پاره بشپړې مینې ته ؤګوري.

"تک . تک

دین . دین

تک . تک

دین . دین

تنک . تنک . دین

تنک . تنک . دین

تنک . تنک . دین . دا

تنک . تنک . دین . دا

تنک . تنک . دین . دا

دینک . تنک . دین . دینک . تنک . دین

دینک . تنک . دین . دا

دا . دا . دا"

سندرې سره څۀ وخت سمیتا خپلو خوځښتونو سره زرکې ته نڅا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائي، بيا زرکه پاڅوي اؤ مدهوبالا ننداره کوي.
مدهوبالا اؤ سميتا زړونو کښې غواړي، چې يؤ بل ته ؤګوري اؤ د سرګم سره د زرکې د نڅا سْتائينه ؤکړي، خو هغوي د زرکې د نڅا يؤ خْوځښت هم بائېلل نۀ غواړي..... هغوې نۀ غواړي، چې يوې شېبې له هم د دغه ننداري خْوند له لاسه ورکړي. د سرګم غلي کېدلو سره سْتړې سْتړې زرکه د سميتا اؤ مدهوبالا منځ کښې خْوره وره څملي. څو شېبو پورې د هغې پېنزېبونه هم دغسې شنېږي. هغه خوبولې وي. سميتا خو دغومره وخت کښې اوده شوې هم وي، خو مدهوبالا وېښه وي. اوده سميتا په ډډه واؤړي، د زرکې لاس خپله سينه پسې په اودو اودو جوخت کړي اؤ زرکې ته مابتې مخامخ ؤدرېږي.
خوب ګاګېره مرغۍ وه اؤ د مابتې يادېدل په دغه مرغۍ د وېرې لېندې نه وېشتے شوے کاڼے شو. پرځند کاکا اؤ کميلې نه وروستو کۀ د زرکې زړۀ چا پسې کړېدلو، نو هغه مابتې وه، هغه مابتې چې د ګناه په شپه پکښې توبې د قمرو ساه پوکلې وه. د ځامورې ابۍ مينه کۀ هر څو زرکې ډېره ګڼله، خو هغه به د ورځ څۀ برخې د پاره وه. نن هغې د خپلو اندامونو د ګويا کولو ژبه زْده کوله اؤ نن ځاښتي وخت د مابتۍ مشر ځوي مْېرلوس ګل پل واخستو. ډېر خْوارۀ ککوړي د هغۀ پل سره ؤرغړولے شول. مابتۍ نن هم نۀ خاندل (هر څو کۀ ډېره خْواچينه هم نۀ وه). کله چې ځيرک خان پل اخستے ؤ، نو هغۀ سره ککوړي نۀ وو رْغړولے شوي. کميلې ته به ئې مور وې، "پا پلې پل واخله ..... يؤ دې بختور شه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا بل واخله". يؤ ککوړے نیم د ځیرک پښو سره هم خُوئېدلے ؤ. تر دغه وخته، د ځیرک خان دننه چا کتلي نۀ وو. کله چې هغه لرې لویکاڼے شو، نو کور کښې څۀ ځان ځانے نه پرته د هغۀ ښځونک کېدل هم د کوړمې سترګې هغۀ نه اړولې وې. چې د څوارلس کلونو شو، نو کور ئې پرېښودلو. اوس خو د هغۀ نه کميله هم لرې کړې شوې وه. د فردوس دننه يؤ وړے شرمخ ؤسېدلو اؤ کور نه بهر د ګڼ شمېر لېوانو د خُلو نه هغۀ پسې لاړې څڅېدلې.

نن د هغۀ ژوند کښې دا ورځ راغله، چې دغه کور کښې چاپېره ګڼ شمېر ډیوې بلې کړې شوې دي. په دېوالونو مېخونه ټک وهلي شوي دي اؤ دغه مېخونو سره په تارونو رنګ رنګ څېرې ځوړندې دي. انګڼ چنګاؤ شوے دے اؤ ګرېتيانې لُوګے شوې دي. ټولو ښځونکو رنګارنګ، ښکلي اؤ ډولي اغوستن اغوستي دي اؤ د خُوږو پخلي د پاره لوئې پتيلې باندې کړې شوې دي. زرکه لکه د ناوې ښکلې کړې شوې ده. نور ټول خپلو کښې په خبرو اؤ ټوقو بوخت دي. کوټه کښې زرکې د ناوې څهره کښې د ماستخوتن په نمونځ ولاړه ده.

"تۀ ځان سم کړه، هسې نۀ مېرابان اوس ؤوائي، چې زرکه راؤباسئ. زۀ به یوازې څۀ کؤم؟"

سميتا مجمر لاس کښې نيولې مدهوبالا ته ؤوې اؤ په غلې خُلۀ مدهوبالا د سميتا سره کوټې پله روانه شوه. زرکه په مصله ولاړه وې. داسې ښکاري، لکه د ښکلا يوې نيازبينې ناوې چې د سپرلي ګڼ رنګونه ځان نه تاؤ کړي وي اؤ د جنت بڼ کښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې غېږ ته هرکلي وئېلو د پاره ولاړه وي. سمیتا اؤ مدهوبالا څو شېبو د پاره دغه ننداري نه څوند واخلي (هغه دواړه نۀ پوهیږي، چې دغه وخت د هغوي سترګو کښې رانۀ ځاڅکي ولې راغلل). د نمونځ سر ته رسولو نه وروستو دواړه د زړکي خوا له راغلې اؤ د هغې څوري کړې لپې سره ئې د هغې د شونډو په څوځښت ځان سره "امین" ؤوې. په مخ د دعا لپه رانښکلو سره دواړو داسې ؤکنل، لکه چې شوې دعا نُمانځلې شوې وي.
"زۀ ورځم اؤ مېرابان نه تپوس کؤم، چې تا بهر ؤباسو."
د سمیتا خبرې ته موسکۍ زړکې ښه ؤکړل اؤ چې کله سمیتا بهر وتله، نو مدهوبالا بیا مجمر ته لاس کړو. د هغې زړۀ غوښتل، چې نن ځان مجمر کښې کیږدي اؤ زړکې ته ئې لوګے کړي. دغه وخت د زړکې په ښې سترګه د وېښتو څو تارونه لکه د څُونډي ځوړند وو. په تندي ئې وړه غونډې تیکه د پرخې د داسې ځاڅکي په څېر پرته وه، چې د رڼا وړانګه پکښې دننه د خندا نه شنه ولاړه وي. د دنګې غاړې نه ئې یؤ نرے پړقینده امېل لاسونه تاؤ کړي وو. دروند سور اغوستن ئې اغوستے ؤ، چې په هغې د مقېش ستوري ښلې شوي وو. خوشبویانو ئې د سالُو پلؤ نیولے ؤ.
نمانځۀ نه اګاهو مدهوبالا، سمیتا اؤ شبمین د زړکې ډول سینګار کښې بوختې وې. سمیتا د هغې څڼو کښې ګلونه ټومبل. مدهوبالا د هغې سترګې تورې کړې وې، د سترګو لکۍ ئې ورله لکه د تبرې تُورې ویستې وې اؤ دغه وخت ئې ورله د اوږدو ښو جمدر نور نېغول. شبمین د ګلونو اؤ رنګونو نه ډکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوْرۍ لاس کښې نیولې ولاړه وه. هغې نه ځان هېر شو اؤ د زرکې د ځاندرې په مهینو موړو اؤ ډوغلونو کښې ئې سترګې په تیندکونو شوې. د هغې سترګې کڼاغې اؤ خلْۀ وازه پاتې شوې وه.
"د زرکې کمیس دې خُدائے زرکې نه هېر کړي"، زړۀ کښې به خامخا شبمین دغه وئیلي وي.
"شبمین!"
د سمیتا غږ سره شبمین هغې ته ؤکتل اؤ د هغې د دغه غږ زور ئې د هغې په سترګو کښې لکه د سکروټو ؤلیدلو. د خپلو سترګو تېر ورله په مخ پښېمانې چپې خورې کړې، خُدائے پله ئې ؤکتل، دواړه لاسونه ئې زنې سره قېنچې کړي غوږونو له یؤړل اؤ کوټې نه سرټیټې ؤوتله.
د شبمین سترګو کښې لیدلې سوکړې د سمیتا سترګې هم د زرکې دنګې غړۍ، مهینو ډونګو، خوئینده سینې، نرۍ مُلا اؤ پلنو ټُوټو باندې ؤخوئېدلې. هغې داسې ؤګڼل، لکه چې د کوټې په نزدې ګوټ کښې د بنګلا یؤ تنده غرے روح ډډه وهلے د زرکې ننداره کښې ورک وي. د دغه روح سپینه بږیره اؤ سپین پټکے دغه تیاره کښې ځان ځلوي. سمیتا خپل ژوند کښې د مدهوبالا نه وروستو دا دویمه بنګلا ؤلیده (دا بنګلا د مدهوبالا نه کۀ یؤ په درې نۀ وي، نو یؤ په دوه خو ارومرو ده).
"مېرابان غږ ؤکړو".
د کوټې په درشل دننه پښه ایښودلو سره سمیتا ؤوې اؤ هغې سره بدرګه څو نور بنځونک هم وو. هغوي یؤ رنګینه څادر لاسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبنبې نيولے ۇ، چې ګڼ شمېر څوندي ترې چاپېره څوړند وو.
هغوي شپږ واړو دغه څادر لکه د څپر اوچت ۇنيولو اؤ د څادر
لاندې زرکه د مدهوبالا اؤ سميتا منځ کبنبې روانه شوه. د درشل
نه بهر پښه ايښودلو سره په هغوي د ګلونو پاڼې ۇنوستلې شوې.
هره سترګه کبنبې حېرانتيا ببر سر ۇدرېدله. دغه ښکلا ښځونکو
کبنبې چا ليدلې نۀ وه. د قمرو ښائست د زرکې پوستکي نه بهر
اؤ د ناموس خان سړيتوب د ځيرک خان په څرمن دننه ژوندے ۇ
اؤ په ريښتيا ژوندے ۇ.
زرکې انګڼ ته رسېدلو سره د مېرابان پښو له لاس يؤړلو. مېرابان
د هغۀ په سر لاس کېښودلو اؤ بيا ئې په غاړه راکښلو حېرانې
سترګې ځان ته کړې.
"زۀ دا غږ کؤم، چې زرکه به زما د سيوري لاندې وي.
زۀ دا لوظ کؤم، چې د زرکې پاملرنه به ما په پور وي اؤ دغه پور د
پاره به تر خپله وسه هره لاره خپلؤم.
زۀ دا خبره څرګندؤم، چې نن نه به زرکه زمونږ د کور شمېر کبنبې
وي.
زۀ غوښتنه کؤم، د دې کور د هر وګړي نه، چې هغه به د زرکې
زړۀ ساتي اؤ د هغې خوښه به په ځان غوره ګڼي.
زۀ دعا کؤم، چې الله دې زرکه زمونږ سترګو کبنبې د رڼا ، زمونږ
په مخونو د موسکا ، زمونږ زړونو کبنبې د خوشالۍ اؤ زمونږ کور
کبنبې د پياوړۍ مخ ۇګرځوي".
"امين" (ګڼو څلو په يؤ ځل ۇوې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا چې مېرابان کښېناستلو، نو هغه سره په غبرګه پرته څوکۍ زرکه هم کښېناستله. د هغې په سر هغسې د څادر څپر خور ؤ. اوس به یؤ یؤ ښځونک راتلو اؤ د زرکې غېږ کښې به ئې څۀ روپۍ غورځولې. ځنې به د لارې نه په راتلو سترګې د زرکې مخ نه نۀ ویستلې اؤ د هغې لمن کښې څۀ روپۍ اېښودلو نه وروستو چې به ستنېدلو، نو هم به ئې سترګې د زرکې په مخ ښخې وې.
(خُدایه! مدهوبالا بیا مجمر راخستې).
ډېر وخت دغه سلامونه ؤشول. د زرکې کوټې نه راوتلو نه اګاهو چې کوم زوږ ؤ، هغه زوږ اوس یوې غلې ننداره کښې وُرک شوے دے. شپمین د مېرابان د سترګو په وېنا د زرکې لمن یؤ څپوټکي کښې تشه کړه اؤ کوټې ته ئې دننه کړه. ټول مېلمانۀ داسې ګنډلې خُلې وو، لکه د ژمې شپه چې د ځیرک خان دُوي کلي کښې د نیمې نه واوړي. د مېرابان په وېنا مېلمنو ته چۍ اؤ خوارۀ کېښودے شي. ځنې د زرکې ننداره کښې بې پامه د تؤدو چیو نه په ګُوټ کولو خپله خُلۀ ؤسیزي اؤ ځنې د پتاسې، سموسې، متایۍ یا پیکوړې سره خپلو ګوتو نه چک ؤوهي.
ډېر وخت وروستو د ژړا یوه ښُکالو د دغه شپې چپیا کښې ځان ښکاره کړي. د ګل پرداز سترګو نه اوښکې روانې وي. د خپلې ژړا ټینګولو هڅه کښې د هغۀ خُلۀ چینګه پاتې شوې وي اؤ سترګې ئې دُرې برخې غونډۍ شوې وي. مېرابان د خپل ځاے نه پاڅي اؤ دواړه لاسونه ګل پرداز ته هرکلي د پاره خُوارۀ کړي. د ګل پرداز په سر سیندهۍ خُولۍ وي. ښځونک د دېوال چنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست ګل پرداز ته کتلو سره ګاګير شي اؤ دغه څو شېبې د هغوي سترګې زرکې نه واؤړي.
ګل پرداز به هغه وخت کښې خاؤرې نه دُوړې پاڅولې، کله چې مېرابان يؤ بدک ؤ. هغه سُکڼ ؤ اؤ په نڅا کښې به د هغۀ لوړه نۀ مرېدله. يوه ورځ د مړې کورنۍ يؤ وګړے اتڼ کښې "روشني" نومې بدک پسې ؤنخښتلو اؤ د روشني په ژړا انګولا هم چې کله دغه سړي د هغې پرتوغاښ نه لاس ؤ نۀ ويستل، نو "راني" ورغله اؤ دغه سړي ته په پښو پُرېوتله. اولس په لوي شُمېر کښې دغلته ؤ. دغه سړي راني هم د سر نه ؤنيوله اؤ څو ګامونه ئې په زمکه راکښله. نندارتون ته ولاړ وګړي لېوني نۀ وو، چې د دغه سړي لاس ئې نيولو اؤ ځان له ئې وېريا شاتار کتلو. د راني هم مور خور يؤ کړے شول. راني په زمکه پرته وه. ژړا کښې ناګهانه هغې ځان ته ؤوې،
"زما مور هم زما په لُويګانې کېدلو زۀ پرېښے يم اؤ زما خُوېندو د پاره هم زۀ د سرتېتي پېلام ؤم. هغوي کۀ زۀ ډېر زر پُردے کړم، خو اوس د هغوي څۀ پُړه ده، چې دا زما خور اؤ مور کنځي. زۀ خو اوس هم چې يوازې شم، نو خپلې مور، خور، پلار، ورور اؤ کور پسې ژاړم. هر څو کۀ سترګو کښې مې اوښکې نۀ راځي. هغوي به زۀ پُردے کړے يم، خو زۀ ئې اوس هم خپل ګڼم".
راني پاڅېدله اؤ د اولس ګڼې نه ؤوتله. څو شېبو کښې چې بېرته راغله، نو څۀ ګوري، چې د روشني نه اغوستن شُلولے شوے دے. دغه مور سړي سره څو د انډيوالې ځامن وو. هغوي پُړقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چړچقې کولې اؤ دا غږ به ئې هم کولو،
"پورته خو ئې په پوکښو تېریستلي یو.هواره ده. ښکته مو ؤ نۀ لیدله".
راني څۀ ګوري، چې روښني دواړه لاسونه خپلو مېمو ته نیولي، په زمکه ناسته ده. هغه تربدلې ده اؤ وېره ورسره ده، چې موږ سرړے د خپلو انډیوالیو ځامنو ته هغه نوره برڅېره نۀ کړي.
"اهـــهـــهـــهـــ"
یؤ څړیکو سره بوغ شوے غږ ؤوتلو اؤ د وینو تر شو. ټولو ؤکتل، چې د راني کینږ لاس د موږ سړي څټ نه تاؤ شوے دے اؤ د هغې ښي لاس کښې نیولې چړه د موږ سړي خېټه کښې دننه لکه د ارې خْوځېږي اؤ د هغۀ کُولمې شلوي. دوه درې جقونو څخه وروستو دغه سړے په زمکه پرېوتلو. اولس خور شو.
د انډیوالیو ځامنو دغه وخت څۀ کول؟
دغه وخت د انډیوالیو د ځامنو مخنیوي د پاره ګل پري توپنچه لاس کښې نیولې ولاړه وه.
د سړو د سْپړدلي شوؤ پرتوغاښونو نه وېرېدونکي ښځونک یؤ ځاے شول، راني ئې خپل مېراابان کړو اؤ ګل پري ورسره هم ملګرې شوه. هم دغه ګل پري بیا د ګل پرداز خان رنګ خپل کړو. اوس مېراابان اؤ زرکې سره یوه څوکۍ خوا ته کېښودلې شوه اؤ په هغې د ګل پري روح د ګل پرداز ځاندرې اؤ مخ سره کېښېناستلو.
رباب سُر کښې کیږي ..... په دوکړۍ بروښه نوستلې کیږي ..... د

(c) ketabton.com: The Digital Library



باجې غاړه چنګېږي ..... شپېلۍ کنبې پوکے وهلے کېږي اؤ په ګوتو ترې سندره ويستلې کېږي.
انګڼ خوشے پروت دے. چاپېره بنځونک ناست دي. د سندرغاړي پېلام سره سميتا زرکه د لاس نه نيولې پاځوله. دغه شلګونو شمېر کنبې يوازې د مېرابان، ګل پري، سميتا، مدهوبالا، تاجې اؤ شبمين سترګو کنبې اوښکې وې. د زرکې سترګو کنبې هم راڼۀ ځاځکي ځوارۀ شوي وو، خو لاتر دغه وختـه ئې د ځېځمو درشل نه پښه ويستلې نۀ وه. زرکه د مېرابان پښو له ګوتې يؤسي. هغه ئې په سر لاس ايښودلو سره ګل پري ته مخامخ کړي. زرکه ځان ته مخامخ يؤ سپين ږيرے سړے وينې، ځکه چې زرکه دغه مخ کنبې دننه ګل پري نۀ پېژني. بيا هم د هغۀ پښو ته تيتېږي، چې هغه ئې دواړه لاسونه ؤنيسي اؤ بنکته کېدلو نه ئې ايساره کړي. په سر ئې لاس کېږدي اؤ تندے ئې بنکول کړي. اوس کۀ زرکه هغه نۀ پېژني، هم څۀ خبره نۀ ده (ځکه چې زرکې د هغۀ (هغې) شونډو کنبې د مينې تپ پخپل تندي ؤليدلو اؤ د هغۀ د ګوتو پېرزو ئې پخپلو اننګو ؤليدله).
په انګڼ کنبې زرکه ؤدرېدله ..... سميتا د هغې مخ نه پلؤ واخستلو اؤ د لوپټې لرې کېدلو سره ننداره کوونکې سترګې وينې، چې د رنګونو بناپېرۍ خپل مخ بنکاره کړو. د بنکلا د کاڼي بت سا واخستله. بايد چې اوس پورې باجې "هنګ" کړے ؤ، خو د سندرغاړي سترګې د بنکلا بت د هغۀ د لاس نه ويستلې وې اؤ هغۀ له يؤ راګ هم په لاس نۀ ورتلو اؤ بيا چې په ځان پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، نو ؤ ئې وئېل،

لکه ګل چې د صحرا منځ کښې موسيږي
داسې تا دې خُدا ے زما ژوند کښې خندان کړي
د جنت نوم به په خُلۀ باندې وا نۀ خلم
کۀ دې ښکليه! خُدا ے زما جانان کړي
لکه زۀ چې تا نه خپل ځان ځارؤمه
خُدا ے دې ما و تا ښائست ستا هم ارزان کړي

ګا - ما - پا - دا - پا - ما - ګا - رے - رے - رے - رے
سا - رے - ما - ما - ګا - رے - سا
دا - ني - سا - رے - سا
دا - ني - سا - رے - سا

څوک کۀ په دې ما ته کافر وائي، نو ؤ دې وائي
زۀ ستا په مخ کښې د خُدا ے د نور جلوه وينمه
څوک کۀ په دې ما تومتي ګڼي، نو ؤ دې ګڼي
زۀ د انسان ځاندره کښې پټه فرښته وينمه

زۀ ستا تندي کښې د سُپېځلي ژوند محراب وينمه
زۀ ستا په سترګو کښې د خپل هر سوال ځواب وينمه
زۀ ستا لاسونو کښې د خپلې برخې کرښې وينم
زۀ ستا په شونډو کښې خمار وينم، شراب وينمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمۍ لیدلو باندې ستا تندر نیولې، وینم
په دومره ښکلو کښې یؤ ستا غوندې نیازبین نهٔ منم
سپرلو ځولۍ تا ته نیولې ده، رنګونه غواړي
د دهٔ ګلونو کښې یؤ ستا شان ګلورین نهٔ منم

د ښائستونو ښار خو ستا په سر نازیږي ګله!
څه تهٔ ترې ؤځه! چې په دې ښار کښې بیا څهٔ پاتې شي؟
دا چې دے کوږ د خیاله ګرځي، خو په تا وياړيږي
څه مخ ترې واړوه! چې ستا یار کښې بیا څهٔ پاتې شي؟

لوګري چې د زرکې د ځاندرې کومې برخې ته هم څهٔ وئیلي وو، د هغې برخې خوځښتونه داسې وو، چې لیدونکو سترګو نه ئې رپ وهل هېر کړي وو. نن په وړومبي ځل سندره مجسمه شوې وه. څو شېبو کښې داسې ښکاره شو، لکه چې سیلۍ هم د زرکې د ځاندرې دغه خوځښتونو ته ځان سپارلے وي. سپوږمۍ د وریځو نه څو ګامونه ښکته راغلې وه، چې د زرکې په ځلا ځلنده شي. د ستورو مخونو شېبه په شېبه رنګونه اړول. دوکړۍ خپله تمري غږوله..... رباب خپلو پَردو کښې غږېدهٔ..... شپېلۍ د پوکونکي د روح غږ سندریز کولو اؤ باجه خپلو راګونو کښې بوخته وه، خو دومره ډېرو غږونو کښې یؤ د زرکې د پنزېبونو شړنګهار ؤ. کهٔ سپوږمۍ، ستوري، وریځې، ؤنې اؤ سیلۍ سا راکښلي وو، نو دغه تندارتون کښې روکو شوؤ سترګو لرونکي هم بل څهٔ نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل. د هرلې اؤ تاپ سره د زرکې نڅا د لیدونکو ژوند کښې د ټولو نه ښکلې ننداره وه. د دغه کوڅې پاړرېژ اؤ د دغه کور انګڼ کښې په پْرېوتونکو پاڼو کښې یؤ سْپرلې ؤ، اؤ هغه د زرکې اغوستن کښې نۀ یوازې پخپله په چورلکونو ؤ، ځان سره ئې په چاپېرچل هم د ځان څخه د وتلو اوبۀ څْښکولې وې.

کوم وخت چې راګونه د دنګو غرۍونو نه ټیټې پردې له راغلل، دغه وخت زرکې خپل کیڼ لاس اوچت ؤنیولو، د مړوند نه ئې خپلې پنځۀ واړه ګوتې لکه د اودۀ شوې پاڼې ځوړندې پْرېښودې..... ښے لاس ئې ځان نه لږ اخوا په مائله زاویه کړے ؤ (هم د دغه ښي لاس د مسواکې اؤ متې ګوتې سرونه ئې خپلو کښې یؤ کړي وو اؤ نورې دْرې ګوتې ئې نېغې نیولې وې، چې دغو کښې قچۍ ګوته د زْمکې پله وه)، خْپلې سترګې ئې د اورۍدو ښو لاندې په خاؤره خملولې وې..... ښۍ پښه ئې کونډۍ کښې لږه کوتټي کړې وه اؤ د هم دغه پښې پُونده ئې زمکې نه اوچته کړې وه..... ښۍ ډونګه ئې ویستلې وه اؤ دغه ډونګه ویستلو سره د هغې مْلا د تْرخ نه کوناټي پورې لکه د بْرغې شوې لیندې ښْکارېدله اؤ کوناټے ئې د دوکړۍ سره یؤ ځاے داسې خْوځولو، چې په څو شېبو کښې ورسره ټول ننداره کوونکي هم په سرونو خْوځولو شول.

ناڅاپه باجه غلې شوه. دوکړۍ څو ټپونه ؤکړل، خو غلې باجې سره د دوکړۍ مخ نه هم څپېره اوچته شوه. د رباب تارونه د دوکړۍ سره په ځاے ؤدرېدل اؤ شْپېلۍ هم سا راکښله. ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر ګې سازوندو ته واوړېدلې. زرکه همغسې ولاړه وه (دومره وه، چې کوناټې ئې نهٔ څوځولو اؤ ستر ګې ئې د زمکې مخ نه د سازوندو اړخ ته سر اخوا اړولو سره نېغې کړې). باجې ته ناست سرود خان خپلو ستر ګو نه د اوښکو لړۍ نهٔ لیدله. د هغهٔ لاس پښو کار پرېښے ؤ. په لفظونو کښې کهٔ ما د زرکې انځور اؤ د دغه سندرې غږ اؤ د نڅا څوځښتونه ښودلے شول، نو ما به دا لاپه کړې وه، چې تاسو به هم خپلې اوښکې ستر ګو کښې ایسارې کړې نهٔ وې. زرکې خپلې ستر ګې د سازوندو نه بېرته زمکې ته سْتنې کړې (مخ ئې اوس هم را ګرځولے نهٔ ؤ)..... ځان نه لرې نیولے ښے لاس اؤ اوچت نیولے کیڼ لاس ئې د خپلو ؤلو نه څوړند کړل..... خپله نېغه کړې پُونده ئې په خاؤره کېښودله اؤ د مېرابان په لورې روانه شوه. د مېرابان خوا له راتلو سره ئې د هغهٔ پښو له لاسونه یؤړل. مېرابان خپل ځا ے نه پورته نهٔ شو، هغې ته ئې په سر لاس کېښودو. مدهوبالا راغله، زرکه ئې لاس نه ؤنیوله اؤ کوټې ته ئې روانه کړه. ګل پرداز خان د راګونو زوړ کښې د دغه ځا ے نه وتلے ؤ. د لاسونو څوړندېدلو سره ننداره کوونکې ستر ګې د سرودخان نه زرکې پله شوې وې اؤ کوټې ته د ننوتلو پورې په هغې پسې وې.

د دغه کوټې نه زرکه نوم لاړلو، هم په دغه شپه د ښار هره کوڅه، هره لاره، هرې ماڼۍ اؤ هره جونګړه کښې خور شو. څو ورځو کښې د دغه نوم انګازه تر ډېره لرې لرې ؤرسېدله.

"هلکانو! زړهٔ مهٔ خورئ! هر څهٔ منم، خو پېړ مُلا نهٔ منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پرځندکاکا خپل ډولځي کښې تؤده روغه کړې وه) دا د ګور نه خبر وي، عذاب نه خبر وي، دوزخ نه خبر وي اؤ بیا دې هم پرښېدلے وي؟ (قېنچي ږمنځ د دلداري د ږیرې نه اوچتولو سره لږ په زور ؤوائي) نۀ منم...نۀ منم".

چې پرځندکاکا ئې نۀ مني، نو کۀ څوک کلے ورکوي، هم ئې پرې منلے نۀ شي. کلونه منځ کښې تېر شول، خو دولامُلا د پرځندکاکا خُلې نه ؤ نۀ وتلو. دغه ورځو کښې نړیوالې موناري الوتکو ړنګې کړې وې، د پښتنو خاؤرې بیا وینه غوښتلې وه. دغه ورځو کښې خو به چا هم د دولامُلا سره خُلۀ ګډولې نۀ شوه (اوس خو د هغۀ یوه پښه کلي کښې وي، یوه پښه کابل کښې اؤ منځ کښې پېښور پلیتوي)، بیا هم د پرځندکاکا سوخت په وېره تکړه دے. پرځند کاکا دا مني، چې کۀ دولامُلا چرته خپله خُلۀ د عبدالرحمان مُلا نه نیولې وه، نو ځیرک خان به کلي نه وُرک شوے نۀ ؤ اؤ زۀ وایم، چې کۀ د ځیرک خان کور هغۀ له خپل سیوري کښې ځاے ورکړے ؤ، نو ځیرک خان به وُرک شوے نۀ ؤ اؤ د هغۀ وختونه به داسې په شاتار نور شوي نۀ وو.

(بیا هم زۀ اؤ پرځندکاکا دواړه تېر کوو. کۀ ځیرک خان کلي کښې ؤ، نو هغۀ ته خپل شُتون چرې هم په لاس ورتلے نۀ شو اؤ خپله پېژندګلو چرې هم په لاس ورتلې نۀ شوه اؤ نیازبینې زرکې به د بې څوکه ځیرک خان ځاندره کښې سا ورکړې وه..... لوي خُداے پخپلو چارو ښۀ پوهېږي).

وختونه خو د مېرابان هم نور شول. د ښار د ټولو نه د لوي سبتهۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيد پوسجيرشا مانۍ کنبې د څۀ مېلمنو دُرناوي کنبې شپې وينبې ساتلو د پاره بلنه راغله. مېرابان اؤ د هغۀ سره اوسېدونکو بدکانو دغسې ځاے کنبې د ننداري تؤدولو خوب هم ليدلے نۀ ؤ. دغسې مانيو کنبې شپې وينبولو د پاره د کراچۍ اؤ لاهور حُورې بللې کيږي. د مېرابان لخوا کور کنبې په بلنه اؤرېدلو ټولې څلې بېرته پاتې شوې. دا ولې؟

ټولو نه وړومبۍ د مدهوبالا سترګو کنبې وېرې چپه ؤوهله. د چاپېره ولاړو بدکانو د مخونو په لوستلو مېرابان ؤوې،

"کومه بلا چې زما په درشل زما ګلونه شُوکوي، زۀ د هغې بلا انګړ ته ځم اؤ هلته ئې ماتؤم. دا غږ خور شوے دے اؤ څُواشيني په دې چې د سېټهـ غوږونو کنبې ئې ځان ځاے کړے دے. هغۀ ځکه لوي وړانديز کړے دے. ما خپل وار تېر کړے دے. ما چې روشني د پاره هغه وخت بل ځوک وژلي شول، نو اوس خو خپل سر نه هم تېره يم. ځان وژلو ته څېلمه کول هم د بل وژلو نه ډېر سُتغ وي".

په مېرابان د دغه کور د استوګنو باور ؤ. بله ورځ مازيګر سميتا د زرکې وېښتۀ ږمنځول اؤ مېرابان کور ته دننه شو. د سترګو رپ کنبې مدهوبالا هم د هغۀ څوا له راغله. زرکه خپل ځاے نه داسې پاڅېدله اؤ خپله لوپټه ئې په سر داسې څوره کړه، لکه د قدوس خان په راتګ چې هغې يؤ ځل بنکلې د خپلې لوپټې په سمولو ليدلې وه (اوس مونږ ځيرک خان ته نيم سړے وئېلے شو اؤ کۀ پوره بنځه؟).

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما هغهٔ سره هره خبره غوڅه کړه. انګړ باندې به څوک پښه نهٔ ږدي..... مېدان به څوک د ننداري سر ته رسېدلو پورې نه ټولوي..... هغوي به مونږ هلته وړي، خو مونږ به خپله سُورلۍ کښې بېرته راځو..... کهٔ چا د قچرۍ کولو زړهٔ ؤکړو، مونږ به هم په هغه وخت هلته نه پاڅېږو".

زرکه پوهه نهٔ وه، چې دغه خبرې مېرابان چا سره غوڅې کړې اؤ سُپينې کړې وې اؤ ولې؟ هغه پوهه نهٔ وه، چې په دومره لوي وړانديز راتلو هم بدکان ولې وېريندک وو؟

هغه شپه راغله، چې کهٔ د هر چا زړونه هر څو مېرابان ډاډه کړي وو، خو بيا هم په ډکو څُوړند وو. ماسخوتن سُورلۍ د مېرابان دُوي کوڅه کښې ولاړه وه. مېرابان اؤ سميتا مخکښې وو. زرکه د هني، آرا اؤ کوشليا سره ورپسې وه. مدهوبالا مېرابان د تګ نه پاتې کړه. په کوڅه کښې ټولې سترګې په دغه سُورلۍ ښخې وې.

ډېره موده وروستو مدهوبالا په مصله ؤدرېدله. د نمونځ ډېر ټکي هغې نه هېر شوي وو، خو د ولاړې اؤ ناستې پاستې چل اوس هم ورتلو. د رکعتونو شمېر هم نهٔ ورتلو، خو بيا هم ؤدرېدله. هغې څهٔ وئېل نهٔ. په مصله چې څه وخت ناسته وه، لپه ئې خُوره کړې وه اؤ سترګې ئې په اوښکو ګويا شوې وې. "الله دې د بدو سترګو اؤ بدې ورځ نه ؤژغوري"

(هله! د پرځندکاکا دعا خو په کلونو وروستو د مدهوبالا په ژبه هم راغله. زرکه پياوړې ده).

هلته سازونه غږېدل. آرا اؤ کوشليا د دغه سازونو وېنا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځېدلې. يوه سندره ؤشوه، دوېمه سندره ؤشوه اؤ ننداري اوس هم څۀ په بله اړولي نۀ وو. په وړومبي ځل بهر نڅا د پاره سميتا په کوټه دننه زرکي ته څومره ښوني کړي وي، چي دوه سندري پکښي سر ته رسېدلي وي. د کوټي نه د سميتا په راوتلو دغه سازونه غلي کړے شول اؤ بيا ليدونکو نه سا ؤختله. زرکه انګڼ کښي ؤدرېدله. رڼا د هغي د مخ وړاندي تته ښکاره شوه. د هغي په سپين اغوستن د زېړ رنګ ګلونه لکه د پسرلي د زيري ځلند وو. زرکه د مېراباں پښو ته ټيټه شوه اؤ دي کښي ساز هنګ کړو. ننداره کوونکي د هغي سترګو، مخ اؤ ځاندري ته ويلي شي اؤ کۀ د هغي په نڅا خپل سرونه د هغي پښو کښي کېږدي؟ سندره نيمي نه اؤرېدلي وه، چي يؤ مېلمه ځان نه لاس واخستلو. هغه نېغ پاڅېدلو اؤ د سترګو رپ کښي ئي زرکه خپله غېږ کښي ؤنيوله، په زمکه ئي راؤپرځوله اؤ داسي ئي تري خپل لاسونه اؤ پښي چاپېره کړي، لکه چي يؤ وږي ځناور ته پېغله هوسۍ په لاس ورشي. سېټهه خپله خبره سر ته ؤرسوله. د هغۀ سړي ورغلل اؤ هغه مېلمه ئي د زرکي نه ؤشوکولو. مېراباں څۀ هم ؤ نۀ وئېل. هم هغه وخت ننداره راؤنغښتلي شوه اؤ دوي خپل کور ته پخپله سورلۍ کښي روان شول. په ټوله لاره د زرکي سلګيو نه پرته ټول غلي وو.

په کور چي دوي دننه شول، نو مدهوبالا اوس هم په مصله ناسته وه. مېراباں ورته لږ پښه نيولے شو. د هغي خوري لپي اؤ سرو سترګو ته ئي ؤکتل اؤ نېغ خپلي کوټي ته دننه شو. څومره کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېنبې په وړومبي ځل مدهوبالا اؤ سمیتا د مېراوان دغه مخ ؤلیدلو. هغه چرته هم کور ته په راننوتلو نېغ خپلې کوټې ته تلے نۀ ؤ. مېراوان د کوټې ور ځان پسې پورې کړو اؤ رڼا ئې ټپه کړه.
(شپه نن ډېره بورېنوونکې شوې وه. زرکه د مدهوبالا اؤ سمیتا منځ کېنبې پرته وه. آرا، هنې اؤ کوشلیا یؤ کټ کېنبې ناستې وې. څو ځله دُوي ؤشارل، چې مېراوان به خپلې کوټې نه ؤوتلو، د کور انګڼ کېنبې به ؤدرېدلو اؤ بیا به خپلې کوټې ته لاړلو). دا ځل چې مېراوان خپلې کوټې نه ؤوتلو، نو نېغ د کور ور له لاړو، د ور ژُرنده ئې لا بېرته کړې نۀ وه، چې د سحر بانګ ؤشو. نیم بانګ پورې هغه هم په دغه ځاے ولاړ ؤ اؤ بیا بېرته خپلې کوټې ته سُتون شو. نورې دُرې واړه هم اوس اودۀ شوې وې، خو سمیتا اؤ مدهوبالا شپه د زرکې سلګیو ته ژړلو کېنبې اؤ د مېراوان څارنه کېنبې په ویښه تېره کړه.
دُرې ورځې مېراوان د کور درشل نه پښه بهر ایښې نۀ وه اؤ نه ئې کور کېنبې چا سره خبرې کړې وې. په څلورمه ورځ ماښام هغه کور نه ؤوتلو. دغه دُرې ورځو کېنبې کۀ چا هغه پوښتلے هم ؤ، خو هغۀ څۀ ځواب ورکړے نۀ ؤ. په دغه ورځ کور نه وتلو کېنبې هغۀ مدهوبالا ته ؤوې،
"کۀ ما ناوخته کړو، نو ور ته ژُرنده ؤوهه!".
شپه مدهوبالا د ور څارنه کېنبې تېره کړه، خو ژُرنده ئې ؤ نۀ وهله. سحر سمیتا وُرځپاڼه راؤړله، مدهوبالا له ئې ورکړه اؤ پخپله نېغه کوټې ته ننوتله. وُرځپاڼه کېنبې د ښار د یؤ نوموړي سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټېږ وه، چې هغه چا لویه لاره کښېښې وژلې وه او د هغې د ځاندرېځه برخې ئې په چاره غوڅې کړې هغې سره خوا کښې ایښې وې. په انځور لیدلو او خبر لوستلو مدهوبالا وارخطا ګانه یو اړخ ته کښېنوده. په هغې غوني ځېږ ځېږ شول. هغه سمیتا پسې ورټلله، چې دې کښې ور بېرته شو او مهرابان کور ته راغلو.

"سمیتا!"

سمیتا د ور کړپ پسې خپل نوم اورېدلو سره د کوټې نه ابلې پښې راووتله او مهرابان ئې ولیدلو. مهرابان راغلو، سمیتا او مدهوبالا ئې خپله سینه پسې جوختې کړې او وئې وئېل،

"ځان وژلو ته څېلمه کول هم د بل وژلو نه ډېر سټغ وي (بیا هغه هم په ژړا شو او مدهوبالا او سمیتا هم) د زړکې سلګۍ دا څو ورځې زما غوږونو نه نۀ وتلې (مهرابان دواړه خپلې سینې نه اخوا کړې، خپلې اوښکې ئې وچې کړې) ما بېګا د هغې په چغو کښې د زړکې سلګۍ ښخې کړې".

دغه مړے د سېټهه نۀ وو. دغه مړے د هغه چا وو، چې د زړکې اومې خلې ته ئې ځان ټینګ کړے نۀ وو. د سېټهه په بلنه باندې ټول بدکان ګاګیر شوي وو او بیا مدهوبالا خو ډېره وېرېدلې ځکه وه، چې سېټهه د ښار هغه نومورو سړو کښې شمېر وو، چې روپۍ هم ورسره وې، زور هم او روپۍ او زور د دغه وېرې مونځ نۀ وو. د وېرې مونځ دا وو، چې سېټهه د یو ډېر تور زړۀ څښتن وو. څو ځله هغې مدهوبالا پسې لاس پښې وهلي وو او خبره دې له راغله، چې یوه ورځ ئې د مدهوبالا د تښتولو هڅه هم کړې وه. بیا چې کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



راني څو بدکانو خپله مېرابان کړه، نو مدهوبالا هم د دۀ د سېوري لاندې د سپتهې کومي نه ؤوتله. د سپتهې نور هم ځلور وړونه دي. دوه مشران اؤ دوه هغۀ نه کشران. تاسو د کراچۍ په نومې ځاے کښې د هغوي پوښتنه ؤکړئ، نو اولس به درته ؤوائي، چې هغوي څومره پياوړي، نامتو اؤ د سرېتوب څښتن دي. د وينې تړون ئې سترګو کښې د ے، نور خو به د دغه وړونو زړۀ چرې هم سپتهې له ور نۀ شي. د هغۀ مشر ورور دې خُدا ے ؤبخښي، هغۀ به پرې چوکه ايښودله، خو چې کله نه د کراچۍ سياست کښې د ژبې په بنسټ واکمنو د اوسېدونکو وېش پېل کړو اؤ بيا يوې ځانګړې ژبې سره ئې خپل ټول کومک ؤتړلو، نو سپتهې د مشر ورور لاس نه هم ؤوتلو. د ويوونکو د غاړې دې وي، خو ګڼې خلې وائي، چې خپل مشر ورور دۀ پخپله وژلے ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهمه شپېه

ما هغه وخت عبدالغفار خان پېژندلو. هغه زما د کلي د يؤ خان ځوے ؤ. پلار ئې زما ياد نۀ شي. د دُرې خانانو پلار ؤ. هغه دُرې واړه پېژنم. اولس به ورته باچاخان وئيلو. زۀ خبر نۀ ؤم، چې هغۀ ته باچاخان ولې وائي؟ (خپل نوم ورته ولې نۀ وائي). څۀ موده اګاهو زمونږ د کلي منيربابا چې د جلال اباد نه راستون شو، نو په جومات کښې ئې خبره کوله، چې "دا څو مياشتې سوکړه وه، خو د باچا خان بابا جنازه چې پورته شوه، نو سوکړه ماته شوه".
منيربابا خو پخپله بابا دے، هغه باچاخان ته بابا وائي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



منيربابا ما ته اؤ زما د ټرونو ځامنو ته اؤ زما پلار ته اؤ زما د پلار ورونړو ته ډېر ګران ؤ. يؤ سبب خو ئې دا ؤ، چې هغه د کلي پخوانو مشرانو کښې ؤ. اوس خو زما د نيکۀ سره نور ټول مړۀ دي. منيربابا، کوستان استاذ، تازه نور بابا، پايودين بابا، شکور استاذ، سابق صېب اؤ سېدولي بابا ژوندي دي. بيا دې نورو کښې زۀ پايودين بابا خپل نيکۀ ګڼم، ځکه چې د هغۀ ځوي صلاح الدين کاکا زما د پلار د ځلميتوب ملګرے دے اؤ دغه ملګرتيا اوس هم ښه کلکه ده (اؤ تر هغې به کلکه وي، تر څو چې زما د پلار ځامن يا د صلاح الدين کاکا ځامن پړځمن شوي نۀ وي) اؤ شکوراستاذ راته ځکه ډېر ګران دے، چې پتهۍ سيپارې نه واخله د وَالنَّاسْ پورې ئې راته قران په وئېلو هم زده کړے دے اؤ ژباړه هم. د منيربابا سره زمونږ د مينې دويمه موخه دا وه، چې هغه زمونږ د نيکۀ ډېر نژدې ملګرے ؤ. زمونږ نيکۀ د پوجون بابا (خُدا ے دې ؤبخښي) مرګ نه وروستو زمونږ د کلي د جومات ساتندويه ؤ اؤ کله چې زمونږ نيکۀ مړ شو، نو د کلي اولس منيربابا ته دغه پټکے په سر کېښودلو (بيا وروستو چې منيربابا مړ شو، نو عزيز کاکا د جومات ساتندويه شو. الله دې ژوندے ساتي).

يؤ منيربابا به باچاخان ته "بابا" نۀ وئېلو. د ډيورنډ کرښې په دواړه اړخونو پښتنو هغه خپل "بابا" منلے ؤ. پښتانۀ چا ته ويړيا د "بابا" اؤ "ماما" نوم نۀ ورکوي. پولس نه وېرېږي، نو "پولس ماما" ورته وائي اؤ پيري نه وېرېږي، نو "پېرے ماما" ورته وائي. پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، "بابا". دوي هغه چا ته "بابا" وائي، چې دوي ئې ؤمني. (ګوړګوړبابا پکښې نۀ شمېرم، هغه هسې بابا شوے دے).
د "انجمن اصلاح افاغنه" نه د "خُدائي خدمتګار" پورې به هغۀ د خپلې خاؤرې، خپلې ژبې اؤ خپل اولس خبره کوله. دې منځ کښې هغۀ خپل ځان هېر کړے ؤ. پښتنو په ځوانۍ کښې "باچاخان" کړو اؤ په سپینه ږیره ئې "باچاخان بابا" کړو. کراچۍ کښې د دغه باچاخان په نوم یوې ګرځؤنې له هم نوم ورکړے شو.
څۀ وخت چې واکمنو کراچۍ د ژبې په بنسټ وېشله، اؤ د یوې ژبې ویونکو د بلې ژبې ویونکې وژل، نو هغه وخت باچاخان کراچۍ کښې ؤوې،
"د هندوستان وېش نه وړاندې تاسو د مسلمان، هندو اؤ سیکهـ په نامه ځانونه وژل اؤ اوس د پښتون، مهاجر اؤ پنجابي په نومونو یؤ بل وژنئ. تاسو د یؤ بل دُرناوے ولې نۀ کوئ؟
د یؤ بل د وینې ارزښت ولې نۀ پېژنئ؟
د یؤ بل برخه اؤ حق ولې نۀ منئ؟
د وینې ورېم نه تاسو له ولې کُرکه نۀ درځي؟
ستاسو سترګې ولې مینه لیدل نۀ غواړي؟
تاسو د وطن په مینه ولې نۀ یؤ کیږئ؟"
نن د هغۀ د تلین په وړومبۍ ورځ نړۍ هغۀ اؤ د هغۀ په ښونه اؤ ښودنه پسې لاسونه ؤمروړل.
کلي کښې راپوږۍ خپل تمبل له تېل ورکړي اؤ نمر ته ئې ایښے دے. کلي نه دُرې ډولۍ لاړې اؤ یوه ډولۍ ورته هم راغلې نۀ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا نۀ بله ورځ به مابنام دا تمبل د ځیرک خان اوومې نه وروستو په وړومبي ځل د قدوس خان کور کښې ؤغږېږي. میرګاتي له ( نه ریښتیا ) فردوس خان له ئې نیوکه ؤکړه. دا ځل چې راپوړې تمبل غږوي، نو مابتې به نۀ وي. مابتې خپله مور اؤ ښکلې نیمه خلۀ سُتانۀ کړې دي. هغې ورته خپله پرېکړه ؤوئېله، چې د ځیرک خان سره دغه کور نه هغه هم وتلې ده. ښکلې به دغه ورځ خپل اغوستن کښې نۀ ځائیږي، خو دا خبره لرې ده، چې د بلقیس زړۀ به د راپوړې تمبل سره ټُپک ؤوهي. فردوس خان تلو تلو، نو په شیشړه مئنېدو. هلکه! شیشړه چې پېغله شوه، نو ښاپیرې شوه.
مېرابان مُیاشت کښې دوه ځله بهر نځا د پاره زرکه اؤ د هغې سوېلې بوځي. اوس خو دغه کوڅه کښې ټولو نه لَوي کور د هغوي دے. زرکه لکه د نواب د لُور ژوند کوي اؤ دې ژوند کښې کله کله هغې ته د خپل کلي د کور نړېدلې بلې وریاده شي، کله کله ورته د مابتې مینه ؤدرېږي اؤ کله کله ورته کمیله په غوږ کښې "څنګه ئې دغۀ؟" ؤوائي..... خو دا خبرې دومره د اوږدو نۀ وي. مدهوبالا مجمر راخستے وي اؤ یا ورته سمیتا خپله یا د مدهوبالا یا د مېرابان قبصه راخستې وي. اوس خو د هغې لاسونو باندې د نکریزو رنګ نۀ پیکه کیږي. کۀ سمیتا نۀ وي، نو آرا وي اؤ کۀ هغه نۀ وي، نو هېلن وي اؤ کۀ هغه نۀ وي، نو بل چا نکریزې خوشتې کړې وي.
مېرابان میاشت کښې یؤ ځل خامخا د خپلې مور پوښتنې له ځي. د هغۀ مور اوس هم هغه خپل نۀ ګڼي، خو ورور ئې د تېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو مياشتو نه کور ته د هغهٔ راتګ خپل سپکاوے نهٔ ګڼي. اوس مېراباﻥ هلته ډکې منګولې ځي.

(اے پليتې نړۍ!)

مور ئې هم ډېره غاړه پسې نهٔ وړي. خو خپله پڼه نهٔ مني. هغه د سندهـ د يؤ پېژندلي خپل سره تړون لري. تربور مربور به ئې ورور له پېغور هم ورکوي، خو بيا هئ هئ پليتې نړۍ! پېغور پېغور دے خو د مېراباﻥ ډکې منګولې.

مونږ نه دا ځنګه هېر شوي دي، چې سېټهـ هغه ورځ خپله ماڼۍ کښې زرکه ؤليدله اؤ بيا پسې ورپېښ نهٔ شولو. مېراباﻥ دا ګڼل، چې هغه شپه په زرکه غوټه کېدونکے په ښار کښې ؤوژلے شو اؤ د هغهٔ هاغه دغه د هغهٔ نه غوځ شوے د هغهٔ په خُلهٔ کښې ورکړے شوے ؤ، نو ګڼي دا ډېره وه؟ مېراباﻥ پوهه نهٔ ؤ، چې سېټهـ هغه مړے په شړق هم نهٔ ويشتلو. نن چې مېراباﻥ کور کښې نشته، سېټهـ د هغهٔ انګڼ ته ورغلو. د خپلې کوټې په درشل ولاړې زرکې چې ځنګه ؤليدلو، نو دننه لاړه اؤ ښکاري په کوټره شڅوند پسې ورننوتلو. دا خو ښه وه، چې سميتا ليدلے ؤ اؤ دا ښه وه، چې د سېټهـ سره ټوپک ګرځوونکي بهر ولاړ وو. سميتا چې کوټې ته ورننوتله، نو سېټهـ بيا زرکه کټ کښې ځملولې وه اؤ کميس ئې ترې شلولے ؤ. خُدائے دې دوي په نېکه واړوي، خو پرتوغ ابن اچوئ کنه!!!

سميتا په ځاے د دې چې د سېټهـ لاس نيولي وو، د هغهٔ په پښو پرېوتله اؤ ؤ ئې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



"سېټهه صيب! كهٔ تهٔ خپلې اوبهٔ ويستل غواړې، نو هں! ما واخله. زهٔ به ويش هم نهٔ كوم. چې څنګه دې خوښه وي، خو دې سپېڅلې ته څهٔ مهٔ وايه".

"زمري وابنهٔ نهٔ خوري".

"تُهکرے الله جو واسطو. اِن کے چهد ڈے"

زركه كهٔ د هغوي په ژبه نهٔ پوهېدله، خو په دې پوهه وه، چې دغه وړې ښاروې د هغې پرېښودلو ته چمتو نهٔ دې. دغه وخت مدهوبالا هم كوټې ته ددننه شوه او چې څنګه ئې سېټهه ؤليدلو، نو په هغه ځاې پښه نيولې شوه. لاس پښو نه ئې سا ؤوتله.

"راځه! راځه! ډارلنګ!"

د سمیتا مدهوبالا ته پام شو او په ځاې ؤدرېدله. هغه نېغه ورغله، په زركه ئې خپله لوپټه خوره كړه او يؤ اړخ ته ؤدرېدله. دغه وخت پورې نور اتهٔ نهه بدكان هم كوټې ته ورغلي وو.

"تا ما پسې خپلې تنۍ شلولې وې، ما غاړه ايښې نهٔ وه. اوس دا ماشومه پرېږده! تهٔ چې څهٔ وائې، زهٔ به هغسې كوم. زما د غوښې يوه يوه ټيكه په چاړو غوڅه كړه. زهٔ به هېڅ هم نهٔ وايم. هں! واخله!".

مدهوبالا خپل دواړه لاسونه خوارهٔ كړي، سترګې پټې كړي او دواړه شونډې جوختې كړي. د زركې سترګې ترېدلې وې..... هغې لوپټه ځان ته نيولې وه او هرې سلګۍ سره ئې بې شمېره اوښكې بهېدلې. سېټهه د زركې خوا ته روان شو او خپل ښې لاس ئې د مدهوبالا څټ ته ؤغځولو او هغه ئې ځان ته جوخته كړه. بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ئې د هغې کمیس نه لاندې کړو اؤ په کوناټو ئې ورله خوره سپېره منبل پېل کړل.

"هغه وخت تۀ خوږه وې.....

اُومه وې.....

نېنځکه وې.

اوس ستغه شوې ئې.زما سُتوني نه سُتغ شیونه نۀ تیرېږي. ما خپل سُتوني له د پستو نُمړیو خُوند ورکړے دے.

تۀ به مې ؤنخښلې".

هغه په زوره زوره ؤخاندي.... د مدهوبالا بدې نه خپل لاس ؤباسي اؤ بیا زرکې ته مخ واړوي.

"اں ں ں!"

د سبتهـ شیطانې سترګې ځان ته په کتلو لیدلو سره د زرکې خلې نه د وېرې ډک غږ ؤوتلو اؤ ناڅاپه ؤدرېدلو. دغه وېره د مېرابان لیدلو سره پښه نیولې شوې وه.

"دا څۀ؟"

د مېرابان شونډې ډېر سوخت نه تورې شوې.

"سبتهـ صبب! دا دې ښۀ ؤ نۀ کړل (هغه د زرکې خوا له لاړلو، هغه ئې پاڅوله، لوپټه ئې ترې چاپېره کړه) ور پورې کړئ!".

"ما سره دومره زور، واک اؤ چل شته، چې تاسو ټولو نه هم دلته اغوستن ؤباسم اؤ لوڅ اؤ بربنډ مو د ښار په لارو کوڅو کښې ؤګرځوم. ستاسو تپوس به ما نه څوک ؤکړي؟ (هغه د مېرابان خوا له راغلو) دا نېنځکه ما ته دلته پرېږدئ اؤ ورک شئ! پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکي کړئ!“
”ما هم ژوند برواتوب کښې تېر کړے نۀ دے. ستا غونډې لکې خوټې ګرځېدونکو خو دا نړۍ وړانه کړه. ستا زور اؤ واک پخپل ځاے، خو اوس ما هم د خپلو مېرابانانو نه دومره زور، واک اؤ چل اخستي، چې په ښځونک اغوستن اغوستلو به درته ځان بد ښکاري، خو نور به کۀ خېر وي، ښځې ته خور وائي“.
(اوهو! ښه، نو مېرابان دا غواړي. سمیتا بهر ؤوتله. د سېټهـ سرو ته ئې ؤوئېل، چې سېټهـ شپې ته ایسار شو اؤ هغوي لاړل (هغوي د سېټهـ په تنده پوهه دي، چې هغه دغسې تؤدو پالنګونو کښې پستې برستن ته شپې د پاره کله کله ایساریږي)).
بدکانو د سېټهـ خلۀ کښې شوره ورکړه..... د کوټې ور ئې پورې کړو..... هغه ئې کټ کښې لاسونو اؤ پښو نه ؤتړلو، ترخونو نه نوم پورې ئې ترې هم بیاسته تاؤ کړه اؤ په اوچت غږ کښې ئې دا سندره په ټیپ سوره کړه،
”الے.....الے موجا ماړو اړه!
او موجا جوګي اړه!
ماړوړا متهړا مونجا!
ماړوړا سوهڼا مونجا!
ماړوړا لاهوتي مونجا!“
د مېرابان په وینا زرکه بلې کوټې ته بوتلې شوه. آرا اؤ نېنا هغې سره لاړلې. تېل راؤړے شول اؤ مېرابان د سېټهـ پرتوګ د کټ په پیاړمه ځوړند کړو. هغۀ ډېر زورونه ؤکړل، خو اوس ګېر ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرابان پخپل لاس تېل ؤمښل اؤ د سېتهه غُماني اؤ لېنګي ئې غوړول. هغهٔ پخپلو لاسونو دغه دومره ؤمښل، چې اوس ئې تلے سوزولو.

"نېک خو بېخي سر نهٔ اوچتوي" (د سېتهه په زورونو پرهر شوؤ پښو ته کتلو سره مېرابان کوشليا ته ؤوې) "راشه کنه! کهٔ ستا لاسونه ئې جېګ کړي".

اوس مښل ډېر شوي وو. سېتهه هم ستړے شوے ؤ. هني اؤ نېمت اؤ کوشليا يؤ خوا شوې، سميتا اؤ کرن اؤ تېکارا بلخوا شوې. دغه شپږو د هغهٔ پښې کُلکې ؤنيولې اؤ مدهوبالا د هغهٔ پښې ؤسپړدلې. سېتهه بيا ډېر زورونه ؤکړل اؤ بيا ستړے شو.

"دومره زورونه خو ما ژوند کښې ليدلي نهٔ وو. څهٔ زياتے خو درسره نهٔ کؤم، مار دې ايجازه کښې راولم، چې پردي لوښه اؤ ځامن نهٔ چيچي (د سېتهه په نوم کښې هغهٔ په دواړه لاسونو يؤ څو ديکې ؤوهلې) دا سندره نوره اوچتهٔ کړئ اؤ چې څنګه زهٔ لاسونه اوچت کړم، د دهٔ پښې دومره زور سره راکاږئ، چې سوړه ئې خيرې شي".

"جوګي ايا مو نا سونجاتا
جوګي ايا مو نا سونجاتا
ايرا وين وجائي ويا
الے... الے موجا ماړو ارا....."

د مېرابان غږ سره چې بدکانو زور کړل، نو د سېتهه دواړه پښې يؤ بل نه په جق لرې کړې شوې اؤ د هغهٔ د رګونو د غوښېدلو شرړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واؤرېدلے شو. سپټهـ خپل هوش ؤبائیللو.
"د ښار په یوه کوڅه کښې ئې ؤغورځوئ. کۀ د خپل پلار نه زېږېدلے وي، نو د نمر سترګه ختلو نه وړاندې به مړ وي اؤ کۀ مور ئې ګاونډي ته اېپ وئيلي وي، نو بیا خُدائے کړے ناکام دے، پخپله به څۀ کؤم نو".
دوه ورځې وُروستو وُرځپاڼه کښې د سپټهـ د ځان وژنې خبر خپُور شوے ؤ. یوه لویه قېصه هم ورسره وه.
"دې قېصې نه خو مونږ هډو خبر نۀ وو"
نیمت ؤوې.
سپټهـ ښۀ سړے نۀ ؤ، خو د سپټهـ مور ښه ښځه وه.
نیمت دغه کور کښې اوسېدونکے یوازې بدک دے، چې دغه هم چیره کړے شوے ؤ. هغه دغه کور کښې یوازې بدک دے، چې بهر څوک په لاس ورشي، نو هغۀ نه مخکښې کیږي. خپل خارښ د پاره په بُوکه کیږي، پیسې نۀ اخلي. خُدائے دې نۀ کړي،چې مېرابان ترې ؤغوږېږي، ګنې مړ به ئې کړي.
نیمت به کله کله په ژړا شو. هغۀ کښې دننه سړے به نیغ شو اؤ د هغۀ زړۀ به ئې په مُوټې کښې کلک ؤنیولو. د هغۀ خُلې نه به پشم روان شو اؤ د هغۀ سترګې به سُرې سُکروټې شوې. په ډډه به واؤړېدلو اؤ چې په ځاندره کښې به ئې څۀ خُوځښت هم نۀ راتلو، نو چغې به ئې کړې. د هغۀ درد اؤ خُوږو باندې د هغۀ مېرابان پوهه ؤ. مېرابان خپل کور کښې د استوګنې لاره هغۀ له د هغۀ د قېصې اؤرېدلو نه وُروستو ورکړې وه اؤ هغه وخت ئې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وئیلي وو،
"د خُدا ے په کارونو کښې ګوتې وهل مې خُوښ نۀ وي. د دې زور سړي نه وُروستو ووځي".
نېمت ته به چا وئیلي نۀ وو، چې چیره کېدلو سره غېږ نېغېدلو نه ؤځي، خو زړۀ خپل تخنېدل اؤ غوښتنې نۀ پُرېږدي. د نېمت ژوند لکه د یؤ هروختي عذاب تېرېږي اؤ هغه هم کانړے د ے، چُوي.... نړیږي.... ماتیږي، خو څۀ وائې نۀ.
دې ځلور پنځۀ کلونو کښې پېدرګل هم شونډې سُرې کړې وې. هغه اوس پوهنتون نه وتلے د ے اؤ څُوارلسم پورې ئې زده کړه کړې ده. اوس هغه د کراچۍ د هرې کارخانې، هر مکتب اؤ هرې ادارې ور وهلے د ے، خو هغۀ له څوک کار نۀ ورکوي. وُرځېپانه کښې چې کله هم د څۀ کار اؤ وظیفې د پاره غړ لولي، نو هماغه وخت هلته ورځي. پلار ئې ډېر پوهه کړو، چې بل څۀ کار کوه، خو ځوے ئې غاړه نۀ ږدي.
"ولې؟ ما چې دومره زده کړه کړې ده. ما ته به څوک دا ؤوائي، چې زۀ لیکل لوستل کولے نۀ شم. دلته سړي کار کوي، ښځې وظیفې تر سره کوي، ما کښې څۀ نیمګړتیا ده، چې ما له وظیفه نۀ راکوي؟ زۀ به بل څۀ له ګوتې نۀ وړم، تر څو چې مې خپل دغه مرام ترلاسه کړے نۀ وي".
مونږ خو خُوره لیه یو، چې الله دې ؤکړي، چې هر چا ته د هغۀ حق اؤ برخه ورکړې شي. د نړۍ په مخ چې چرته هم کُرکه زېږېدلې ده، د دغې کُرکې د ځېلو په کنستلو مونږ د بل برخې اؤ حق ته تور

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړۀ وینو اؤ بیا هم دغه کُرکه د کوړمو، خېلونو، سیمو، قامونو اؤ هېوادونو تر منځه د نُخښتې تاده کړځي.

د تېښتیس جان په مخ اؤ سترګو کښې چا هم د مرګ وېره لیدلې نۀ وه. هغۀ تهول ژوند په مرګ پسې ملنډه کښې تېر کړو. لامه توپنچه به ئې هر وخت په تهټي ځُوړنده وه. هغه داسې هم نۀ ؤ، چې هر وخت به ئې ګنې تورې نه وینې څڅېدلې. هغۀ چرته هم چا ته سُتغه سُپوره وئېلې نۀ وه اؤ ښکاره ده، چې هغۀ چا سره سُتغه سُپوره نۀ وه کړې، نو په هغۀ هم څوک بُلوڅېدلي نۀ دي. لامه توپنچه د هغۀ د تُږۀ وه اؤ تُږۀ ته دا ډېر نزدې ؤ، نو هغۀ ورله یؤ ډول د ډالۍ په توګه دغه توپنچه ورکړې وه.

زما ورسره خُداے شته، دغه توپنچه هم نۀ خُوښېدله، خو چرې مې ورته وئیلي نۀ وو. دومره ده، چې یوه بله خبره مې ورته کړې وه. خپل ماټور کښې به د هغۀ پښه په اکسلاټر ډېره جوخته وه. ما هغۀ ته یوه ورځ ؤوې،

"جانیه! تۀ دومره توند ماټور مۀ ځغلوه. دا خو تامړې دي، بیا به سمې شي، خو خُداے مۀ کړۀ، کۀ ځان یا بل څوک لاروے در نه".

"ایاتولا!

د مرګي وېره مې په سر باندې سُوره ولې کړم؟
د رنګ نه ډکه دا نړۍ ځان ته سُپېره ولې کړم؟

(په زوره زوره ئې ؤخاندل) مرګ په نېټه دے".

"خو وګړے نۀ د چیرړو نېنځکه ده، چې بیا به ئې ؤګنډې اؤ نۀ د تامړې ماټور دے، چې بیا به تامړې نېغې اؤ کوشېر کړې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغۀ مخ نه خندا ورکه شوه. ما ورومبي ځل د هغۀ سترګو کښې وېره ؤليدله. رو غوندې ئې ؤوې،

"اياتولا! زۀ د باجوړ خان هومره زړۀ ور خو نۀ يم اؤ نۀ د خپل تْرۀ هومره باتور يم. کله کله د شپې چې ځملم، نو غْوږ کښې را ته څوک ؤوائي، "بؤؤؤ" اؤ زۀ ؤبوږنېږم. يار! دغه بؤ ما ته د مرګ ښکاري. زۀ راپاڅم اؤ په زور زور ؤخاندم. دغه په زور زور خندا کښې د بؤ غږ ورک شي، خو هغه بيا هم وي، زۀ ئې غږ نۀ اؤرم. (د هغۀ غږ نور هم تېټ شي) زۀ ئې غږ نۀ اؤرم، خو هغه بيا هم وي. هغه بيا هم وي. (بيا ئې غږ خپل ځائے له راشي) کله کله دې وْرندار ما ؤپوښتي، "دا په تا څۀ ؤشي؟"، زۀ ورته ؤوېم، "بؤ دے، ؤ مې ځْغلوۀ". هغه زما په خندا نۀ پوهېږي اؤ کۀ پوهېږي هم، نو څۀ وائي نۀ. اياتولا! دا ښځه هم څۀ بلا وي. پوهه به پرې نۀ شې. ګوره! ستا هغه ستا څومره پاملرنه کوي. ستا غوندې پيرياني سره به څوک وخت تېر کړي؟ اؤ هغه هم کاپيران!"

هغه بيا په ډېره زوره زوره ؤخاندي. زۀ پوهه شوم، چې هغۀ ته بيا غْوږ کښې چا بؤ ؤوې. ما ورته تګ کښې ؤوې،

"پيريان دروغ دي (ما د هغۀ لاس خپل منګول کښې لږ جوخت ؤنيوۀ، خْلۀ مې د هغۀ غْوږ ته نژدې کړه اؤ چې کله ترې روانېدم، نو) مرګ رينښتيا دے".

هاغه ورځ هغۀ ما ته څۀ ؤ نۀ وئېل، خو ډېر وخت پورې ما دا ګڼل، لکه چې هغه ما ته ګوري اؤ زړۀ کښې وائي،

"جانيه! ؤخانده جانيه! بؤ دے".

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د ژمي تور ماښام کنبې لړه څوره وه. ناڅاپه يؤ چړينګ شو، بيا يؤ لوي غږ شو اؤ بيا...." ډېرې خلې دي، ډېرې خبرې دي. ما پخپله دغه د ډغرې ځاے ليدلے نۀ دے. وختي رياض وې، چې ماتور ئې بيخي چپړيت شوے. ځوے ئې ژوبل دے اؤ مېرمن ئې هم. پخپله ئې سر خوړلے دے.

"ګوليه! کۀ ماتور ئې په ؤنه نۀ ؤ وراچولے، نو اوس به ئې ښځه اؤ ځوے هم مړۀ وو".

ما چې د پېروشا خبره واؤرېده، نو هغۀ ته مې ؤوې،

"ګوليه! تېنتيس ځان وژلو سره د خپلې ښځې پېغلتوب اؤ د خپل ځوي راتلونکے ژوند هم وژلي دي".

خبره ما پېروشا ته د ګولي په نوم واؤروله. هغه دواړه پرې ځان پوهوي. تېنتيس خان ته به اوس بؤ غږ نۀ کوي.

"روژه راغله ډانګ په لاس
لوي وهي واړۀ ترې خلاص"

زرکې ته د روژې په راتګ خپل کلي کښې د وړو هغه چغې وريادې شوې وې، ځان سره ناسته دغه خيالونو کنبې وُرکه وه. مابتيې، مړخپنې اؤ شانو اؤ د هغوي نورو همځولو نجونو به په يؤ غږ کښې چغه کړه،

"روژه راغله ډانګ په لاس
لوي وهي واړۀ ترې خلاص"

اؤ دغه لارو کښې به تؤدوښه شوه. قدوس خان به کور د پاره ډېر څۀ راؤړل. په روژو کښې به ماښام پانوس خان د نمونځ په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤوتلو اؤ بیا په پوله به ئې د خپلو ملګرو سره سیګرټ څښکل. ښکلې به وړندار ته د سیګرټو ګیله کوله، ځکه خو چې به پانوس کور ته تللو، نو هغې نه اګاهو به ئې خلۀ سمه شوره باندې ؤوینځله. د وړندار خپل سپین ږیرے هم روژه کښې باتې ته تیلے وهي، خو اوس مشره مور نشته، چې څمځ......".

هلته په کوټه کښې مدهوبالا سره څوا کښې مجمر پروت دے. مجمر کښې پراتۀ سکارۀ مړۀ شوي دي. ټول سپیلني لوګي شوي دي. مدهوبالا خو د مانښام نه سمیتا ته وئیلي وو،

"کۀ لږ سپیلني یا نمبر چا راؤړل".

"سبا به راؤړم مدهو! اوس خو شته کنه؟"

"دغه څو پاڼې دي نو. بېګا له مدهوش راځي، ځکه مې وئېل. د هغۀ ډېر خوښ وي".

سم د مانښام نه مدهوبالا ځان پسې د کوټې ور پورې کړے ؤ. هغې د خپل مخ نه واخله، خپلو پنډو پورې ټول وېښتۀ توږلي وو. د مدهوش د خوښې زېړه ساړي ئې اغوستې وه، یؤ ګل ئې خپلو څڼو کښې ایښے ؤ اؤ هم د دغه ګل رنګ ئې خپلو شونډو له ورکړے ؤ. دا ځل مدهوش هم ډېر وخت هغې نه لرې ؤ اؤ دا ځل ډېره موده تېرېدلو باندې په وړومبي ځل هغې ځان باندې پیکه شوي پېغلتوب له بیا رنګونه ورکړي وو..... د مخ ګوتونه ئې پټ کړي وو..... خپلې سپینې څڼې خو به هغې هسې هم تورولې، خپل تېر جوبن ئې بیا مېلمه کړے ؤ.

مدهوش سره سمیتا، هېلن اؤ زرکه هم د مدهوبالا کوټې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورغلې. دغه اوس لوي کور ؤ. اوس د هر چا خپله کوټه وه، خپل کټ ؤ. دومره موده کښې هغه وختونه تلي وو، چې یوه کوټه کښې څلور کټونه اؤ زیاتره په یؤ کټ کښې دوه بنځونک. اوس ژوند کښې پراختیا راغلې وه. مېرابان چې مړ شوے دے، نو د دغه کور پاملرنه سمیتا ته په غاړه شوې ده. "سبا به راؤړو مدهو! اوس خو شته کنه". کله چې سمیتا مدهوبالا ته دا وئیلي وو، نو هغې ته خپل مېرابان ډېر یاد شوے ؤ. مېرابان تل هغه لکه دَ خپلې لور ساتلې وه اؤ هم لور به ئې ورته وئیل. دا نوم مدهوبالا ئې هغې له نړۍ د پاره ورکړے ؤ. د مېرابان پخپله خلۀ به تل هغې د پاره "لورې" ؤ.

د هغه ورځ نن څلور کلونه ؤشول. مېرابان ډېر ناروغه ؤ. خپله سورلۍ کښې هغوي د روغتون نه کور ته تلل اؤ په لاره د جمعې نمونځ نه اګاهو امام صېب د جومات مخې ته څو سپین روبو سره ولاړ ؤ.

"لورې! چې کور ته لاړ شو، نو نمونځ به کؤم".

بیا مېرابان هېڅ ؤ نۀ وئېل. سمیتا اؤ مدهوبالا خو ورته هم څۀ وئیلي نۀ وو.

کور کښې بمبې ته په کټکي ناست مېرابان خپلې پښې ؤوینځلې، مدهوبالا لاس نه ؤنیولو، د زرکې کوټې ته لاړو اؤ زرکې زر زر دوه مصلې په زمکه خورې کړې.

"زۀ هم اودس کښې یم"، مدهوبالا ؤوې.

"خو بله مصله نشته"، زرکې زر ځواب ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"دوه مصلې درېؤ له ډېرې دي"، مېرابان غوڅه کړه.
هغه ورځ په نمونځ کښې مېرابان ډېر ژړلي وو. د زړکې خو دومره څۀ نۀ وو، خو مدهوبالا ډېر ژړل. سميتا هم دواړه لاسونه خپل شيوا ته غبرګ کړي وو، د هغې اوښکې هم نۀ ؤدرېدلې.
"يوه ورځ زۀ نمونځ د پاره جومات ته ننوتم. يؤ سړے زما خوا نه اخوا شو، زۀ بل ته نژدې شوم. هغه هم زما نه اخوا شو، زۀ بل ته نژدې شوم. دې کښې يؤ سړي مولانا ته ګيله ؤکړه. مولانا زۀ ؤرټلم،
"څۀ تنګولو له راغلے ئې؟ زر تر زره ؤځه!"
زۀ جومات نه راؤوتلم. بله ورځ مې يؤ بل مولانا نه تپوس ؤکړو، چې زۀ به جومات کښې څنګه ؤدرېږم؟ هغه ډېر ښۀ ؤ. هغۀ را ته ؤوې،
"جومات کښې به سړي ؤدرېږي، بيا تاسو".
ما ورته ؤوې، "زۀ خو هلک يم؟"
هغه موسکے شو، "تۀ د هلک غوندې ئې".
بيا زما کور کښې هم زما ورونو، زما خور اؤ مور زۀ پېغور ګڼلم. زما پلار مړ ؤ. زۀ خپل زړۀ له دا دلاسه ورکؤم، چې زما مور زما د ورونو لاس ته ناسته وه، ځکه ئې زما د ورونو د زړۀ خبره پخپله خلۀ کوله، ګنې بيا چې کله (هغه د زړکې تندي ښکولولو د پاره لږه غلې شوه) دا غوړمخې زمونږ کور ته راغله، نو زما ورونو هم زما مور سره زما مخ کېدلو ته غاړه کېښودله".
هغه شپه هغه د مصلې نه اوچت نۀ شو اؤ ډېر وخت ئې ژړل. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغۀ ژړا کښې زرکه هم اودۀ شوې وه. زرکه چې د سحر نمونځ ته پاڅېدله، نو مېراېان سره مدهوبالا اؤ سميتا سُرې سترګې ناستې وې. دغه کور کښې ټول سرونه بې سُيوري شوي وو. اوس د مېراېان په وينا د دغه کور مشرتابه د سميتا سره وه.

هېلن غږ ؤکړو، خو مدهوبالا ور بېرته نۀ کړو. بيا ئې غږ ؤکړو، خو دا ځل هم کوټه کښې دننه کشکرپ ؤ نۀ شو. چې کله د سميتا په دې غږ چې "مدهو! مېلمه دې راغلو"، هم چپيا وه، نو سميتا ګاګيره شوه اؤ د کوټې تمبه ئې بېرته کړه. څۀ ويني، چې مدهوبالا کټ کښې پرُته ده. د هغې خوُا کښې مجمر پروت دے اؤ دغه مجمر کښې ټول سُپيلنې سُوزېدلې دي اؤ ټول سُکارۀ ايرې شوي دي. څو شپېو کښې د کور ټولې اوسېدونکې دغه کوټه کښې وې اؤ د ټولو سلګۍ ماتې وې. يؤ مدهوش نۀ ژړل. مدهوش غلے ناست ؤ اؤ خپله غبرګ کښې ئې د مدهوبالا سر ايښے ؤ. زرکه خو د هر چا نه ډېره ژړېدله. څو شپېو کښې د مدهوش د سترګو نه يوې رڼې اوښکې د هغۀ د ځېځمې نه پښه په اننګي کښېنودله اؤ د دغه اوښکې پلؤ نيولې نورې ګڼې اوښکې روانې شوې. هغۀ خُلۀ ؤسپړدله،

"بېلتون د مرګ استازے
د بېلتون رنګ تور دے
د مرګ ونګه توره ده
بېلتون د يار سترګو نه
د ژوند رڼا واخسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلتون د یار شونډو نه
په زور موسکا واخسته
بېلتون د یاره سره
زما نه ساه واخسته
بېلتون د یار انځور نه
د ښکلا رنګ ؤتروړۀ
بېلتون د یار د غېږ نه
سندریز شرنګ ؤتروړۀ
بېلتون تالا کړمه زۀ
بېلتون تالا کړمه زۀ
د نیازبین ژوند خُدایه!
د سپېرۀ مرګ خُدایه!
زما نیازبین جانان
زما نیازبین جانان
زما نیازبین جانان (یوه نیمه سلګۍ)
زما نیازبین جانان (یؤ څو سلګۍ)
زما نیازبین جانان (اوس غېږه کښې مدهوبالا ؤنیسي اؤ
په چغو ژاړي اؤ ورسره نورې ډېرې سترګې په ژړا دي)
زما ګل خاؤرې نۀ کړې!
زما ګل خاؤرې نۀ کړې!"

د مدهوبالا جنازه مولانا شېر بهادر کېماړي ؤلوستله. د ښاغلي مولانا نه چاپېره اوسېدونکي مُلیان ډېر کوي. ښاغلي مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران په مذهبي غونډو کښې په دې وړانديز ګډون کوي، چې ښاغلے مولانا شېربهادر کېماړي ته به بلنه نۀ ورکوئ. د ښاغلي مولانا نزدې اوسېدونکي هغۀ سره ډېره مينه کوي اؤ د هغۀ هره خبره په سر سترګو مني. د نورو ښاغلو مُليانو منونکي د هغۀ اؤ د هغۀ منونکو سره ځکه نۀ نزدې کيږي، چې هغوي ته وئيلے شوي دي، چې په دې وخت کښې مولانا شېربهادرکېماړي د خُدا ے لخوا يؤ ازمېښت اؤ يوه فتنه ده. هر څو کۀ دغه ښاغلي مُليان د ښاغلي مولانا داسې څۀ خبره په ګوته کولې نۀ شي، خو دومره وخت اولس سره کوم ځا ے وي، چې ځان پوهه کړي. هغوي خو د کنډک ګډوري دي، چې په کومه لاره ئې بوځې، چې په کومه چړه ئې حلالوې اؤ چې په کوم نوم ئې صدقه کوې. د مدهوبالا جنازه کښې د شُمېر څو ښځونک اؤ بدکان وو اؤ شپږ اتۀ د ښاغلي مولانا مقتديان.

د جنوبي ايشياء په اسمان بيا تورې وريځې ؤګوابېدې. دا ځل اېټمي چاؤدنو د هند لخوا پېل ؤکړو اؤ چاپېره دا ګنګوسې انګازه شوې، چې هند به اوس په پاکستان بُريد کوي. د پاکستان لخوا خپله اېټمي وسله ډاګيز کولو کښې ځنډ ؤ اؤ دغه ځنډ د دغه ګنګوسو اور له نور هم پوکي ورکړل. خبره دې له راغله، چې پاکستان هم اېټمي ځوابي چاؤدنې ؤکړې اؤ نړۍ د نورو دوؤ داسې هېوادونو پېژندنه ؤکړه، کوم چې هر وخت يؤ بل سره د تورې په څوکه خبرې کوي اؤ اوس په زمکه ژوندي د لوئې دړکې سره مخ شول. د چاغي په غرونو کښې شوې د دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستاني اېټمي ازمېښت د یادؤني نخښه د پېښور رېډیو سټېشن د ودانۍ په یؤ ګوټ کښې شېرشاه سُوري پُل ته ځېلمه روغه کړې شوه. زهٔ خو دا د پاکستان د شین ګنبد دننه د پښتون په وینو سور وجود اؤ شتون پسې ملنډه ګڼم. پاکستان هر توغندي اؤ هرې وسلې له د پښتنو اتلانو نوم ورکوي، خو ښوونځي، پوهنتون اؤ روغتون باندې ئې د نورو قامونو د مړو نومونه اېښودلي کیږي. پښتون بچي ته د عربو تاریخ زوتولے کیږي اؤ د پنجابیانو لیکلې شوې جغرافیه ورته ښودلې کیږي. مذهب د هغهٔ د قامي پېژندګلو ورانولو د پاره پکارولے کیږي اؤ د مذهب په نوم هغه د نړیوالې نُخښتې د پاره د خشاک په توګه استولے کیږي. اولس دومره وږے کړے شوے دے، چې هغه د خپلې برخې غوښتلو د پاره وخت نهٔ مومي. کهٔ څوک راپاځي، نو هغهٔ پسې ئې وږے تږے کاکے غږ ؤکړي،

"ما له به ماکام چهٔ لاؤلې؟"

"جهٔ دودۍ ګوالم"

"جما یکني کیږي"

"جما پاپۍ یکې چُوې"

اوس پلار ئې خپله برخه ؤغواړي، کهٔ خپل لوښ اؤ ابلې اؤ وږي کاکي له څهٔ تابیا ؤکړي؟

تولو نه لُوي ستونزے دغه لاره کښې پښتون پخپله دے. هغه د پاکستان په نوم سیاست کوونکي خپل ګڼي اؤ د خپلې خاؤرې په نوم سیاست کوونکي پُردي. د پاکستان په خاؤره سیاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي ورته د دهٔ د خاؤرې مشرانو باندې دومره تور مېنلي دي، چې هغوي سپينېږي اؤ خړې شوې اوبهٔ رښېږي، خُدا ے زده چې د دې اولس اؤ دې خاؤرې به تر هغې څهٔ ونګه روغه شوې وي؟ پښتانهٔ ځانونو ته پښتانهٔ وائي، خو پښتو نهٔ کوي. خپل ورور ته تربور وائي. د ورور په کور جيګ شوي بېرغ نه لُوي بېرغ په بل رنګ کښې خپل د بوال باندې جيګوي، خپل وېش کوې اؤ ځکه په مړه خاؤره اوس هم وربې دي.
اوس دغه کور کښې نوي ګڼ مخونه اوسېږي، چې د هغوي مکېز ته پېغلې هم پسخېږي. دلته اوس زرکه پاتې ده، هېلن پاتې ده اؤ سميتا. هغې د مېرابان لهجه خپله کړې،
"چې کومه بلا زما په درشل ما ماتوي، زهٔ د هغې بلا انګڼ ته ځم اؤ د هغې په انګڼ کښې ئې ماتؤم".
بېګا زرکه اوده شوې نهٔ ده. ټوله شپه هغه ويښه وه. شپه چې نيمې نه واؤړېدله، نو زرکه هېلن پسې ورغله. نور کله خو چې د زرکې زړهٔ بې ځايه وي، نو هغه د سميتا خوا له ځي، خو نن سميتا بهر نځا د پاره تلې ده. هېلن راغله اؤ هغه اؤ زرکه ډېر وخت پورې غلې ناستې وې. بيا څهٔ وخت د زرکې سترګې پټې شوې. هېلن اوس هم ويښه وه. هغې د زرکې نه سترګې نهٔ ويستلې.
"دا څهٔ ؤشي، چې څوک هم زرکې له لاس يؤسي، نو هغه غوَاړي، چې په زرکه پسې مې ټول ځان ؤمېنلو؟".
دا خبره يوازې د هېلن زړهٔ کښې تېره شوې نهٔ وه. دا خبره د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور د نورو ښځونکو په ګنګوسو کښې هم هېلن اؤرېدلې وه. هغې څۀ وخت پورې ځان زرکې نه لرې ؤساتلو اؤ بيا ئې رو غوندې خپل لاس په هغې واچولو. هغې زړۀ ؤ نۀ کړے شو. بيا ئې خپل لاس هغې نه لرې کړو. هېلن ډبوسکۍ ده. هغه د زرکې نه کشره ده، خو د خپلې پړشېدلې ځاندرې له مخه هغې نه ډېره مشره ښکارې. اوس خو د زرکې مخ کښې هم کُوتونه راغلې دي. بيا هم د هېلن په مخ د نورو نوؤ اؤ زړو ښځونکو نه زيات پېغلتوب دے اؤ د زرکې نه لږ. اوس هغه په ډډه واؤړېده اؤ زرکې ته ئې شا کړه. هغې ځان لږ زرکې ته نژدې کړو اؤ بيا ئې څو شېبې وروستو د زرکې لاس په خپله خېټه کېښودلو. هغه اودۀ شوې ځان نه خبر نۀ شوه. زرکه پاشېدلې وه.
هم په دغه ورځ مازيګر نمونځ نه وروستو زرکه د مصلې نه ؤ نۀ خُوځېدله. هغه غلې وه. داسې ښکارېدل، لکه چې د جاکړ راتلو نه اګاهو سيلۍ سا راکښلې وي. زرکه چې کله هم دومره غلې شوې ده، نو څۀ نا څۀ پېښ شوي دي. سميتا غرمه ويښه شوې ده اؤ د هېلن په وېنا د زرکې کوټه کښې د زرکې د مصلې نه پاشېدلو ته ايساره ده. د ماښام نمونځ هم ؤشو اؤ زرکه بيا هم په مصله ده. سميتا نور زُغم ؤ نۀ کړے شو. هغه غلې پاشېدله اؤ د زرکې خُوا کښې کېښناستله. هغې د زرکې په اوږه لاس کېښودلو،
"څۀ دي؟"
هېڅ ځواب ور نۀ کړے شو. هغه بيا هم غلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما ته خو ؤوایه!"

دا ځل زرکې خڵۀ ؤسپړدله،

"ما له پېنزېب راؤړئ!"

د سترګو رپ کښې آشا پېنزېبونه راؤړل. په مصله زرکې خپلو پښو ته پېنزېب ؤتړل اؤ غږ ئې کړو،

"کۀ چرې ستا پُرې د زړۀ سُود شي
زما د زړۀ نړی دې ړنګه شي مئېنه!
خُدایه زمونږ کلي ته خبر کړې!
چې د جاکړ د پښو ښُکالو مې واؤرېدنه!"

زرکه پاڅېدله، ټولې يؤ اړخ ته شوې اؤ کوټه کښې د هغې د پېنزېبو شړنګهار شو.

دین تک
تک دین دین تک
تک تک دین تک تک دین
دین دین تک دین دین تک
تک دین
دین تک

بې د څۀ سندرې اؤ ساز نه په کوټه کښې زرکه ؤنڅېدله اؤ دومره ؤنڅېدله، چې خُوله خُوله شوه. هغې ته کتونکې سترګې بقې پاتې شوې وې. ډېرو خو د زرکې د ښکلا اؤرېدلي وو اؤ بیا ئې د ژوند په دغه پؤړۍ هم ؤلیدل، چې هغه اوس هم ښکلې وه، خو د هغې د نڅا ئې اؤرېدلي وو، نن ئې ؤلیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې لاسونه پښې ؤدرېدل او د پېنزېبو شرنګهار هم د هغې د لاسونو پښو ؤدرېدلو نه څو ساګانې وروستو غلے شو. داسې ښکارېدل، لکه چې په هغې سر ؤچورلېدۀ. هغه په زمکه راپرېوتله. پېنزېبونو سره د هغې پښې په وینو شوې وې او د هغې سترګو نه اوښکې بهېدلې او هغې اسمان ته سترګې اړولې وې. سمیتا سره تهولې راغلې او هغه ئې کټ ته کړه.

"دا روغتون ته وړو؟"

هېلن ته روغتون ور یاد شو. د مدهوبالا نه وروستو د زرکې سره تهولو نه زیات وخت هېلن تېروي. هر څو کۀ د خپل مېرابان د زرکې په حقله ښونه اوس هم د سمیتا یاده ده او سمیتا هسې هم زړۀ کښې د زرکې د پاره ډېره مینه او دړناوے لري.

"نه! زما زرکه به اوس ښه شي".

دې وئېلو سره سمیتا په ژړا خپلې کوتهې ته لاړه. نورې اوس هم د زرکې کوتهه کښې ناستې وې. زرکه باندې خولې بهېدې او د هغې د پتهو شوؤ سترګو نه هم اوښکې روانې وې. بله ورځ سحر نمر خرېکه ؤوهله او تلوزیون باندې په سوېلې سیمو مانسهره او بتهګرام د زلزلې قیامتونه ښودلې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لســـمه شپه

ژوند د بې شمېره موسمونو نوم دے. څنګه چې يؤ غم د بل غم خوړده ده، دغسې يؤ موسم په بل موسم شخوند وهي. ټولو نه ډېر زړۀ هغه وخت ؤدړديږي، کله چې ځواني خپلو څڼو کښې سپين ډکي په ډېرېدو ؤويني. هر سپين ډکے د مړينې يؤ خاموشه استازے وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه ورځ چې د مدهوبالا جنازه کېدله، په هغه ورځ زرکې خپل زړۀ کښې ډېر لوي بدلون ليدلے ؤ. زۀ خو دا نۀ منم، چې ګنې هغه به هم په دغه ورځ کلي کښې د کميلې وادۀ نه غوړېدلې وه. کلي سره خو د هغۀ هېڅ ډول تماس اؤ اړيکه نۀ وو. زۀ دا وئېلے شم، چې زرکې دا ليدلي وو، چې د مېرابان اؤ مدهوبالا په مړينو خُدا ے ته د هغوي بخښانې د پاره دومره لېپې هم نۀ وې، څومره سترګې چې به د نڅا په شپه د هغوي ننداري ته شوګيرې وې (ځکه ئې په دغه شپه زړۀ نور ؤ). په دغه شپه کميله په پالنګ کښې ناوې شوې وه. د هغې په تندي ټيکه ځوړنده وه، د هغې غاړه کښې امېل ځنګېدلو، پوزې نه ئې نتکۍ ټالونه وهل اؤ دواړه لېچو کښې سرۀ بنګړي بې سا پړاتۀ وو. د دغه بنګړو د شړنګ وېرې د کميلې لاسونو نه خوځښت اخستے ؤ. د هغې لاسونه اؤ پښې په نکريزو سرۀ وو. د وادۀ اغوستن کښې د هغې مخ نور هم ښکلے شوے ؤ. د پېغلتوب خپله ښکلا وي اؤ د ښکلا خپل حد وي. د وادۀ اغوستن کښې د پېغلتوب ښکلا خپل حد ته ؤرسي. يوه پېغله هم د خپل وادۀ د شپې نه ټول ژوند کښې زياته ښکلې کېدلې نۀ شي (هغه کۀ د موندر غوندې ولې نۀ وي). جامنور د خپلې ناوې خوا له ورغلو اؤ هغې سره کښېناستلو. د هغۀ زړۀ دُرزېدلو اؤ مونږ په دې هغۀ ته ګرم ځکه وئېلے نۀ شو، چې پالنګ کښې هغۀ ته مخامخ سپوږمۍ ناسته وه. دغه شپه تېره شوه. د کميلې زړۀ خو هغۀ سپړدلے نۀ شو، چې کميله د ځلمي جامنور غېږه کښې ده، کۀ د هغې د کوچنيوالي د نيا زبين

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیرک خان غبرګه کېښي. په دغه شپه ځیرک خان د سمیتا غېږ او د مدهوبالا او کمیلې یادونو کېښې تېره کړې وه. دا به منو، چې ځیرک خان او زرکه څومره سپېڅلي وو، دغومره کمیله هم وه. اوس خو کمیله د ځیرک یادونو نه شوکېدلې ده. د خپلو ورو روزنې هغه د ډېر څۀ نه لرې کړې ده او د وخت تېرېدلو سره هغې د ځیرک مینه په جامنور کښې موندلې ده. د جامنور په مخ کښې اوس هغې ته کله کله د ځیرک خان د مخ کرښې ښکاره شي. دغه مخ په اوبو کښې د سیوري غوندې وي او دغه سیوري ته هغه دخپلو ورو د مینې کاڼے وغورځوي او په څپو کښې د کوچنیوالي ځیرک خان ورک شي. کمیلې سره د ځیرک یادونه اوس د ښکلې په غمژنو سترګو مخ کیږي. ښکلې ډېره ژاړي. تر څۀ حده هغې دا منلي دي، چې د ځیرک خان کور پرېښودلو کښې د هغې کړکه هم ککړه وه. په کومه ورځ چې ورندار مړه شوه او مابتۍ د هغې مخ لیدلو د پاره ادیرې ته لاړه، نو ډېرو خلو ډېر څۀ ووې، خو دغه خبرې سیلۍ شوې. دغه ټولو خبرو نه ښکلې ته د هغې د زړۀ پېغور دروند و.

فردوس خان داسې خوټکېدلې تبې نیولے و، کومه تبه چې یوه شپه په ځیرک خان تېره شوې وه. هغه وخت ښکلې ځیرک خان نه په دې خبره خپله غاړه خوشې کړې وه، "اوس د دې مُلابادر د ناستې ځاے چې وپېژنو، نو تپوس به ئې وکړو"، نن د خپل میرګاټي سر ته ناسته وه. څو شپېو کښې څو ځله د پانوس خان د ګرځنده تنۍ وزورلې شوې او هغۀ د پاره رنځپوهـ راوستلے شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرځندکاکا دې خُدا ے ژبخښي، څوک چې به تبې ژنیولو، نو هغهٔ به وئېل،
"تاریز څپوټکي باندې ټُرمکیا ژکړئ اؤ په تندي ئې ورله کېږدئ!
دا رنځپوهـ سُتن ټومبي، بله لاره نهٔ ورځي".
رنځپوهـ فردوس ته سُتن ژوهله اؤ هغې ورځ نه هغه په دُوارو پښو شل شوے دے. کُوېږدن شوې ښځه ترې پاتې شوه. د هغه جینۍ د وادهٔ په ورځ دهٔ د ځان وژنې هڅه هم کړې وه. د وړوکوالي شیشړه چې لویه شوه، نو سترګې به ورته بُرېښبېدلې. هغه په رېښتیا زېب النساء وه.
فردوس اوس ژوند په دې تېروي، چې چرته خو د ځیرک سره مخ شي اؤ د هغهٔ په پښو پُرېوځي. هغهٔ نه به د باران هغه شپه چرته هېره نهٔ شي، په کومه شپه چې هغهٔ د ځیرک لمن ځټ ته خېژولې وه اؤ بیا ځیرک ټوله شپه په درشل ویښه تېره کړې وه. نن هغه ځېلې نه میتیازې بهیږي اؤ هغه پُرې نهٔ پوهیږي. تر څو به ښکلې ژُوندۍ وي اؤ دغه به وینځي. بله ورځ به د شاجوش ښځه د خپل مشر لېور دغه اغوستن وینځلو ته غاړه کېږدي؟
پېدرګل ته یوه کمپنۍ کښې کار په لاس ورغلو. هغه د سحر نه مازیګر پورې هلته بوخت وي اؤ د مازیګر نه ماسخوتن پورې د بجازي اټۍ کښې وي. ښځې په دغه اټۍ ورماتې وي. هغه ګڼي، چې کهٔ ځان له اټۍ پرُانیزي، نو ډېره ګټه به ژکړي. هغهٔ د پاره دغه ښهٔ روزګار دے، خو لږه سا واخلئ! پُرېږدئ چې هغه خو د خپلو ژزګارو ورځو بدل واخلي. د مشر ورور ئې اوس وارهٔ ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور ئې هم وادۀ شوې ده. کشر ورارۀ ئې خړپوڅې کوي. هغۀ وادۀ نۀ دے کړے. مور ئې ځو ځایه د پېغلو د مېندو خلې بوي کړې،

"خورې! تګ لږ داسې دغه کوي، خو نور سم دم دے. ما ئې یو ځل (هغه لږه غلې شي اؤ سترګې بښکته کړي) بښختګ لیدلے ؤ. (بیا توندہ شي) مور ئې یم. چې زۀ پوهه شوې نۀ یم، نو نور به پرې څوک پوهیږي".

ځه زورَورې! ستا په دغه سوګندونو څوک لور ورکوي څۀ؟

هن! دا ده، چې کۀ چرته په یؤ کور کښې دې په بل نوم د څمدورې غوندې ؤموندله.

نېمت ژوندے جاړن ورک شوے دے. اېهز د هغۀ وینه کښې ځان ځاے کړے دے اؤ خپله دننه نېمت هغه پړ کړو. هغۀ خپل خاربښ د مرګ په وېره وژلے دے اؤ ځان ئې د نړۍ سترګو نه پټ کړے دے. د کور استوګن کله کله د هغۀ نوم اخلي، خو هغه پرانستلې مرغۍ وه، هغۀ کله هم د چا قدغن یا بندېز منلے نۀ ؤ. زرکې ته به د بانګ اؤرېدلو سره کله کله نېمت یادېدلو. هغې ته د جمعې هغه ورځ یادېدله، کله چې نېمت د هغې سر رِمنځولو اؤ د بانګ اؤرېدلو سره هغې زر لوپټه په سر کړله. نېمت موسکے شو اؤ هغې ته ئې ؤوئېل،

"بانګ خو بښځو اؤ سړو د پاره وي، تۀ سر ولې پټوې؟"

د نېمت دغه ګیلې نه ډک تپوس ته زرکې وئیلي وو،

"څومره ډېرې لسیزې تېرې شوې، د جومات په درشل مې پښه ایښې نۀ ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمت هم په هغه ورځ زرکې ته د سرو اغوستن واغوستلو، څادر ئې پرې ډوب په سر کړو اؤ جومات ته ئې بوتلله. امام صیب وړومبے رکعت نزدې کړے ؤ، چې دوي هم ورسره ؤدریدل. کۀ نمونځ کښې چا څارلې وه، نو زرکه په رکوع اؤ سجیده کښې ښکاره ښځه وه. اوس هغه وخت نۀ ؤ، چې د هغې نمونځ کښې ځنې ځنې ځاے ښځونک څرک لیدلے شولو. نمونځ نه په راستنیدلو هغې په لاره نیمت ته د خپل کلي جومات کښې د جمعې نمونځ سره تړلې ګڼې قیصې ؤکړې. هغې نیمت ته ؤوې، چې څنګه به د کلي کوچنیو هلکانو په جومات کښې وړاني کول اؤ د هغې تړۀ اؤ د کلي نورو مشرانو به پرې پښې دربولې. هغې نیمت ته ؤوې، چې هغه وخت به جومات کښې ټوقې هغې ته لویه ګناه ښکاریدله اؤ بیا دغه ګناه کوونکو سره صف کښې د هغې ؤدریدل متره شول. ډیر اوږد وخت نه وروستو جومات کښې نمونځ کول زرکې د پاره د نیمت ټولو څخه لویه ورکړه وه اؤ چې کله به هم هغې ته نیمت یاد شولو، نو په دغه ترڅ کښې به ئې ورته دعا کوله.

دولامُلا په ډرون برید کښې ؤوژلے شو. هغۀ سره یؤ عرب هم ؤ. د یؤ څپر لاندې شپږ مړي ؤموندلے شول. شینتغانو د ټولې نړۍ په تلویزنونو د خپل بریالیتوب زوږ ؤکړو، خو دغه کور سره خوا کښې د خپلو دوؤ لونو، یؤ ځلمي ځوي اؤ د خپلې نږور غیږ کښې تي ته پروت نمسي سره شهید شوي موستان بابا باندې په هره ژبه ګیتۍ پرته ده. چا هم دا ؤ نۀ وئیل، چې د هغۀ څۀ تور ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو هېوادونو کښې د ځناورو د ژوند خوندي کوونکو هم د دُولا مُلا شا ته پټ کړي شوي شپږ مړي ؤ نۀ شمېرل. هغه خو په سوله، مينه اؤ امن مئېن پښتانۀ وو. دغه خو د امن په نوم وينه تويونکو ته وګړي نۀ ښکاري. دغه ساګانو د پاره خو د سپينې ماڼۍ د وياند په خلۀ دغه خبره وي،

**"We appologise for innocent inadvertent casulities and deaths"**

اؤ مونږ چې د وياند سترګو ته ګورو، نو د هغۀ د ژبې وېنا د پاره د هغۀ سترګو کښې هېڅ پېلام نۀ وي.

"دا خو د ټولنې د پوهې نيمګړتيا ده. اوس چې دوي تشې ښځې اؤ سړي پېژني، نو مونږ څۀ ؤکړو؟" هېلن ؤوې.

"سړو خو هسې هم د هر څۀ نه پښې تۀ کړې دي، اوس ښځو ته هم سلو کښې دري دېرش ځوکۍ ورکړې شوې، صدر صېب اؤ د وزيرانو دې لښکر ته مونږ نۀ ښکارو؟"

"سياستمداران خو د يؤ بل ترلو پرانستلو نه نۀ ؤزګارېږي، مونږ ته به څۀ پام ؤکړي؟ مونږ ته خو پېژند کښې يؤ د "ښځونک" ليکلو باندې ځوک غوږ نۀ ګروي".

"اؤ کۀ مونږ له بل څۀ کار راکړے شي، نو".

"زۀ خو کله کله وېم، چې د ټوال نه د ايشور انځور راکوز کړم، سمه پرې ؤګرځم اؤ بيا ئې پوتړے پوتړے ؤشلوم اؤ بيا ئې ؤسېزم اؤ بيا ئې هغه ايرې".

(کوشليا به نور هم ډېر څۀ وئيلي وو، خو کټ کښې پټ مخ پرتې زرکې ترې خبره واخستله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"داسې مۀ وايه! د خُدا ے هر نوم اؤ هر انځور ښکلے، پْياوړے، نازولے اؤ سْپېڅلے دے. مونږ ته هم ګوره! مونږ هم ځانونه بې وسه ګڼلي دي. بې وسه دووسان کېږي اؤ په خپله دووسۍ خو بې وسه زورَور ځان ته پرې کولے نۀ شي (هغه لږه غلې شي. اوس کټ کښې هغه ناسته ده) دا زمونږ نيمګړتيا ده، چې زمونږ مېرابان يؤ کور سره ځان تړلے وي. مونږ به دې ښار کښې څومره يو اؤ دې ټول ملک کښې به څومره يو اؤ دې ټوله نړۍ کښې به څومره يو؟ مونږ له د خپلې برخې اؤ پېژندګلو ژبه اؤ تْوان خُدا ے راکړي دي، خو مونږ خپله برخه نورو ته بخښلې ده. مونږ کښې هر يؤ نېنځک دے. زۀ چې مونږ وايم (هغه ؤويني، چې ټولې سترګې هغې ته په يؤ اړ دي اؤ ټول غْوږونه هغې ته څک دي. د زړکې خبرې کله کله وي) نو سړي هم يادؤم، ښځې هم يادؤم اؤ مونږ هم يادؤم. هر سړي اؤ هره ښځه کښې دننه يؤ نېنځک پټ دے، څنګه چې په هر زوړ اؤ ځْوان کښې اؤ هره بوډۍ اؤ پېغله کښې دننه يؤ ماشوم پټ وي. دغه ماشوم ځېل کول غواړي، قيصه اؤرېدل غواړي، خندل غواړي، ژړل غواړي، نېنځکه غواړي، کْلابوڅے غواړي. دغسې سړے وي اؤ کۀ ښځه، هغۀ يا هغې کښې دننه يؤ نېنځک پټ وي. دغه نېنځک د وېرې نه زېږېږي. خُدا ے دې ؤبخښي اؤ خُدا ے دې ټول مړي ؤبخښي، مېرابان ستاسو ياد شي؟ (هغه يؤ ځل چاپېره د ټولو سترګو نه ځواب ؤغواړي. د مېرابان پېژندونکې سترګې په اوښکو ؤځلېږي اؤ د مېرابان د مړينې نه وْروستو دغه کور ته راتلونکې سترګې نۀ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ؤکړي اؤ نۀ ښه) هغۀ خپل دننه نیمځک مړ کړے ؤ، نو مېرابان شوے ؤ. هغه څۀ نوم ؤ؟ (هغه لکه چې څۀ یادوي) هں! روشني. کۀ راني خپله دننه وېره وژلې نۀ وه، نو روشني سره به څۀ کېدل؟ (هغه بیا څو شیبو له غلې شي) زۀ خو وېم، چې دغه موږ به هغه وژلې وه. بیا دغه بل سړے چې (دا ځل هغه لږه ډېره غلې شوه اؤ ژړغونې هم شوه). ما دا وئېل، چې هر هغه سړي اؤ هره هغه ښځه اؤ هر هغه ښځونک کنبې دننه یؤ نیمځک دے، کوم چې د کُرکې د وېرې نه مینه وژني.....
کوم چې د ورانې د وېرې نه روغې پله ګام نۀ اخلي.....
کوم چې د بل زیان کنبې ځان له ګټه لټوي.....
کوم چې د دعا په شا خپله ایرزړي پټوي.....
کوم چې خپلو بې وسیو له د برخې اؤ نصیب نوم ورکوي اؤ".
هغه خبره په دغه ځاے پرېږدي. څوک هم څۀ نۀ وائي. ډېر وخت پورې دغه کوټه کنبې د ساګانو ښکالو اؤرېدلې کیږي، نور څۀ نۀ. چپیا چې نوره هم اوږده شي، نو سمیتا د زړکې خوا له راشي، هغه څملوي اؤ هغې سره خوا کنبې کنبېني. کوټه کنبې اوس هم څوک څلۀ نۀ پرانیزي. زرکه اسمان ته ګوري اؤ پخپله وېنا وروستۍ رده کېږدي،
"لارې کوڅې اؤ منډۍ پرېږده، جوماتونو کنبې د بمونو چؤدنه اؤ ځانمرګي بریدونه، یؤ قبر کنبې د شلګونو د ځاندرو برخې ښخې شي. د خاؤرې ګېډه نۀ مړیږي اؤ د ادم اؤ حوا نوغي باندې د زمکې تناب راؤنغښتلے شو. خپل ځان وګړي ته دومره ګران اؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې شو، چې د نورو د ژوند اؤ سا ارزښت ئې سترګو کښې نهٔ غرېږي. ترهه ګر اؤ پوځي دواړو سره ټوپکونه دي، د دواړو د ټوپکونو مړدکي په تؤدو سينو کښې ځانونه يخوي. د دواړو په مړدکو اولس ژوبل کېږي اؤ اولس وژل کېږي. وړ اؤ پړ پکښې نشته. د مرګونو د خان اشر دے، نېنځکان پکښې مړي.

خُدا ے ته پړ مهٔ وايئ!

خپل د ننه نېنځک ؤلټوئ!

د هغهٔ مخ ؤوينئ!

د هغهٔ زړهٔ ؤګورئ!

د هغهٔ پېژند ګلو ورکړئ!

د هغهٔ ځا ے ورکړئ!

د هغهٔ برخه ورکړئ!

کهٔ وژنئ، نو هغه بهٔ ؤوژنئ، چې ستاسو زړونو نه ئې د ژوند مينه تړوړلې ده.....

کهٔ مُړه کوئ، نو هغه وېره مُړه کړئ، چې ستاسو د هيلې نه ئې هڅه شوکولې ده.....

کهٔ پښې رِډُئ، نو په هغه انا ئې کېږدئ، چې تاسو کښې ئې کُرکې له ځا ے ورکړے دے.....

(ټوله کوټه غلې ده. زرکه اوس هم بره ګوري اؤ د هغې سترګو نه رانهٔ، سُپين اؤ سُپېځلي ښاڅکي تُوئيږي. ټول ښځونک يوه شيبه زرکې ته اؤ بيا يؤ بل ته سترګې ؤځغلوي)

وېره زما درشل له راغله. ما نه د ژوند مينه تړوړل غواړي.....

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د هیلي نه هڅه شوکول غواړي.....

ما په انا د کُرکي وینزه کوي، خو زۀ نۀ وېرېږم، ځکه چې زۀ مینه د کُرکي نه بریالۍ ګڼم.....

زۀ هیله د اندېښني نه زورَوره ګڼم.....

زۀ به مُرم، خو ویارېږم به. زما جنازه کښې به ډېر اولس وي. زما خپل به زما مړي ته ژاړي. زما مور اؤ زما پلار به هغه ډولۍ ته لاره کښې هرکلي د پاره ولاړ وي، کومه ډولۍ کښې چې به نُیازبیني پربنتي زما سا وړي اؤ حورې اؤ غلمان به جنجیان وي.

زۀ خُدا ے ته یؤ رنګ کښې هم سُپکي نۀ وېم.....

زۀ نۀ وېرېږم.....

زۀ نۀ وېرېږم....."

د دې وېنا په وخت ټول ښځونک هم په سلګیو وي اؤ د هغوي سمیتا هم. د زرکي سترګو نه اوښکي بهیږي، خو هغه ژاړي نۀ. داسې ؤبریښي، لکه د مېرابان سا چې یؤ ځل بیا سمیتا کښې ؤغونځیږي،

"خُدا ے هر چا د پاره خوږ، میني نه ډک، نُیازبین، نازولے اؤ پالونکے د ے.....

هغۀ وېرې له شتُون ورکړ ے نۀ د ے.....

نه زرکي! تۀ به نۀ وېرېږې!

څوک به هم نۀ وېرېږۍ!

چې کومه بلا زما په درشل زما ګلونو ته ګوابنیږي، زۀ د هغې بلا انګڼ کښې هغه ماتؤم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ورځو کښې پاکستان هرې خوا نه ګېر ؤ. په يوه پوله ئې افغانستان سره شاتار ؤ. د دغه نړيوالو ټُخښتنه کښې دۀ قبائيلي سيمه نمرودي لمبو ته ؤسپارله. بلې خوا نه هند سره هره خبره د توري په سر شوه. بلوچستان کښې د خپلواکۍ اؤ ځانګړې پېژندګلو خوځښت وده ؤموندله. په سويلي سيمو کښې پخوا نه کرونده شوې سپَرغۍ د يوې چاؤدنې سره رادوځارې شوې اؤ تول وطن باندې لکه د لمبو پورې شوې. ځۀ سپرغۍ د اسلام اباد په شنه قبا لکه د پېغور د تورکي پُرېوتلې اؤ تاريخ به دغه تورکي په ډېرو وينځلو هم نمانځي نۀ کړے شي. په پوله د وړانکارو خوځښت نړيوالو ځواکونو ته په نمرپرېوتيزو قبائيلي سيمو د ډرون الوتکو د برېدونو لاره سمه کړې اؤ وړانکارو ته ئې په پوله دننه چاؤدنو اؤ ځانمرګو بريدونو کولو کښې د وينې تويولو جواز ورکړے. دا وخت نړۍ کښې تولو نه تود تنور پاکستان دے، چې هر څوک پکښې خپله پېړه پورې کوي. په يۀ پاکستان کښې درې واکمنۍ دي. يوه د ګېلاني، يوه د کياني اؤ يوه د چودهري. هر يۀ پېژني، چې بل به کوم ځاے نه رانيسم. د پرش دوه د پرش کلونه اکاهو د عبدالغفار خان غږ پښتون قام د پاره بانګ ؤ، خو پښتنو پيرنګي خېلو ته خپل غوږونه اړولي وو. نن پښتنه خاؤره د ډېورنډ د کربښې دواړه اړخونو نه دغه پښتنو له پېغور ورکوي اؤ هغوي ځان سپينولو د پاره هېڅ ځواب نۀ لري. دلته خبرې تولې شپيلي کښې دي اؤ د باتۍ په بوي هر چا ځان غلے کړے دے. اوبۀ چې هغه دويشت ديريشت کلونه اکاهو خړې کړې شوې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو اوسه پورې خړې دي. د قبائيلي سيمو راتلونکے يوازې اؤ يوازې پښتونخوا سره ګډون کښې خوندي دے. اوس د قبائيلي سيمو اولس هم دغه خبره خپل زړۀ نه اؤرېدلې ده. د قبائيلي سيمو نه په سېنټ کښې ناست هغه ډېر مشران اوس هم د قبائيلو بېل شتون اؤ بېلې پېژندګلو د پاره غږ کوي اؤ دا ځکه چې د قبائيلو ژوند ښۀ کېدل به د هغوي د ملکۍ اؤ خانۍ د پاره خنډ شي. هغوي د قبائيل په نوم سېنټ کښې کښيني، خو د قبائيلو د پاره د يوې خبرې کولو توان اؤ واک هم نۀ لري.

د خدائے کړۀ دي، چې کلي کښې نکورې څۀ خړې اوبۀ رڼې کړې. مابتۍ د يوې اوږدې مودې نه په کټ پرته ده. څو ځله د نکورې زړۀ کښې تېر شول، چې هغه مابتۍ ته د خپل زړۀ غوټه راؤسپړي. د چم ګاونډ کومې ښځې چې هم د مابتۍ پوښتنې له راغلې دي، هغې ښځو ليدلې دي، چې د ځيرک پحقله د مابتۍ اند ېښنې اؤ خواشينې اوس د هغې دننه لګه د وژونکې رنځ ځېله ژوره کړې ده. دغه ورځ ښکلې هم د مابتۍ پوښتنې له راغلې وه. د نکورې زړۀ کښې پرته خبره د هغې په ژبه نۀ راتلله، خو مابتۍ د هغې سترګو کښې دغه خبرې ليدلې.

"نکورې! زړۀ دې پرې مۀ خوره! ژبه ؤخوځوه!"

مابتۍ دې سره لږه موسکۍ هم شوه، چې نکوره وېنا د پاره زړۀ وره کړي. هغې په سرپېچک سر تړلے دے اؤ د ناستې توان نۀ لري. د هغې سترګې چاپېره تورې شوې دي اؤ شونډې ئې چؤدلې دي. عزت خان چې ښوونځي نه راشي، نو بيا کور کښې د زياتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناستې نه څنډه کوي. هغه مابتۍ په دې رنځ پرته ليدلې نۀ شي. هغه نۀ رنځپوهـ ته غاړه ږدي اؤ نۀ د ښار روغتون ته ځي. عزت خان پخپله هم د هغې په رنځ پوهه دے، خو د دغه رنځ دارو د هغۀ لاس کښې نۀ دي. دغه کور کښې داسې نيمګړتيا نشته، چې څوک به پرې ګوته کيږدي. ششش

"ځيرک خان (د نکورې ځلې نه په وړومبي ځل دغه نوم اؤرېدلو سره په بې سا مابتۍ کښې خوځښت راغلو اؤ د هغې مړاوې رنځورې سترګې ژوندۍ شوې) کراچۍ کښې دے (نکوره نور هم څۀ وئېل غوارې، خو لږه غلې شوه. هغه مابتۍ ته نۀ ګورې اؤ مابتۍ اوس د هغې نه سترګې نۀ ؤباسي) بابا د پرځندکاکا په وېنا اؤ د ځيرک په خوښه هغه بوتلے ؤ".

اوس نکوره غلې شوه. هغې ؤکتل، لکه چې د هغې د سر نه يؤ دروند پېټے هغې پخپله کوز کړو (دغه پېټے کوزولو د پاره د مابتۍ د تپوس په وخت موسکا اوږه ورکړې وه). مابتۍ کټ کښې نېغه ناسته وه. د نکورې اؤ د هغې سترګو نه اوښکې څڅېدلې. ښکلې په کټ کښې نېغې ناستې مابتۍ ته اډانه شوې ده. څوک څۀ هم نۀ وائي. د ژوند نهويشت کلونه مابتۍ د دغه وړک زيرې لاره څارلو کښې تېر کړي وو. د هغې په څنو کښې د عزت خان د ږيرې نه ګڼ سپين وېښتۀ دي. عزت خان چرې هم هغې نه دا ګيله نۀ ده کړې، چې هغه خپل کور اؤ ورو له ډېر وخت نۀ ورکوي. هغه د هغې په خوي پوهه شوے ؤ. څو ځله عزت خان په هغې کښې د هغه دوکبيانې مابتۍ لټون ته زړۀ ښۀ کړو، کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکبیانه چې به هغهٔ په درینجقونو د خپلې خور خوا له په تللو هلته لیدله. هغه د عزت خان زېره لړه لړه ټوکېدلې وه اؤ هغهٔ د ښوونځي د سُور ګل توره ټوپۍ په سر کړې اؤ د ملېشې اغوستن اغوستې وو. عزت خان د سترګو ګوټونو کښې خپله دوکبیانه څارله. یؤ ځل خو قمرو هغهٔ ته اوبهٔ نیولې وې اؤ هغه دغلته ناست نهٔ ؤ. هغه خو دغه وخت د بکیاڼې لاندې کټ کښې پروت ؤ اؤ د هغهٔ دوکبیانه هغهٔ ته په سینه پرته وه اؤ خپل اومه اننګې ئې د هغهٔ مرۍ پسې مښل. هم دغه ورځ نه خو قمرو خپلې مور ته وئیلي وو،

"زما غېږه کهٔ الله ډکه کړې هم نهٔ ده، خو مابتۍ باندې زما د خپلې لور مینه ماتیږي. په سا څهٔ باور، خو ما وې، چې کهٔ مابتۍ د بل کور په ځاے زمونږ د عزت شي؟"

دغه غوښتنه ځامورې ابۍ ریښتونې کړه اؤ د عزت خان د وادهٔ نه وروستو هغې ؤمنل، چې هغې د مابتۍ ځاندره اؤ مخ کښې خپله قمرو بیا ؤلیدله.

نکوره تلې وه اؤ ښکلې ډېر وخت پورې مابتۍ ته اډانه وه. عزت خان خپل مشر ځوے هم راؤغوښتلو اؤ پانوس هم راغلو. نکورې هغوي ته د ځیرک خان درک برڅېره کړو.

"د نیمشورخان پلار زمونږ پخواني کور کښې دے. هغه د ځیرک خان ځاے پیژني، خو ځیرک خان نهٔ پیژني".

لکه نیمشورخان هم نکورې دغه خبره کښې ځان سره ملګرے کړے ؤ. هغه لکه د خپل سُخر په دربمه میاشت کلي ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ځله هغۀ نکوره کراچۍ ته د بوتللو خبره څرګنده کړه، خو نکورې غاړه ایښې نۀ وه.

"سبا ولې؟ نمر لا په سر ولاړ دے. چې څومره زر ؤرسیږ، دومره زر به زما ځیرک خان راولیږ".

میرلوس د مور خبره غوږځولې نۀ شي. هغۀ پلار ته ؤکتل اؤ هم په هغه وخت هغه د پانوس خان سره غوټه تړلې د رنګانو پخواني ښار ته روان شو، کوم چې اوس د بلاګانو ښار دے.

مړغیژنه مابتۍ ژوندۍ شوه. هغې د خپل کور نه دوړې ؤڅنډلې. هغه غواړي، چې د ځیرک خان هرکلے د خپل کور انګڼ کښې ؤکړي.

"هغۀ کښې خو به اوس ډېر بدلون راغلے وي (مابتۍ په ځلقېدلو سترګو کمیلې ته ؤوې اؤ بیا ښکلې ته مخ واړوي) هغه به ما ؤپېژني؟"

د ځیرک د راتلو زیرې سره مابتۍ ښکلې هم بخښلې ده.

مابتۍ ګرځنده کښې تار اچولے د پخلیځاے د برګې نه ځوړند کړے دے. دغه ځاے نه په خبرو کولو هغه د ویونکې په غږ پوهیږي. زیاتره برېښنا نۀ وي، هغې اوس د پخلیځاے نه درېسوچے غځولے دے، چې ګرځنده په برېښنا موړ وي.

د سیاست لوبغاړي د نوې لوبې تؤدولو د پاره د سیلۍ څپو ته ناست وو اؤ اوس ئې بیا د پاکستان لاره نیولې ده. د تلوزیون په هر اړخ د اولس لوي شمېر خپلو لاربنودانو ته هرکلي وئېلو د پاره ښودلي کیږي. د بمونو چؤدنې اؤ ځانمرګي بریدونه ډېر شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. راتلونکو تاکنو د پاره هر چا ځان له لويه څوکۍ خوښه کړې ده اؤ په دغه څوکۍ ئې ځان نه چاپېره په وړو وړو څوکيو نېنځکان کښېنولي دي. لوي نېنځک به د لوي بادار نېنځک شي، چې بادار شي اؤ واړۀ نېنځکان به ئې بادارګوټي شي. اؤ اولس......... هاهاها.

د پاکستان سياست چقوړه اؤ خوئېنده لاره ده. د دغه لارې لامبوزن اؤ لوبغاړي دغه چقوړو اؤ خوئېندو باندې د تللو چل اؤ توان لري. د افغانستان په خاؤره د امريکا اؤ شوروي اتحاد نخښته کښې چې د پښتونخوا په خاؤره څومره د ورانۍ، فساد اؤ وژنو بزغلے کرلے شوے ؤ،اؤ د کومې نخښتې غړ شوے ؤ، هغه نخښته د غرونو د څمڅونو نه لارو اؤ بازارونو ته راووتله.

د مرګ څېره کۀ هر څومره کرکژنه اؤ بوږنوونکې ده، خو ژوندي د ژوند پرېښودلو ته غاړه نۀ ږدي. د ښار زوړ غلے شوے نۀ ؤ. اوس تاميان هم راغلي دي. چرته چې وادۀ ښادي وي، هلته اوس د بدکانو سره سره تاميان هم وي. ځنې ځايونو کښې خو تاميانو د بدکانو نمړۍ ؤترړولې. دغه ځلمي وېښتۀ د فلميانو غوندې ؤتراشي، څټوکي ځوړند کړي، واړۀ تنګ اغوستن واغوندي، شونډې ؤخروي اؤ پرديو ښاديانو کښې نڅېږي.

نمر د نور کله نه ډېر روښانه اؤ ځلنده دے. د ښار هرې لار، هرې ګرځؤنې اؤ هر ګوټ پېر د شهيد د مزار ډول خپل کړے دے. بېرغونه اؤ توغونه د سيلۍ سره رپېږي. د راتلونکې شېبې نه بې پامه اولس د خپلې برخې نمړيو يؤ ځاے کولو د پاره هلوځلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې بوخت دے.

چغمتې د خپل پلار ټوپک اوږې ته ځوړند کړے دے. د موسکۍ د وژنې نه وروستو د چغمتې پلار څلوېښت کلونه دغه ؤګرځولو اؤ بيا يوه ورځ پخپله هم د خُدا ے د کور په درشل ؤويشتلے شو.

چغمتې د خپل پلار وينه د هغه چا په لاسونو هم ويني، چا چې د دۀ د پلار د وينا تر مخه د دۀ مور وژلې ده اؤ د خپلو ماماګانو په لاسونو ئې هم ويني، چا چې د چغمتې پلار د دوي د خور وژونکے ګڼلو. بيا هم چغمتې لاپرېکړه کړې نۀ ده، چې د خپل پلار د وينې د پاره د کوم رنګ وينه توي کړي.

"ځيرک خان دلته اوسېږي؟"

د ور په ډبولو د بېرته کېدلو نه وروستو د سماره په ليدلو نېمشورخان پوښتنې نه اګاهو لږ غلے شوے ؤ.

"دلته خو به دغه نوم څوک نۀ اوسيږي".

"څوک دي؟ دننه ئې راوله!"

هېلن په سماره غږ ؤکړو اؤ سماره د هغې په خبره مېلمانۀ دننه بوتلل. انګڼ کښې ناستې هېلن درې واړو ته ؤکتل،

"څوک غواړې اؤ څۀ دي؟"

"دا (نېمشورخان پانوس ته ګوته ؤنيوله) د ځيرک خان ترۀ دے اؤ دا (ميرلوس ته ګوته ؤنيسي)، ځيرک خان د دۀ ماما دے".

"دلته څوک ځيرک خان نۀ اوسيږي".

"زما سُخر وئيل، چې دلته د هغۀ نوم (هغه خبره کښې سا ؤخوري) زرکه دے".

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلن د خپل ځاے نه نېغه پاڅي. هغه دوي ته ؤګوري اؤ سترګې ئې په اوښکو ؤځلیږي. هغه دومره پېژني، چې هر وخت به زرکې مابتئ یادوله. هغې ته ټولو خپلو کښې مابتئ اؤ کمیله یاد وو اؤ چې کله به ورکه شوه، نو هم د هغوي خبرې به ئې کولې.
نیمشور، پانوس اؤ میرلوس ټیټې سترګې ولاړ وو. پانوس خو داسې ګڼل، لکه چې هغه په زمکه ولاړ نۀ وي، ټوله زمکه د هغۀ په سر پرته وي.
"زرکه بهر وتلې ده. مېرابان کله کله هغه ځان سره ؤباسي، ګنې پخپله خو هغه د دې ځلورو د بوالونو څخه وتل نۀ غواړي".
"هغوي به کله راستنیږي؟" (میرلوس باندې پوهه نۀ شوم، چې هغه د غلته نه زر وتل غواړي اؤ کۀ د خپل ټولو نه زیات یاد شوي ماما لیدلو ته لېواله دے)
"چې کله د مېرابان زړۀ ؤمنل".
"مونږ کۀ ورپسې ؤځو، نو څنګه به ئې ؤپېژنو؟"
"زۀ به درسره لاړه شم"
(دې نه نوره غوره خبره څۀ کېدلې شوه، خو بیا هم دغه منلو کښې دوي څو شیبې واخستلې)
"دا خو به نوره غوره شي".
هیلن مخکښې شوه اؤ نیمشور، پانوس اؤ میرلوس هغې پسې شول. په لاره هغوي څو ګامونه د هیلن نه وروستو تلل اؤ هیلن به د زرکې په اړه هغوي سره خبرو کولو ته پښه نیولې کېدله.....
"زرکه اوس پورې د مابتئ اؤ کمیلې نومونه اخلي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل هغې ؤلیدل، چې کور کښې د هغې بدرګه کېدلو ته دوې ولې غاړه ایښودلو کښې ځنډ وهلے ؤ. اوس چا هم څۀ نۀ وئېل. هېلن هم هغوي سره د ګامونو بېلتون اؤ غلې بدرګه ؤساتله. هغه پوهه شوه، چې د خویونو دغه توپیر چې د یوې لاروی سره دومره دے، نو د خپل کور زرکې سره تړون کښې به څومره زغم ؤ؟

د ښار زوړ غلے نۀ ؤ. دې زوړ کښې د سورلیو کړینګا اؤ غرا، په ګرځنده د خبرو کوونکو غړونه، د اخستونکو اؤ خرڅوونکو وېنا، سندرې اؤ نور سم ډېر ګڼ غړونه.

ناڅاپه یۀ لوي ګړځ شو اؤ دغه ګړځ نور تول زوړونه ځان کښې ؤنغښتل. تک تور لوغړن لوګي خوارۀ شول اؤ دغه لوګي پخپل سر اخستې لمبې اوچتې شوې. د ګړځ د غړ ناستې سره اوس دغه زوړ د وېرې، ترهې اؤ څړیکې رنګ واخستلو. خبرې اوس چغې شوې وې. چاپېره غوښې خورې وې. دې غوښو کښې د وګړي اؤ د څاروي غوښه پېژندل ګران شوي وو.

څو شېبو کښې د پولسانو اؤ د امبولنسونو د راتلو غړونه واؤرېدلې شول. ژوبلو اؤ مړو ته اوړې ورکړې شوې. کله چې د ماسپخین په بانګ نمونځونو د پاره بلنه ورکړې کېدله، دغه وخت پورې هغه لارې بیا وینځلې کېدلې. د مړو پېژندګلو د پاره اولس یوه ګنه ګونه راخستې وه. دغلته ننداره کوونکي هم ګڼ شمېر کښې وو. اوس هېلن سره نېمشور، پانوس اؤ مېرلوس اوړه په اوړه ګرځېدل. د زرکې اؤ مېرابان لتهون منځ نه توپیر وړے ؤ.

"دا مېرابان دے اؤ دا" (د هېلن مری اؤ ژبه ؤنخښتل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېراباِن مخ پېژندلے کېدلو اؤ د زړکي مخ ټول سوزېدلے ؤ. زړکه د هغې د ښخونک اغوستن په رنګ پېژندلې شوې وه. پانوس به کلي ته څېرک خان وړي، خو هغه زړۀ کښې کړي ربېي، چې ايا هغه لکه د پرځندکاکا په نېمشورخان خپل زړۀ ډاډه کولے شي؟

هېلن اوس د دغه کور د مشرتابۍ پېټے په سر اخستې ژوند کوي. هغې د رنګ اؤ څهرې نه پيرنګۍ ښکاري. خپل مور پلار ورته نۀ ياد شي اؤ نۀ پېژني. دومره ورته ياد دي، چې هغه راتښتولې شوې وه، نو هلک ؤ. چې لويګانې شوه، نو جينۍ. د هغې ناسته پاسته کښې به ښودنه کېدله اؤ نوره جينۍ کولو کښې پرې ډېر کړاؤ تېر شوے ؤ. د پېدرګل ښځه شنډه ده، خو هغه پرې بن نۀ راولي. هغه د مُلا څاښتونو، شُنه چيرړۍ کښې په سپين تار تړلو تعويزونو، زيارتونو کښې څانګوګانو څوړندولو، د باباګانو په نومونو منښتې ورکولو، د حکيمانو پوهيو اؤ د ډانکټرو ښونو اؤ دوايانو ته ناست دے. په هغۀ چې پخپله څۀ کول دي، څومره خوځېدل دي، هغه کوي، نور کارونه د خُدا ے.

د ژوند سندرې اؤ ساندې نۀ غلې کيږي.....

يۀ غړ بل غړ خُوري.....

زېرے د سلګۍ ښکالو ته په خلۀ لاس ږدي.....

پانې اؤړي اؤ قلم نۀ ؤدريږي.....

نمرپرېواتۀ د پېغلې په نکريزو سُور شوے لاس ښکاري. مابتۍ خپل پروڼے څان پسې راکاږي، ميرلوس لاس نه نيولې کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي. ادیرې نه لرې تلو باندې هغه وډریږي او خپله مُلا باندې لاس ایښے د ځیرک خان قبر ته وګوري (میرلوس ورسره وډریږي، خو مخ را و نۀ ګرځوي).

هغه په قبر د بلې کړې شوې ډیوې تته تته رڼا وینې.

د خاؤرو لاندې مابتې ته نۀ ښکاري، چې د هغې ځیرک خان پروت د ے اؤ کۀ د نورو ګنهو ځاندرو راټولې شوې، ژوبل ژوبل نوستلې برخې.

د ځیرک خان جنازه کښې ډېر اولس و.....

د هغۀ خپلو اؤ پردو ډېر ژړلي وو.....

خو د هغۀ مور اؤ پلار هغه ډولۍ ته لاړه کښې هرکلي د پاره اوس هم ولاړ دي، کومه ډولۍ کښې چې به نیازبینې پرښتې د هغۀ سا وړې اؤ حورې اؤ غلمان به جنجیان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضيحات

پخليځاے کور/دېره کښې پخلي کولو د پاره کوټه/کوټګۍ
مَنا کور/دېره کښې ناستې د پاره چوپال/څپر
کارږه د لرګي پنځۀ داسې تختې چې هغه يؤ څپق نه لرې پلنې وي اؤ يوې ګوتې نه لږې نرۍ وي. دغه تختو کښې دوه ولاړې تختې اوږدې وي. يوه وړه تختۍ تولو نه ښکته اوږدو تختيو سره کلکه کړې شوې وي اؤ يوه وړه تخته د پورته اړخ نه يؤ نيم/دوه لوېشتې ښکته کلکه کړې شوې وي. د اُوږدو تختيو بره اړخ نه مېخونو د پاره سُوري شوي وي اؤ پنځمه وړه تخته دغه سُوري کښې د ضرورت تر مخه ښکته بره کولې شي. دا د پرتوغاښ ښلو د پاره پکارولے کيږي
نخول د نڅا (ګډا) فعل
وړانګه پلوشه/ کرن
توندي تادي/زر زر
خپسه کښېناستل په وران اړخ داسې اودۀ کېدل چې سا اخستلو کښې ستونزے وي (کله کله خوب کښې څوک ځان ويني، چې منډه وهي اؤ منډه وهلې نۀ شي، نو وائي، چې خپسه پرې ناسته ده). دلته د ناراستۍ د پاره پکارولے شوے دے
اوکر بې ځايه شول وارخطا کېدل
تېر غلطي
انځور تصوير
ورنيے هغه ځلورګوټيز څپوټکے چې کوچيني پکښې د سيزنۍ سره ترلے شي
شنشنيے (دا شنشنيے دے، خو د کوچنيو په ژبه ليکلے شوے دے) داسې يؤ د لوبو کولو توکے چې غونډ منډ لوښي کښې دوه درې ګيټۍ/ کاڼي بند شوي وي اؤ په خوځولو د "شڼ شڼ" غږ کوي
ميرګاټې ميرګاټي يؤ ډول د وړو جينکو لوبه ده، چې ځلورو ګيټکو/کاڼو اؤ يؤ ټوپ وهونکي پنډوس سره کيږي. د دې لوبې خپلې پؤړۍ وي، چې هغې کښې ايکي، دوکي، ايشارت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضیحات

| | |
|---|---|
| دوکبیانه | نوي/پېغلوټې اسپه |
| بمبته کول | د چا سپکاوے کول |
| تهوکے | ناګنډلے اغوستن/ناګنډلي جامې/ ربنت |
| لاسپیلے | دستانې |
| چاریګۍ | ګاڼې. کښې د ګوړې پُور په شګلنېدو راغونډولو دَ پاره پکارولے شي |
| ګاؤنړے | ګاڼې. کښې په کړي کښې پروت پُور لړلو د پاره پکارولے شي |
| پاراموځې | دا د الوچو یؤ نوغے دے |
| کوړمه | د یؤ سرې ښځه اؤ واړهٔ |
| کښت | پتے |
| خیرک | پوهه لرونکے (دلته د کردار نوم دے) |
| مُوټراپنه | خوارینګړې ښځه / بې خونده ښځه |
| بیاسته | پړے / رسۍ |
| پلورنه | د یؤ څیز بدل کښې بل څیز په بدل اخستل |
| موړه | اوچت ځاے |
| پېلام | نخښه / علامت |
| سپارښتنه | څهٔ کار چا ته سپارل (خو چې زور پرې راؤړے شوے وي) |
| پرېکړه | فېصله |
| سْره بیزه | دا هم د یوې سْرې بیزې/چېلۍ قېصه ده، چې کوچنیو ته کیږي |
| چتے پتے د نانې ګنګنتې | CHATHEY PATHEY DA NAANI GANGANATHEY<br>د کوچنیوالي د وختونو یوه قېصه، چې کورونو کښې کوچنیو ته کیږي. |
| ملازه | د چا ناز وړل |
| سېکل | سائیکل |
| وګړے | انسان / فرد |
| مېرمن | ښځه / کورودانه / تورسرې |
| تړون | رشته / ربط / خپلوي |
| ټولنه | معاشره |
| زوږ | شور / ګڼ غوړونه / اوچت غږ |
| دړۍ | څلور سېره/ پنځهٔ کیلو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضيحات

| | |
|---|---|
| پېرزو | په چا سود کول |
| سُتنوسُتر | داسې ملاسته چې څوک نېغ پراته وي |
| ناېکټه | دائي / په اجرت خدمت كوونكې ښځه |
| کهول | نسل |
| اړم | بوخت / مشغول |
| چيرړۍ | کپړې / رښت |
| اوبۀ ډب شوې | اوبۀ يۆ زور ځاے کښې راغونډې دل |
| څاښتې مال | د نمر ختلو نه وروستو وخت / اشراق |
| امبولنس | اېمبولېنس / روغنتون ته د ناروغو د وړلو ځانګړې لارۍ |
| کلی ورکول | واړۀ خپلو کښې دونې وائي اؤ چې يۆ له نۀ ورځي، نو هغه بل نه د دوني ځواب اخستلو د پاره کلی ۆغواړي اؤ هغه ورته بيا وائي، چې پلانکی کلی خُوره!/پلانکی کلی واخله! |
| د نمر سترګه داغل | پخوا وهم باندې اډانه دا يوه عقيده وه، چې کۀ بارانونه به نۀ ۆدرېدل، نو د اور يۆ لرګے به واخستے شو اؤ انګڼ کښې د اوبو وړوکي غوندې ډنډ کښې به چې څنګه د نمر سترګه ښکاره کېدله، دغه لرګے کېښودے شو، دې ته به د نمر سترګه داغل وئېلے کېدل اؤ دا باور به ورسره تړلےشوے ؤ، چې ژر‌ۍ به ۆدرېږي |
| پېنځه خيرې کول | لکه څنګه چې به پېنځه پاڅترېدل د مېلمه د راتګ پېلام ؤ، دغسې به چې کله ژر‌ۍ اوږده شوه، نو ناوک ته به ملګرو وئېل، چې خپله پېنځه ۆشلوي/خيرې کړي اؤ دې سره به ئې هم د نمر سترګه داغلو باور تړلے ؤ (کله کله به ئې کار هم ۆکړو) |
| درې درې! د وريځ... | دا دلته د قېصې د خوند د پاره ليکلي شوي دي. دا ډول هېڅ باور پکار نۀ دے. مونږ باران ورېدل اؤ ۆدرېدل د ماحولياتي اؤ موسمي اثراتو نتيجه ګڼو |
| کانديد | اميدوار / Candidate |
| نينګاني | د لرګي څلور داسې ډکې به واخستلے شول، چې دوه اړخونه به ئې هوار وو اؤ دوه اړخونه به ئې موړه. دا څلور واړه به په يۆ لاس کښې ۆ نيولےشول اؤ بيخي داسې کرښې به راکښلې شوې وې، |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه چې د زمري لوبې د پاره په خاوره راکښلې کيږي، دا ځلور ډکې به د دغه کرښو منځ کښې ؤغورځولې شول. کۀ ځلور واړه هوار مخونه به بره راغلل، نو دې ته به ئې ځلور لوښتې وئېل، کۀ ځلور واړه مورې به بره شوې، نو دې ته به ئې نهه نينګانې وئېل، کۀ دوه به پاځتر شوې اؤ دوه سمې، نو دې ته به ئې دوه ګوتې وئېل اؤ کۀ درې به پاځتر شوې اؤ يوه سمه، نو دې ته به ئې ځپق وئېلو. (پاځتر= موړه ښکته راتلل). لوښت، دوه ګوتې اؤ ځپق ښکاره دي، خو نينګانړې به داسې ؤ، چې مسواکه ګوته اؤ مته ګوته به ئې ؤغځول (ځنګه چې لوښت د پاره قچه ګوته اؤ مسواکه ګوته غځيږي) اؤ هغې سره به ئې د ځلورګوتيز لاره وهله. څوک چې به زر ؤرسېدلو، هغه به بريالےشو. دې کښې دوه دوه ملګري وي. ا دې ته کړانچه هم وئيلې شي

میرګاټي — میرګاټي د جينکو لوبه ده. ځلور واړۀ کاڼي اؤ يؤ ټوپ وهونکے پنډوس پکښې پکارولے کيږي. د دې هم خپل پړاوونه وي (ايکي، دوکي، ايشارت.....) يؤ لاس په زمکه داسې ايښودلے کيږي، چې د متې ګوتې سر اؤ د شاغوتۍ ګوتې (منځ) په زمکه پروت وي اؤ مسواکه ګوته په شاغوتۍ ګوته اچولې شوې وي. په بل لاس پنډوس بره ويشتلے کيږي اؤ د هغۀ ټوپ سره د لوبې تر مخه کاڼي د بل لاس ګوتو نه روغه شوې کوټه کښې ننيستلې کيږي. کۀ پنډوس دوېم ټوپ ؤوهي، نو د لوبغاړې دغه پېر ؤسوزي

پټپټونړے — پټپټوني کښې يؤ دواړه سترګو ته ځنګل نيولے د دېوال چنې ته يا ؤنې ته مخ کړي اؤ نور ترې بېلو بېلو ځايونو کښې پټ شي. پټېدونکي چې کله ؤګڼي، چې اوس دېوال يا ؤنې ته شا کړے هغوي موندلے نۀ شي، نو "اپې" غږ ؤکړي. دا ورپسې ورشي. کۀ څوک د وختې ځان دغه ځاے ته ؤرسوي، نو هغه بريالے شي اؤ چې کوم ګېر شي، نو هغۀ ته " چوپ شوے" وائي اؤ بيا هغه غل شي، دېوال يا ؤنې ته شا کړي.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضیحات

چپاتۍ — چپاتۍ داسې وي، چې د لاس دوه ګوتې (مسواکه او شاغوتۍ) غبرګې کړې شي او لېچه پرې ؤوهلې شي. دغه چپاتۍ په شمېر ورکولې شي

کونتره — کونتره داسې وي، چې خولۍ/ټوپۍ واخستلې شي. هغه لړه اوچته ؤویشتلې شي او د دغه خولۍ لاس ته راتللو پورې د غل سر له څپېړه ورکړې شي

ډینګان — د غل تلي کښې به کوتوال د خپل لاس څنګل کېښودله، پنځهٔ واړه ګوتې به ئې یؤ ځاے کړې، او د دغه ګوتو په نېغو شوؤ سرونو به ئې د غل د څنګل او مټ منځ کښې ټک ورکړو.

شلغاتي — واړهٔ دوه ډلې شي. هره یوه ډله د خپل مشر سره ؤځي او په دېوالونو او بلیو باندې وړې وړې کربښې د بلې ډلې نه پټې راکاږي. دغه وړو وړو کربښو ته شلغاتي/شلغلاتي وئیلي کیږي. یوه ډله خپلو ملګرو سره غوږ شوه او بلې ډلې له به ئې د شلغاتو د شمېر بلنه ورکړه. داسې به دواړو ډلو پېر په پېر د یؤ بل شلغاتي ؤشمېرل او ډېر شلغاتي راکښونکې ډله به بریالۍ شوه

کوډکۍ — دا خو به وړې وړې خاؤرینې کوډکۍ خاؤرو یا ختېو نه روغې شوې. واړهٔ هلکان به سرې شول او وړې جلکۍ به ښځې شوې او دوي به دغه د کور د خپل مور پلار د ژوند پېښې کولې. دا په یؤ ډول د راتلونکي ژوند د کوړمې روزنې د پاره عملي ښوونځاے ؤ.

د ګوډا ګوډۍ وادهٔ — دا لوبه به وړو جینکو کوله. نېنځکه به کلابوځي ته ودېدله او دا هم د راتلونکي ژوند د پاره زده کړه وه.

لالښنده — ستړے او خواشین

د اپیمانو باغ — وائي چې څو اپیمیان وو. یؤ اپیمي پکښې ؤوې، چې دې مخامخ ډاګه کښې د شلتالانو باغ کرو. یؤ اپیمي ؤوې، چې هسې نهٔ بیا ترې د ګلي کاکا ځوے شلتالان شوکوي. بل ؤوې، چې ګلي پکښې مونږ سره ګوډ کړے دے، چې ځوے به ئې شلتالان شوکوي. درېم راؤدانګل او ؤ ئې وې، زاره دې پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ شنه شي اؤ شلتالان دي د ګلي څوے شوکوي. راځئ چې ؤ ئې ډبوو. دوي ورغلل اؤ د ګلي څوے ئې ؤوهٔ.

ارنګ دوړنګ — دا هم یوه لوبه وه، چې پیر، باچا، وزیر اؤ غل به پکښې مېرلي کېدل. د (اکوبکوسرسیندکو) غونډې د دې هم یؤ منتر/وېنا وه، چې هغه به داسې وه[ ارنګ - دوړنګ - سپارا - اتڼګ - انار - بګور - پیر - وزیر - باچا]

بدک — ښځونک / هېجړا

مېراباڼ — ګُرو (د یؤ څپر لاندې اوسېدونکي بدکان څان له یؤ مېراباڼ ؤټاکي. مېراباڼ د دغه ښځونکو پاملرنه اؤ ساتنه پخپل سر واخلي. ښځونک د خپل مېراباڼ سره د خپل مور پلار نه زیاته مینه کوي) د دې مینې یؤ مخ داسې ښکاري، چې خپل مور پلار دغه ښځونکو نه څنډه ؤکړي، خو مېراباڼ ئې خپل کړي.

ګرځؤنه — چوک

سپیناوے — وضاحت

ارزښت — قیمت / قدر

ایرزړے — د وېرېدونکي زړهٔ څښتن

سؤ اؤ سور کښې — سؤ کښې: څهٔ ګتې ته ډېره ساه راښکل
سور کښې: په څهٔ ګته د زړهٔ سود کېدل

څاندره — بدن

مېرګي — مېرګي چې انګرېزۍ کښې ورته Epilepsy وئېلې شي، یؤ داسې رنځ دے، چې په دې کښې د رنځور ککرۍ کښې یؤ رګ ؤنخښلي اؤ دغه رګ نخښتلو سره د هغه اعصابي نظام په ځاے ؤدرېږي. دغه رنځور خپل ځان اؤ خپل زور باندې نه پوهېږي. د دغه رنځ نه اوس د ژغورنې لارې راوتلې دي.

تېون شوے — نشه کښې خپل توان اؤ توازن بېلونکے

خرک — نخښه / پېلام

ترېدلې — وېرېدلې

پېژند — شناختي کارډ / Identity Card

ناویاته — زړهٔ ته ډېر نږدې / اکلوتا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضیحات

| | |
|---|---|
| ساپوهنه | نفسیات |
| جیغ | جام/د اوبو څښلو لوښے/ ځینګړے |
| رغوے | د لاس تلے |
| لپړي! دوه دې خړي | دا هم یوه لوبه ده. دا لوبه راتلونکي کښې هم په خسني پرېکړې ته یوه وده ورکوي. دې لوبه کښې دوه ډلې وي. د یوې ډلې نه یؤ ملګرے د خپل سر شا ته دواړه لاسونه پټ کړي اؤ د ښي لاس د ګوتو نه یوه نخښه روغه کړي اؤ هم په دغه وخت دۀ ته مخامخ ولاړ د دوېمې ډلې یؤ ملګرے هم خپلې شا ته نیولي لاس نه یوه نخښه روغه کړي. د منځګړي په غږ (لپړي: دواړه ډلو غړي چمتو شي اؤ دوه دې خړي: سره خپلې نخښې راؤپلي) د دواړه ډلو دغه ملګري خپل لاسونه ښکاره کړي. د تکړه پېلام لرونکي ډله بریالۍ شي (نخښې داسې وي: د لاس متې ګوته نېغه نیولې اؤ نورې ګوتې راغونډ ساتل د تېپک، نورې څلور ګوتې راغونډول اؤ مسواکه ګوته نېغ نیول د غشي اؤ نورې درې ګوتې راغونډ ساتل اؤ مسواکه اؤ شاغوتۍ ګوته نېغ نیول د قېنچۍ پېلام وي) غشي نه قېنچي اؤ قېنچۍ نه تېپک تکړه وي اؤ تېپک نه غشے تکړه وي |
| څپوټکے | د ربنت څلور ګوټېزه ټوټه / دسترخوان |
| چړچقې | پړقې / خوشالي څرګندول |
| برونه | هغه ورۀ چې تنور کښې ډوډۍ پخولو وخت کښې په پېړه دوړولي شي |
| ګا-ما-پا-دا | دا بهیرمي راګ دے. چې لوګري ساز د پاره غږولے شوے دے |
| لے | د ساز اهنګ ته وائي |
| تاپ | د دوکړۍ اهنګ |
| پاړرېړ | خزان |
| کلے ورکول | دا به دونه وئېلو کښې وئیلي کېدل، چې کله به یؤ دونه باندې نۀ پوهېدلو، نو بل به ترې ځواب اخستلو د پاره ؤوې، چې پلانکے کله واخله/خوره |
| ویرندک | ډېر وېرېدونکے |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضيحات

| | |
|---|---|
| مونډ | جرړه / ځېله |
| تور زړۀ | بدنيت |
| پرڅمن | چې کلک نۀ وي/ خپلو روايتونو اؤ کلتور نه په شا تلونکے |
| مهاجر | خپل زېږون سيمه پرېښودل اؤ بلې سيمې کښې مېشته کېدونکے (دلته دا اصطلاح د هند هغه مهاجرو د پاره پکارولې شوې ده، کوم چې هند نه راغلي وو اؤ کراچۍ کښې مېشته شوي دي. زمونږ په اند دغه اوس مهاجر نۀ پاکستاني دي. په کراچۍ کښې د دوي زياتره تريخوالے د پښتنو سره وي اؤ د دې په شا هغه پليت سياست دے، کوم چې پاکستان کښې د پښتون قام تيټ ساتلو د پاره خپل کړے شوے دے. لکه کراچۍ کښې چې په لکونو پښتانۀ اوسيږي اؤ هغوي ته د کراچۍ د پېژند نۀ ورکولې کيږي. بايد ټول قامونه يؤ بل ته درناوے ؤلري. له بده مرغه مهاجر بللے کېدونکي هم د دغه پليت سياست کوونکو مْلاتړ کوي. |
| چيره کېدل | د هغه ښځونک د پاره کوم چې خپل د سرې زور اوبۀ کول غواړي، و هغې د پاره په زړو وختونو کښې دغه لاره خپله کېدله (لکه څنګه چې قېصه کښې مېرابان پوسجيرشا چيره کړي). دې نه پرته د سرې د ښځونک کولو نورې لارې هم شته. د ښېلګې په توګه په سوتلۍ باندې غېږ/خوټه دومره کلک تړل چې پټې ورله چيرړۍ کړي. دغسې ځانګړې پونۍ هم دي، چې هغه په سرې ؤخوړلې شي، نو د هغه بيا نۀ لګيږي اؤ نۀ د ورو د زېږولو توان لري. |
| بُوکه کېدل | د دواړو لاسونو څنګلونه اؤ د پښو کونډۍ په زمکه ايښودلو ته وائي. جنسي توګه باندې د يؤ غاړه ايښودونکي تيټېدلو ته هم وائي. |
| پوهنتون | يونيورسټۍ (د زده کړې ټولو نه لوي ځاے) |
| هېواد | وطن / خاؤره |
| اکسلاټر | ايکسلريټر (accelerator) |
| اياتولا | حيات الله (د ليکوال نوم دے. د پښتو ژبې وئېندود (لهجه) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې لیکلې شوې)

| | |
|---|---|
| زیړه ساړي | زیړ رنګ ساړهي (اغوستن چې هندوانې ښځې ئې اغوندي اؤ دغه سیمو کښې پاتې شوې مسلمانې تورسرې ئې هم د کلتور په برخه کېدلو اغوندي) |
| کشکړپ | ښکالو/ د خوځښت غړیز پېلام |
| شیوا | په هندو مذهب کښې دا نوم "اردهنارېشوارا" (اَرْدَنَارېشوارا) وئېلې کیږي. د دۀ د ځاندرې ښې اړخ د سړي اؤ کین اړخ د ښځو غوندې وي. "وید" کښې د وګړي درې خویونه وړاندې شوي دي اؤ په "پُرنونو" کښې د موسیقۍ اؤ نڅا درې اړخونو کښې یؤ "اپسرا" (ښځه)، یؤ "ګندروا" (سړی) اؤ یؤ "کېنار" (منځګړې) دې. دغسې په "کاماسترا" کښې هم په دې لړ کښې خبرې شوې دي اؤ دې کښې "پوم پُرکْتري" (سړي)، "سْتَري پُرکْتري" (ښځې) اؤ "تیریتیا پُرکْتري" (منځګړي/ ښځونک) د پاره پکارولې شوې دې |
| مشرتابه | مشري (د کور/جوړښت/ټولنې واکونه لاس کښې اخستل) |
| برید | حمله کول |
| ډبوسکۍ | پېړه/ مونږ زیاتره هغه چا د پاره ډبوسکۍ/ ډبوسکےنوم پکاروو، چې هغه پېړ اؤ پوست وي اؤ بیا په ځانګړې توګه چې غمبوري ئې غټ وي |
| خوړده | خوړده خو ځانګړې خبره هغه وخت شي، کله چې څۀ مالګه یا بل څۀ د زیارت یا داسې بل مخؤریز ځاے نه واخستلے شي/د خوړلو توکے |
| کندم | نیمګړے / نیمه خوا |
| په ګېډۍ لؤ | د غنمو رېبلو کښې داسې ؤشي، چې کۀ کروندګر یا بل یؤ وګړے په پردي کښت کښې لؤ کوي، نو هغۀ د پاره شمېر ؤټاکلے شي. په شمېر د زیاتې ګېډۍ بوس اؤ دانې د لؤ کوونکي وي |
| پچموزه | ټوقه/ملنډه/ چا ته سپک کتل |
| شونډه شْنه کېدل | د ځلمیتوب په پؤړۍ پښه ایښودل / بربت ټوکېدل |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضیحات

| | |
|---|---|
| پنګه | خزانه / توښه |
| اغوستن | لباس / جامې / ګنډلې ربنت |
| عدوالرحمان | دا نوم دې قېصه کښې د دولاملا لخوا مولانا عبدالرحمان د پاره پکارولې شوې دې. "عدو" دښمن ته وائي. یؤ مُلا پورې ترلې نۀ ده، هر څوک چې د چا نه کرکه کوي، نو هغه ئې د سپکاوي هڅه کوي، خو داسې سپکاوي نه ښنده باید ؤشي، کوم چې د یؤ وګړي زړۀ توروي |
| تماس | اړیکه / رابطه |
| روزنه | پالنه / پرورش |
| ګرځنده | موبائېل فون |
| (د ګرځنده) تنې | د ګرځنده (موبائېل) بتهنې |
| بجازي | نا ګنډلې تېوکي خرڅوونکې |
| توغ | درې ګوتېز بېرغ |
| رنځپوه | طبیب / ډاکټر / روغتیاپال |
| شتون | وجود (لرل) / پېژندګلو |
| توپیر | فرق |
| سینګلې | جیڅ / جام / د اوبو څښکلو لوښې |
| ډولځاې | چاپ / د زلف تراش ځاې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کردارونو نومونه (وئېندود)

| | |
|---|---|
| قمرو | QAMRO |
| ښکلې | KHKOLEY |
| ناموس خان | NAAMOOS KHAN |
| ميرګاټے | MEERGAATEY |
| مابتۍ | MAABATAI |
| قدوس خان | QADOOS KHAN |
| پانوس خان | PAANOOS KHAN |
| فردوس خان | FIRDOS KHAN |
| بلقيس | BALQEES |
| ګلۍ | GOLAI |
| نمېرګل | NAMEYR GUL |
| خوبانه | KHOOBAANA |
| جالوس خان | JAALOOS KHAN |
| چغمټ | CHAGHMAT |
| پېغله | PEGHLA |
| مړڅپنه | MARR SAPANA |
| مشکۍ | MASHKAI |
| متهور | MATAWAR |
| ځاموره ابۍ | ZAAMOORA ABAI |
| کميله | KAMEELA |
| راپوړۍ | RAAPOGAI |
| موندر | MOONDAR |
| څمدوره | SAMDOORA |
| ځيرک خان | ZEERAK KHAN |
| کاکوان | KAAKWAAN |
| موسکۍ | MOOSKAI |

| | |
|---|---|
| خڑو | KHARROO |
| پوردلے | PORDALEY |
| ځیرکو | ZEERKO |
| پرځند کاکا | PARZAND KAKA |
| مېترے | METAREY |
| عبدالرحمان | ABDURRAHMAAN |
| مونپجرہ | MOONPAJARA |
| سپېدگلے | SEDGULEY |
| رامانے | RAAMAANEY |
| عزت خان | EZAT KHAN |
| سپېدامیر کاکا | SEDAAMEER KAKA |
| گلیشان | GULEESHAAN |
| میرزادگۍ | MEERZAADGAI |
| دولا مُلا | DOOLA MOOLA |
| جمالے | JAMAALEY |
| غرباش کاکا | GHARBAASH KAKA |
| شېرون | SHEROON |
| بنڈارے | BANDAAREY |
| گلباچا کاکا | GULBAACHAA KAKA |
| عبدالسبحان | ABDUSSUBHAAN |
| میراجان | MEERAAJAN |
| شیشڑہ | SHEESHARRA |
| نیمکۍ | NEEMAKAI |
| نکورہ | NAKOORA |
| مدھوبالا | MADOOBAALA |
| مینہ کماري | MEENAA KUMAARI |
| ثمینہ پیرزادہ | SAMEENA PEERZAADA |
| سمیتا پاتېل | SAMEETA PAATEL |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضيحات


| | |
|---|---|
| مېراباڼ | MERABAAN |
| مدهوش | MADOSH |
| مېتر خان | METAR KHAN |
| بهرام | BAHRAAM |
| زرکه | ZARKA |
| سميتا | SAMEETA |
| تاجو | TAAJO |
| ګل پرداز خان | GULPARDAAZ KHAN |
| ګل پري | GUL PARI |
| ميرلوس | MEERLOS |
| شېمين | SHEMEEN |
| روشني | ROSHNI |
| راني | RAANI |
| سرود خان | SAROOD KHAN |
| پوسجېرشا | POSJEERSHAA |
| هني | HONEY |
| آرا | AARA |
| کوشيليا | KOSHELYA |
| منيربابا | MANEER BABA |
| پوجون بابا | POJOON BABA |
| کوستان استاذ | KOSTAAN OSTAAZ |
| تازه نور بابا | TAAZANOOR BABA |
| پايودين بابا | PAAYODEEN BABA |
| شکور استاذ | SHAKOOR OSTAAZ |
| سابق صېب | SAABIQ SEB |
| سپدولي بابا | SEBWALI BABA |
| صلاح الدين کاکا | SLAAHODEEN KAKA |
| عزيز کاکا | AZIZ KAKA |


(c) ketabton.com: The Digital Library

## توضیحات

| | |
|---|---|
| هیلن | HELAN |
| نېنا | NENAA |
| نېمت | NEMAT |
| تېکارا | TEKAARAA |
| پېدرگل | PEDAR GUL |
| تېنتیس جان | TENTEES JAAN |
| اياتولا | AYATOLLA |
| باجوړ خان | BAAJAWARR KHAN |
| گولے | GOLEY |
| پېروشا | PEROSHA |
| جامنور | JAAMNOOR |
| زیب النساء | ZEBUNNISAA |
| نیمشور خان | NEMSHOR KHAN |
| **سماره** | SAMAARA |

(c) ketabton.com: The Digital Library




حیات روغانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hayat Roghani must be shut up with his "Waahiyaat" considered writings at once, because he has committed to born a lot before his time and now bringing some nonsense things from future to our times. The best solution I see for a compromised prosperity is to freeze all his creations and then melt it at appropriate time".

*Ali Baba*

هره ښځه اوُ هر سړي کښې دنته يوُ نېنځك پټ دی. دغه نېنځك د وېرې نه زېږيږي. زما درشل له وېره راغله. ما نه د ژوند مينه تروړل غواړي..... زما هيلې نه هځه شوکول غواړي..... ما په انا د کرکې وينزه کوي. خو زهٔ نهٔ وېرېږم.

زهٔ مينه د کرکې نه بريالی کنم.....

زهٔ هيله د انديښنې نه زوروره کنم.....

زهٔ به مرم. خو وياړېږم به. زما جنازه کښې به ډېر اولس وي. زما خپل به زما په مړي ژاړي. زما مور اوُ پلار به هغه ډولی ته لاره کښې هرکلي د پاره ولاړ وي. کومه ډولی کښې چې به نيازبينې پرښتې زما ساه وړي اوُ حورې اوُ غلمان به جنجيان وي.

http://www.facebook/roghanivision

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**